



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فرهنګیالی مبارز

## مولانا فضل محمود مخفي

www.melitahrik.com
0777 400 116

سرمحقق زلمی هېوادمل

١٣٩٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

## كتاب پېژندنه:

د كتاب نوم: فرهنګيالی مبارز مولانا فضل محمود مخفي

ليكوال: سر محقق زلمی هېوادمل

خپرندوی: د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

كمپوز: محمد شعيب شېرزی

پښتی ډيزاين: فياض حميد

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوكه

د چاپ كال: ۱۳۹۳هـ ش

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهدأ

**د فخر افغان، باچاخان بابا درانه نامه ته!**

بابا د مخفي له شعر او فکر سره عاشقانه مینه درلوده او د مخفي په باره کې د دوی یادونو زه د مخفي لوړ شخصیت ته لامتوجه کړم.

د فخر افغان بابا همدا یادونې، ددې اثر د لیکلو موجب شوې.

په ډېر ادب

ز . هـ

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

د الله تعالی په استعانت د ۱۳۷۱ هـ ش کال په اوایلو کې ما دا رساله په لومړنۍ بڼه بشپړه کړه. د هماغه کال په جوزا کې د تنظیمي اړو دوړ له امله زه له کابله ووتم او د شرقي افغانستان سیمو ته ولاړم. دا رساله مې پدې نیامت له ځانه سره وړې وه چې که چیرې د رسالې د بشپړتابه لپاره نوي مواد پیدا کړم او بل دا چې که یې په پېښور کې چاپ کړای شم.

په پېښور کې د خپلو ملګرو په مرسته د مولانا مخفي له یو دوستدار ښاغلي شلمان سره آشنا شوم. له ده سره د مخفي درې کتابونه هم وو او د مخفي په باب یې مطالعه کوله او مواد یې ټولول. خو تر هغه وخته یې پر مخفي نه څه لیکلي او نه څه نشر کړي وو. ما ښاغلي شلمان ته د مخفي په باره کې د خپلې لیکلې رسالې خبره وکړه. دی خوشحاله شو او رساله یې له ما وغوښته، بله ورځ ما رساله راوړه او ده ته مې وسپارله او ده هم اروابناد مخفي ته منسوب درې کتابه د کتو لپاره راته راوړل.

د پېښور په کتابخانو کې د مطالعې په جریان کې چې د مخفي په ارتباط څه مخې ته راتلل هغه مې هم یادښتول. په دې سلسله کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښور پوهنتون د پښتو څانګې استاد ښاغلي وحيد خپل تېزس را وښود چې د مخفي په باب يې څه مواد درلودل. څه نوي مواد چې مې راپيدا کړل، په رساله کې مې په خپلو ځايونو کې ورسول او پدې ډول رساله نسبي بشپړه شوه.

د چاپ په فکر کې يې شوم، د يونيورستي بك ايجنسي د خاوند ښاغلي اکرام الله سره مې خبره وشوه، هغه په ډېره مينه د رسالې چاپ ومانه، خو دا يې راته وويل چې خطاطي او پروف ريډينګ يې پرتا. ما ورسره ومنله چې دا کار به کوم، رساله مې د خطاطۍ لپاره خپل دوست ښاغلي سيد محی الدين هاشمي باچا ته وسپارله. باچا صاحب رساله خطاطي کړه او ما ولوسته، چاپ ته آماده شوه، خو مخکې تر دې چې يې د چاپ لپاره يونيورستي بك ايجنسي ته وسپارم، ښاغلي لطيف اپريدي صاحب ته د مقدمې لپاره وسپارل شوه. د لطيف لالا د ډېرو مصروفيتونو په وجه ددې رسالې پاڼې ترې بې ځايه شوې او رساله له چاپه پاتې شوه، خو اصلونه مې يې له ځانه سره وساتل.

کله چې له بې ځايه کېدو او جرمني ته له مهاجرت بېرته په کور شوم، د رواني هجري شمسي پېړۍ د اتيايمو کلونو په پای کې زما ډېر ګران دوست او د پښتو ځوان ليکوال او شاعر شهيد عبدالقديم پتيال د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس شو، د چاپ لپاره يې له ما د يو کتاب غوښتنه وکړه، ما په تشکر دده دا غوښتنه ومنله. د همدې رسالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوسیه چې مې راواړله، د مخفي په باب ځینې نوي چاپ شوي آثار او یادونې هم په دوسیه کې را سره وو.

پدغو نوو مدارکو کې مهمترین مدرك د ښاغلي شلمان انګرېزي مقاله: (مولوي فضل محمود مخفي) ده ځکه چې د مخفي د هلو ځلو او مبارزې په باب یې ځینې ښه مطالب پکې رابرسېره کړي دي.

ما له دغو ټولو نوو مدارکو زما د رسالې له شرایطو سره سم استفاده وکړه خصوصاً د ښاغلي شلمان له مقالې د استفادې موارد ډېر وو.

له دغو ترمیماتو وروسته رساله کمپوز ته ورکړل شوه، تر کمپوز او تصحیح وروسته مې د اعلامو فهرست ورته جوړکا، خو د څه وجوهاتو له امله رساله چاپ نه شوه او په ګډوډ حالت کې له ما سره وه او د مصروفیاتو له امله مې بیا ګوتې نه وې وروړې.

د روان کال (۱۳۹۳ هـ ش) د عقرب په میاشت کې پوهنوال محمد اسمعیل یون راته وویل چې زه څو کتابونه چاپوم، که له تا سره څه داسې کتابونه وي چې نه وي چاپ نو زه به یې په دې سلسله کې چاپ کړم.

ما په مننه ورته وویل چې ما ته به لږ موقع راکړې چې خپل کاغذونه وګورم. ما چې په خپلو ناچاپو لیکنو او تر کار لاندې نوشتو کې وکتل، بیا هم یوازینی اثر چې یې لږ کار غوښت او کابو چاپ ته آماده و، همدا د مولوي مخفي په باب لیکل شوې او راټوله شوې رساله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ مې پوهنوال يون ته وويل چې له ما سره يوه داسې رساله شته چې تيار كمپوز شوې ده يوازې د اعلامو فهرست يې د رسالې له مخونو سره تطبيقوم او هم يې بايد د مآخذو فهرست له ځينو نورو وړو كارونو سره بشپړ كړم، نو بيا به يې در وسپارم. پوهنوال يون موافقه وكړه. ما د رسالې د پاتې كارونو په بشپړولو پيل وكړ، د لوى څښتن په مرحمت د رسالې پاتې چارې بشپړې شوې.

د (سرخبرې) تر سرليك لاندې ددې يادداشت د ليكلو ضرورت مې ځكه محسوس كړ چې له يوې خوا ددې رسالې د چاپولو دا جريان پكې وليكم او له بلې خوا، ما ته د مرحوم استاد عبدالهادي داوي يوه رساله (افغانستان و سرحد) لاس ته راغلې ده، چې د مخفي باب لندې خو د كار خبرې لري او لازمه وه چې پدې يادداشت كې پرې خبرې وكړم. دا رساله د افغانستان د استقلال په جګړه كې د پښتونخوا د بېلابېلو سيمو د خلكو پر سهم او ددوى پر قربانيو خبرې لري. د افغانستان د استقلال په جنګ كې د پښتونخوا د سيمو د وګړيو د قربانيو په باب استاد ليكي: "... برادران مهجور – ماوراى خط اجبارى ديورند – ما چقدر سعى به موقع و جميل، بلكه جان فشانى حقيقى براى افغانستان كرده اند و در اين راه چى نقصانات سنگين تلافى ناپذيرى را تحمل نموده اند... ايام غزاى استقلال افغانستان بود كه به مجرد اطلاع از جهاد ما همه افغانان مذكور از كه ومه كمر همت و فداكارى بستند چى عرض كنم كه با چى صميميت و چى غيرت و فعاليت جان شيرين خود را به نيم اشارۀ ابروى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما و نیز بی اشارهٔ ما فدا نموده اند ، آنهم نه یك نه ده نه صد ،هزارها".
(افغانستان و سرحد ، ۲ – ۳ مخونه)

لوړې اقتباسي ټوټې ته پاملرنه موږ ددې رسالې د مباحثو په باب حدس وهلای شو. ددې رسالې په وروستیو پاڼو کې د هجرت تر سرلیك لاندې، استاد داوي د هغو مشرانو نومونه اخیستي دي چې هغه وخت افغانستان ته راغلي وو. ددغو مشرانو په ډله کې په (۸) مه نومره د مخفي په باب خبرې راغلې دي. ځینې یې عامې دي، خو هغه خبرې چې مرحوم استاد داوي د مخفي د شخصیت، پوهې او احساس په باب لیکلې دي، زما له نظره ډېرې مهمې دي، که دا رساله بیا چاپېده، دا خبرې باید په خپلو خپلو ځایونو کې ځای شي، خو اوس به د مخفي په باب د استاد داوي د یادداشت عمده ټکي دلته راواخلم:

"مولانا مخفی: ... فعالیت مشار الیه برای بیداری و ترقی افغانها ، قبل از غزای استقلال آغاز شده بود ولی در آن وقت به کابل آمد و رفت نداشت، صرف بین یاغستان و جماعات آزادی خواه صوبهٔ سرحد روابطی قایم میکرد ولی بعد از آن به کابل آمد. و مدت زیادی در آنجا اقامت کرد ، اکثر مصروف گشت و گذار بود ، همه عمر خود را در خدمت اسلام و افغانیت به سربرد ، برای پشتو و ترقی آن نیز سوز و شوری داشت. مرد عاقل و کاردانی مینمود ، تحصیلاتش از قسم قدیم گمان میبرم که نهایت عالی بود. خودش را بسیار خوش صحبت و مصیب الرای می

www.meliitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

گفتند... در سنه ۱۳۲۶ شمسی هجری فوت شد ، شعر به پشتو و غالباً به فارسی هم میگفت و مضامین منثوره نیز داشت".

د مرحوم مخفي په باب د استاد داوي دا لوړ یادداشت له مخفي سره دده له ناستې، ولاړې؛ لیدنو، کتنو او مجالسو ترتیب شوی ښکاري.

زه ددې خبرو په پای کې له پوهنوالو یون، محمد شعیب شیرزي او ښاغلي ضیاالرحمن ضیاء څخه مننه کوم چې ددوی په مرستو دا رساله د چاپ جوګه شوه. زه امیدوار یم چې ددې رسالې تر چاپ وروسته به د مخفي د شعر او فکر لېوالان او د مخفي د آثارو ساتونکي دده نور آثار د چاپ ډګر ته را وباسي او پدې وسیله به ددې رسالې په بشپړتابه کې مرسته وکړي.

په درناوی
سرمحقق زلمی هېوادمل
۱۳۹۳، د دلو، ۱، کابل
۲۰۱۵م، جنوري ۲۱مه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مطالبو فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| سریزه: | ۱ |
| پس منظر او هدف | ۱ |
| پر موضوع تېر شوي کارونه | ۴ |
| دا رساله | ۹ |
| د فضل محمود مخفي پېژندنه: | ۱۱ |
| زوکړه، نوم، تخلص او کورنۍ | ۱۲ |
| زده کړه | ۱۵ |
| زبان دان مخفي | ۱۹ |
| سفرونه، ملازمتونه او مبارزه: | ۲۱ |
| سفرونه | ۲۱ |
| وظایف | ۲۳ |
| د مدرسو له نهضت سره مرسته | ۲۵ |
| سیاسي مبارزه او مخفي | ۳۰ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مخفي وروستی ژوند ۴۲
د مخفي مړینه او مزار ۴۴
د مخفي ازواج او اولاد ۵۲
فرهنګ، تاریخ او خلکو ته د مخفي... ۵۵
په معاصره پښتو شاعرۍ کې د نوښتګرو....... ۶۳
د اجتماعي او اصلاحي چارو عاشق مخفي ۷۲
د مخفي تالیفات : ۷۵
- د مخفي دیوان ۷۵
- موږك نامه ۷۶
- دري نور کتابونه ۷۷
د مخفي ویناوې او لیکنې: ۷۹
- ویناوې ۸۲
- لیکنې ۱۰۱
- توره تیاره مه راوله، تور تم مه جوړوه ۱۰۱
- جشن چهاردهمین استقلال ۱۰۵
نتیجه او پیشنهادونه ۱۱۱
د اعلامو فهرست (نوملیك) ۱۱۵
د مآخذو فهرست ۱۳۰


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحريك له اساسي څانګو څخه يوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاريخي، ملي، کلتوري ورځو او تاريخي او ملي شخصيتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د ليکوالو د علمي، ديني، روزنيزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهيسې چې تحريك خپل عملي فعاليتونه پيل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعاليتونه چټك کړي دي. تاريخي ورځې يې نمانځلي، تاريخي واټونو ته يې لوحې جوړې کړي. علمي سيمينارونه او ورکشاپونه يې جوړ کړي دي.

د تحريك دې څانګې د تحريك د عمومي هدفونو په رڼا کې وټېيله چې په يوځايي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره ديني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته يې وړاندې کوي.

دا اثر (فرهنګيالی مبارز، مولانا فضل محمود مخفي) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل) ليکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هيله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحريك خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکې کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاينې په هيله
په درناوي
د افغانستان ملي تحريك
فرهنګي څانګه

www.meiltahrik.com
0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

## پس منظر او هدف:

ښه مې په یاد دي، چې کله په ۱۳۶۰هـ ش کال کې کابل پوهنتون د ځینو فرهنګي خواخوږو په غوښتنه دا خبره ومنله چې د مشروطه خواه شاعر او په افغانستان کښې د معاصرو پښتو ادبیاتو د سر لاري ارواښاد غلام محی الدین افغان شپیتم تلین و نمانځي، نو د سیمینار د جوړېدو د تدارك لومړۍ غونډه د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د هغه وختني رئیس پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار په دفتر کې جوړه شوه.

په غونډه کښې لومړنی تشویش دا څرګند شو چې آیا موږ به د افغان په باب دومره مواد پیدا کړای شو چې ددې سیمینار مقاله لیکونکي دې خپلې مقالې پرې بشپړې کړي؟ هلته وویل شول چې په اوسني لیکوال، پښتانه شعراء دریم ټوك او د پوهنتون په ځینو درسي آثارو کښې یوازې دده دوه درې شعره راغلي دي او د ژوند پېښو لنډه کې جاج یې اخیستل شوی دی. آیا دا یادونې او دا دوه درې شعره به د یو سیمینار لپاره مواد برابر کړای شي؟

په دې کې له حاضرینو یو تن وویل چې په سراج الاخبار کې د افغان ډېر نظمونه، منثورې درې او پښتو لیکنې چاپ شوې دي او حتی سراج الاخبار دده ټول کړي متلونه هم چاپ کړي دي.

د تدارك کمېسیون چې دا خبرې واورېدې په یوه خوله یې ما ته وویل چې هم ته دا کار وکړه! د افغان ټول خواره واره آثار را ټول کړه، مقدمه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرحې پرې ولیکه؛ کابل پوهنتون به یې د ځانګړي اثر په توګه چاپ کړي.
که دا کار تر سره شي، دا به دې سیمینار ته د کابل پوهنتون یوه لویه تحفه وي، دا ځکه چې د افغان غونډي یو مبارز شاعر او لیکوال په باب موږ تر اوسه نه مستقل اثر لرو او نه مو دده آثار ټول کړي دي.

د لوی او توانا خدای(ج) په مرسته ما په ډېر لږ وخت، اما په ډېره بیړه هغه کار تر سره کړ. کله چې هغه کار ما ته را وسپارل شو، د سیمینار تدویر ته ډېر لږ وخت پاتې و او ما په کابو څه د پاسه دوو میاشتو کې د " غلام محی الدین افغان افکار او آثار " نومې اثر بشپړ، چاپ ته آماده او چاپ کړ او په دې توګه په افغانستان کې د معاصرو پښتو ادبیاتو د یو سرلاري د آثارو یوه مجموعه موجوده شوه اودده په باب یو مستقل اثر فرهنګیانو ته وړاندې شو.

لـه هماغـه وختـه زه دې خبـرې تـه متوجـه شـوم چـې پـه افغانسـتان او پښتونخوا کښې زموږ د معاصرو ادبیاتو د اکثرو سرلارو مستقل آثار نه دي چاپ. ادبي مورخین او څېړونکي زیاتره د دوی په محدودو پاړکو اتکا کوي او خپلې څېړنې پرې پر مخ بیايي. پکار دي چې د دغو سرلارو- که هغه په افغانستان کې دي، یا پښتونخوا کې - آثار سره را ټول او ځانګړي چاپ شي.

همدا ډول کله چې په ۱۹۸۷- ۱۳۶۶ هـ ش کال د افغانستان د لیکوالو انجمن د ځینو فرهنګیانو په پیشنهاد و پتېیله چې د ارواښاد فضل محمود مخفي پنځوسم تلین و نمانځي، نو ددې نمانځنې په ترڅ کښې هم د موادو قلت محسوس و. خو د افغان په پرتله ډېر نه و، زموږ ځینو ملګرو، مشرانو او ځوانو څېړونکیو، لکه پوهاند دوکتور زیار،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل بريالی باجوړی، پوهندوی عبدالخالق رشيد ، نور محمدسهيم ، ګل افضل ټکور او ما د مخفي د ژوند ، اند او مبارزې په بېلا بېلو اړخونو مقالې وليکلې د چا ډېر مواد په لاس کې وو او د چا لږ، خو بيا هم دده په باب يو څه ميدان ته راووتل.

زما مينه له مخفي او دده له آثارو سره هغه وخت زياته شوه چې کله په ۱۳۶۱ هـ ش کال کښې د ارواښاد فخر افغان خان عبدالغفارخان " زما ژوند او جدوجهد " د چاپ د اهتمام چارې ما ته را وسپارلی شوې. په دې کال دا کتاب ما کاتب ته حواله کړ او تر هغه وخته چې له چاپه را و ووت (۱۳۶۲ هـ ش جوزا) نو مې اووه ځله ولوست. ددغه کتاب په بېلا بېلو برخو کې د مخفي په باب د باچاخان بيانونو زه د مخفي مقام او درجې ته متوجه کړم او ورسره به دا خبره هم په زړه کښې را ګرځېده چې موږ لا تر اوسه ددغسې يو لوی انسان خوا ته توجه نه ده کړې؟ ددغسې يو انسان چې په معاصره دوره کښې د پښتنو د سياسي او ملي ميدان – عظيم رهنما ( باچا خان ) يې يو نظم ته خپل پنډ او خورا ډېرمهم کتاب اهدأ کړی او خان عبدالغفارخان په صراحت وايي چې زما په ملي روزنه کې د مخفي د صحبتونو او دده د خوږو او مستو پاروونکو اشعارو اغېز ثابت دی.

کله چې په کابل کې د مخفي سيمينار جوړ شو، دده په باب څېړنو او کار ته و هڅېدم او دا وخت مې دوې مقالې دده په باب وکښلې. يوه يې په دري ژبه وه چې عرفان مجلې نشر کړه او بله په پښتو وه چې جرګې مجلې نشر کړه. هغه دوې مقالې دلته نه دي راغبرګې شوې، يوازې په دوو دريو موادرو کښې ترې استفاده شوې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادو شویو دوو مقالو د لیکلو لپاره ما د مخفي په باب میسر آثار ټول وکتل دده ځینی متفرق خپاره شوي آثار مې له ځان سره ولیکل او لاژم یادښتونه مې تري واخیستل چې هغه دوې مقالې هم تري بشپړې شوې او بیا مې لاژمه وګڼله چې دمخفي ټول کړي مواد د مخفي په باب له یوې څېړنې سره په یوه رساله کې سره را غونډ کړم. بویه چې د څېړونکېو لپاره کار آمد شي. پدې ترتیب د همدغو مطالعاتو په نتیجه کې دا رساله هم مرتب شوه.

## پر موضوع تېر شوي کارونه:

د مخفي د ژوند، فکر، هنر او مبارز شخصیت د ښوولو په منظور ځینې مستقلې مقالې هم کښل شوې دي، په تذکرو او د ځینو ادبی څېړنو په ترڅ کې هم پرده او دده پر آثارو بحثونه شوي دي. دغه آثار او مقالې زیاتره دده تر مړګه وروسته کښل شوي دي، لکه:

۱- د مخفي تر مړینې لږ وروسته په پښتون مجله کښې خپور شوی یادښت (۱۷ جون، ۱۹۴۷ م) چې د مړینې تاریخ یې پکښې راغلی دی، خو د مړینې او ښخېدو ځای یې نه دی ښوولی. د مخفي د شخصیت او هنر په باب یې ځینې عاطفي خبرې کړې دي.

۲- د مخفي د مړینې په باب په پښتون مجله کې له خپاره شوي یادښت ډېر لږ وروسته (۱۳۲۶ هـ ش، اسد) په کابل کې په نسبي ډول یوه بشپړه مقاله پوهاند رښتین پر مخفي وکښله او کابل مجلې چاپ کړه. دده د کلام او لیکنو منظومې او منثورې نمونې یې هم راوړې. په دې مقاله کښې دوې درې خبرې د تأمل وړ دي: اول دا چې هلته ویل شوي دي چې مخفي په قوم یوسفزی و او بله دا چې دی په چارسده کښې و مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښخ شو. استاد رښتين خپله دغه مقاله د خپلو مقالو په هغه مجموعه کښې چې (نوميالي پوهان او غازيان) نومېږي، هم اخيستې ده ( ۹۳ – ۱۰۵ مخونه ). دا مجموعه په ۱۹۸۸ ع کال يونيورستي بك ايجنسي، پيښور چاپ کړه. په دې چاپ کې د يادې شوې مقالې ځينې کمبوتې پوره شوې دي، لکه د مخفي د قبيله يي نسبت مسأله. اما د مړينې او مدفن د ځای خبره هماغسې پکښې پاتې ده. د استاد رښتين مقاله ځينې داسې نکتې هم لري چې د مخفي په باب په کښل شويو نورو مقالو کې نه دي راغلې.

۳– د مخفي تر مړينې لس کاله وروسته، ماسټر عبدالکريم دده په باب يوه ښکلې مقاله په لاړ مجله کښې (د مارچ ۶ – ۱۹۵۷ ع) نشر کړه. دا مقاله د مخفي د ژوند په باب ډېر ګټه ور مطالب لري. په دې مقاله کښې ښوول شوي دي چې مخفي په ديرکې ومړ او په مانوګي کې ښخ شو. د مخفي د قبيله يي نسبت په باب تېروتنه هم پکښې شته.

۴– د ماسټر د لوړې مقالې نشر په کال اروابناد ګلاب- ننګرهاري د ماسټر د يادې شوې مقالې او خپلو ځينو نورو يادښتونو په مرسته پر مخفي يوه مقاله وکښله چې پر ۱۳۳۶ هـ ش کال په کابل کښې خپريدونکي (هېواد) اخبار کې خپره شوه.

۵– په ۱۹۵۸ ع کال کښې د ښاغلي همېش خليل کښلي تذکره – پښتانه ليکوال – چاپ شوه. په دې تذکره کې هم د مخفي احوال راغلي. کله چې پر ۱۹۶۱ ع کال دا تذکره بيا چاپېده نو يې د مخفي په احوالو او د کلام په نمونو کې څه اضافه وکړه، خو د مرګ کال يې په دوهم چاپ کې نا سم راغلی دی. دا کتاب پر ۱۹۹۳ ع کال بيا چاپ شو او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۱۰ م کال څلورم ځل په پېښور کې بیا هم چاپ شو او پدې چاپ کې د مخفي د مړینې نېټه او مدفن پکې سم شوي دي (**۵۱** مخ)

۶- پښتانه شعراء څلورم ټوك کې چې ښاغلي سرمحقق بختاني د مخفي کوم شرح حال د کلام له نمونې سره خوندي کړې دی، هغه د ښاغلي همېش د پښتانه لیکوال له لومړي چاپ څخه اخیستل شوی دی. پښتانه شعراء څلورم ټوك پر ۱۹۷۸- ۱۳۵۷ هـ ش کال په کابل کې پښتو ټولنې خپور کړی دی.

۷- ښاغلي نصرالله حافظ پر ۱۳۵۷ هـ ش کال د راډیو افغانستان په خپرني ارګان (آواز) مجله کښې پر مخفي یوه مقاله چاپ کړه چې دوې درې داسې نکتې پکښې شته چې په نورو ماخذو کښې نه دي راغلي.

۸- د هشنغر ادب بله تذکره ده چې پر ۱۹۸۰ ع کال په پېښور کښې چاپ شوې ده. د مخفي شرح حال پکښې راغلي دی او مؤلف یې ښاغلی اشرف غمګین دی. د مخفي د مړینې، ځای ځایګی او درس، تعلیم په باب چې پدې کتاب کښې کومې خبرې راغلې دي، هغه په نورو منابعو کښې نه تاییدېږي.

۹- غازي مولانا فضل محمود مخفي: د هغې په زړه پورې مقالې عنوان دی چې ښاغلي سلیم الرحمن سلیم کښلې ده او پر ۱۹۸۱ ع کال د پېښور د پښتو اکېډیمۍ پښتو مجلې (مۍ- جون ګڼه) خپره کړې ده. دا مقاله زما په عقیده د مخفي په باب په ټولو کښل شویو مقالو کې بهتره او د معلوماتو له لحاظه غني مقاله ده.

۱۰- ښاغلي بریالي باجوړي، د کابل پوهنتون د پوهنمل علمي رتبې ته د جګېدو لپاره خپل تېزس پر (سرخپوش تحریك او پښتو ادب) کښلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. په دې اثر کښې پر مخفي يو اوږد بحث شوی دی او د مخفي په باب چې دوی په دې اثر کښې څه کښلی دي، هغه برخه يې د يوې مقالې په بڼه د کابل مجلې د ۱۳۶۶ په ۳- ۴ ګڼه کې هم چاپ شوې ده. دا مقاله چې د کومو منابعو پر اساس کښل شوې، په مأخذو کښې يې د مخفي په باب کښل شوې اساسي مقالې (د رښتين، ماسته، ننګرهاري او سليم) نه دي شاملې. ښايي چې دی به ترې نه و خبر. يوازې د پښتانه ليکوال له لومړي چاپ او د هشنغر ادب نومې تذکرې څخه يې استفاده کړې ده. خو دا هم بايد ووايو چې د ځينو نورو ډېرو مأخذو په بنا يې چې د مخفي په باب ضمني يادونې لري - لکه: د فخر افغان باچا- خان زما ژوند او جدوجهد ، د عبد الاکبر خان اکبر تراخه خواږه، د افغانستان او روسي ترکستان سفرنامه، د اروابښاد د خليق د آزادۍ جنګ، د ښاغلي خان عبدالغني خان شفاهي معلومات، خپله مقاله ښه اوږده او غني کړې ده.

پوهنمل بريالي با جوړي خپله همدا مقاله(د کوزې پښتونخوا مبارز شاعر فضل محمود مخفي) د خپلو مقالو مجموعه: د ادبيا تو په لر کې هم زياته کړې ده (۷۸-۵۸ مخونه)

۱۱- پښتو ادب او خدايي خدمتګاري: د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې د استاد ښاغلي عبدالوحيد د ايم. فل د تحصيلي درجې تېزس دی. ددې تيزس (۳۲- ۳۶ مخونه) په ترخ کې هم په مخفي او دده پر شاعرۍ بحث شوی دی. خو مآخذ يې هماغه پښتانه ليکوال، د باچا خان اثر (زما ژوند او جدوجهد) او د عبدالاکبر خان په آثارو او ځينې نورو کې ځينې يادونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی عبدالوحید – چې اوس ډاکټر شوی دی– په وروستیو کلونو کې په پښتو مجله (د ۲۰۰۵ م کال اپریل، می، جون ګڼه کې د (پښتون شاعر فضل محمود مخفي) ترعنوان خپله لیکلې مقاله نشر کړې ده. دا مقاله چې ما وکته، د مخفي په باب دده په تېزس کې له راغلیو مطالبو څه زیاتې خبرې لري او په مآخذو کې یې دوه، درې ما ته نوي ښکاري چې په تېزس کې نه دي راغلي (۱۷۲ – ۱۸۱ مخونه)

۱۲– د مخفي د سیمینار لپاره او له سیمینار نه وروسته په کابل کښې د مخفي په باب کښل شوې مقالې چې ما یې دمخه یادونه وکړه هم باید دلې یادې شي. په هغو مقالو کښې یوازې زما دوې مقالې داسې دي چې دده د ژوند، آثارو او دده د ژوند پېښو په باب خبرې لري او د مخفي د ژوند پېښو په باب د منابعو کره کتنه او نور رانغاړي او د ښاغلي باجوړي مقاله هم په دې کتیګورۍ کښې شاملېږي. نورې ګرده مقالې دده پر سیاسي مبارزه او د شعر پر څرنګوالي او څنګه والي کښل شوې دي. ما د خپلو یادو شویو مقالو په لیکلو کې، د استاد رښتین له مقالې پرته چې هغه وخت را ته نه وه معلومه، نور ګرده معلوم آثار کتلي دي.

۱۳ – شخصیات سرحد: دا پنډ کتاب ښاغلي محمد شفیع صابر په اردو ژبه کښلی دی. پدې کتاب کې د مخفي یادونه د قومي کارکن په توګه شوې ده. دا یادونه څه کمبوتۍ لري او له څېړونکیو سره مرسته نشي کولای. خودا چې د مخفي لنډ حال د سرحد شخصیاتو په داسې یو پنډ کتاب کې راغلي دي. نو ځکه مې یې له یاده چاره نه در لوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴/ مولوی فضل محمود مخفي: دهغې مقالې عنوان دی چې ښاغلي فضل زمان شلمان په انګرېزي ژبه کښلی او په CELEBRITIES OF NWFP نومې مجموعه (۳۷-۵۷ مخونه) کې چاپ شوې ده.

دا مقاله ډېره معلوماتي او ګټوره ده. د مخفي د شعرونو انګرېزي ترجمې هم لري. د مخفي په باب، ده ته میسر آثار یې ټول کتلي دي او له ځینو داسې سرکاري اسنادو یې هم استفاده کړې ده چې د مخفي په باب لیکل شویو مقالو،یا دونو او نو روآثارو کې زماله نظره نه دي تېر شوي.

لوړې يادې شوې مقالې او آثار په خپله برخه کې غنیمت دي، اما هیڅ یو یې هم په ځانګړې ډول د مخفي د ژوند او مبارزې انځور نشي راکښلی. دا حاضره رساله چې د مخفي په باب لومړی مستقل اثر دی. په لیکلو کې لوړ یاد شوي آثار ټول او ځیني نور کتل شوي او انتقادي روش ته په پاملرنه له ټولو استفاده شوې ده. په دې رساله کښې زیار ایستل شوی چې موجودو منابعو ته په پاملرنه دده د ژوند فکر او مبارزې یو تت انځور وکښل شي. هر څه چې د مخفي د ژوند پېښنو په باب په دې اثر کښې کښل شوي ټول د خارجي منابعو په استناد دي. د مخفي په آثارو کې دده د ژوند پېښنو او سیاسي- ملي فعالیتونو په باب څه نشته، بلکې په دې باب چې څه لیکل شوي، هغه نورو دده په باب لیکلي دي. اما فکري مسیرونه یې سرې دده موجودو آثارو ته په پاملرنه تر یوه حده څه چې تر ډېره حده ځرګندولای شي.

## دا رساله:

د مخفي د ژوند پېښنو دغه رساله چې ما پر نوم " فرهنګیالی مبارز" ایښی دی. درې برخې یا درې فصله لري: لومړی څېرکې دده په شرح حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې اړه لري؛ دوهمه برخه يې د آثارو معرفۍ او هم د آثارو او افکارو تفسير ته وقف شوې ده او په درېيمه برخه کې يې دده لاس ته راغلي منظوم او منثور آثار سره را ټول شوي دي.

زه هېڅکله دا ادعا نه لرم چې ګوندې حاضره رساله بشپړه ده او د مخفي په باب هر څه پکښې موندل کېږي. ما غوښتل چې د مخفي لوی شخصيت ته د درناوي په خاطر دا يوه وړه رساله ترتيب کړم. له لوی خدای(ج) څخه ډېر مشکور يم چې ما ته يې ددې رسالې د کښلو او ترتيب توفيق را وباخښه.

زه به هلته ډېر خوشحال شم چې زموږ خلك دا رساله ولولي اوګران فرهنګپان ددې رسالې د بشپړتابه لپاره لېچې را ونغاړي او قلمونه را واخلي؛ نورې زياتې څېړنې وکړي او د مخفي د سياسي مبارزې، احوالو او د آثارو د فکري او ادبي ارزښتونو په باب بشپړ آثار وليکي او خپلو خلکو ته يې وړاندې کړي. ځکه چې مخفي د خپلو خلکو د وينولو او پوهولو لپاره مخلصانه هڅې کړې دي. دده دا خواخوږي او هڅې افغانانو ته دا پور ور د غاړې کوي چې دی هم، لکه څنګه چې و، آينده نسلونو ته ور وپېژني.

ومن الله التوفيق

سرمحقق زلمی هېوادمل

۱۹۹۲ ع کال، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو ادبي تاريخ او د متنپوهنې د ديپارتمنټ علمي غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

«۱»

# د فضل محمود مخفي پېژندنه، ژوند پېښې او د ملي سیاسي مبارزې لنډ جاج

www.melitahrik.com 0777 400 116

که څه هم د ارواښاد فضل محمود مخفي له مرګه ډېر وخت نه تېرېږي او هم یې د مړینې پر وخت په پښتونخوا او افغانستان کې پښتو مطبوعات موجود وو؛ د مرګ خبر یې هم له مړینې نولس ورځې وروسته د پښتونخوا په مطبوعاتو کې خپور شوی دی[1] او بیا لږه موده وروسته د ده د مړینې له امله په کابل کې پرده یوه مفصله مقاله ولیکل شوه او له دې ټولو سربېره، مولانا مخفي ډېر مشهور سړی و چې له افغانستان او پښتونخوا علاوه د هند د نیمې وچې د مبارزانو په حلقو کې هم هر چا پېژاند؛ ملي او وطني شعرونه یې د پښتونخوا او افغانستان په ځوانانو او زړو کې عام وو. خو له دغه ټول شهرت سره سره، بیا هم چې په تذکرو او ځانګړیو مقالو کې دده په باب څه نشر شوي دي ګرده سم نه دي او

---

[1] پښتون (مجله) د ۱۹۴۷ ع کال د جون د ۱۷ نېټې ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښېړونکي دده په باب په ځينو خبرو کې په يوه خوله نه دي. دده په آدرس چا يو څه او چا بل څه ليکلي دي.

کله چې د ادبي تاريخ يو شاګرد د دغسې يومعاصر نامتو فرهنګيالي د ژوند پېښو په باب ضدونقيض روايات ولولي نو دا شك ورته ضرور پيدا کېږي چې زموږ د ادبي تاريخ په منابعو کې د نورو پخوانيو او اوسنيو راغليو شاعرانو، ليکوالو او فرهنګي شخصيتونو په باب موجود معلومات به څومره د ويسا وړ وي؟

په هر صورت څه چې لرو پرهغو به تر نقد او چاڼ وروسته ويسا کوو؛ د خپلو ادبي څېړنو او د ادبي تاريخ ستنې به پر دغوموجودو منابعو په احتياط دروو.

د مخفي د ژوند په خصوص کې، لکه چې دمخه په سريزه کې ورته اشاره وشوه، خارجي منابع په نسبي ډول ډېر او داخلي داسې منابع- چې دده ژوند پېښې دې ترې استخراج شي- په نشت شمار دي.

زه د منبع پوهنې اصولو ته په پاملرنه زيار باسم چې د همدغو موجودو منابعو له انتقادي کتنې وروسته دده ژوند پېښې استخراج کړم.

## زوکړه، نوم، تخلص او کورنۍ:

پر ۱۸۸۴ م کال د چارسدې کلي د پينده خېلو په کندي کې د يوه، له بلې سيمې راغلي او هلته اوسېدونکي پښتانه په کور کې يو ماشوم نړۍ ته سترګې پرانستې چې کورنۍ پر دغه نوي زوکړي ماشوم د فضل محمود نوم کېښود. د دغه ماشوم پلار قاضي نور- محمد خان نومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـه نـور محمـد خـان د بـاجوړ د سـیمې د مامونـدو د ډنـدبابوقره کلـي اوسېدونکې او په ختېه ماموند و.

د پښتو په زیاترو ادبي څېړنو کې د فضل محمود زوکړې نېټه همدغـه ۱۸۸۴ ع کال ښوول شوې ده. ما په خپل اثر (فرهنګ زبـان و ادبیـات پښـتو لـومړی ټـوك) کـې د ده د زوکـړې کـال ۱۹۱۰ م ښـوولی (۴۶۴ مـخ) چـې مطلق غلط دی. اما ښاغلی شلمان بـه خپـل مقالـه کـې دغـه نېټـه ۱۸۸۲ کال ښوولې ده، خو خپل سند یې نـه دی ښـوولی . د تحقیـق اصـول دا دي چې کله څېړونکې پـه دغسـې مـواردو کـې لـه نـوو او پخوانیـو نظریـو او منابعو سره اختلاف ښیي، نو بویه چې د خپـل نـوي نظرقـوت اوصـحت دسند پر بنا اظهار کړي. څو د نوي سند اعتبار ته پـه پـا ملرنـه نـوی نظـر د زړو هغو پرځای پـه آینـده څېړنـو کـې ځـای ونیسـي. د قبیلـه یـې نسـبت پـه باب یې لومړی پلا استاد رښتین لیکلي ووچې دی یوسفزی و[2].

د اروابناد ماسټر عبدالکریم (۱۹۰۸- ۱۹۶۱) پـه لیکنـه کـې راغلـي دي چې مخفي پـه ختـه مومنـد و[3]. پـه پښـتو تـذکرو کـې ( د اشـنغرګلونه) نومې تذکرې هم د مرحوم ماسټر پـه تابعیـت دی پـه ختـه مومنـد بللـی دی (۹۸ مخ) ؛ مګر همېش[4] او نورو دی په ختـه ماموند ګڼلی دی. څنګه چـې د مخفي پلار د باجوړ د توابعو اوسېدونکی و او ماموند اکثر د بـاجوړ پـه سیمو کې اوسي، نو دا خبره زړه ته لـوېږي چـې دده کـورنۍ بـه د مامونـدو

---

[2] رښتین، پوهاند صدیق الله: د یو پښتون ادیب مرګ، کابل (مجله) ۶ ګڼه، ۱۵ اسد ۱۳۲۶ هـ ش، ۹ مخ.

[3] ماسټر عبدالکریم: فضل محمود صاحب مخفي، لار(مجله)، ۱۹۵۷ ع کال د مارچ ګڼه، ۶ مخ.

[4] خلیل، همیش: پښتانه لیکوال، لومړی چاپ، پېښور، پبلك آرټ پریس، ۱۹۵۸ ع، ۱۱۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبیلې ته نسبت درلود او ماموند د پښتنو په ترکلاني اجتماعي ګروپ پورې اړه لري.

د فضل محمود د پلار له نامه سره د قاضي نسبت اروابناد ماسټر عبدالکریم کښلی دی او دا یې زیاته کړې ده چې قاضي نور محمد د بنګلې په قاضي مشهور و.

اما ښاغلي سلیم الرحمن په خپله یوه معلوماتي مقاله کې د مخفي د پلار په باب کښلي دي:

" د مخفي د والد صیب نوم نور محمد خان و. نور محمد خان د باجوړ د ماموندو د علاقې یو لوی خان و، خو د دښمنۍ او څه نورو وجوهاتو له کبله یې په ماڼوکي کې استوګنه اختیار کړې وه او د مخفي د زیږېدو نه لږ موده وړاندې په چارسده کې دېره شوی و." [5]

ښاغلي فضل زمان شلمان په خپله انګرېزي لیکنه (مولوي فضل محمود مخفي) کې هشنغر ته د مخفي د پلار د تګ کال ۱۸۶۰ م ښوولی دی [6]

د بنګلې قاضي نور محمد خان ماموند له باجوړه د دیر ماڼوکي ته او له ماڼوکي چارسدې ته راغلی و او په چارسده کې دېره شوی و. په چارسده کې یې واده کړی و. د اروابناد ماسټر عبدالکریم له قوله یو چا خپله لور ور بخښلې وه.

---

[5] سلیم، سلیم الرحمن: غازي مولانا فضل محمود مخفي، پښتو (مجله) پښتو اکېډیمي، پېښور، مۍ، جون، ۱۹۸۱ع، ۹۲ مخ.

[6] .Shalman, Fazal-e- Zaman: Maulavi Fazal Mahmud Makhfi, Celebrities of NWFP, Pakistan study center university of Peshawar, new Awan printers, ۲۰۰۵,p-۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قاضي نور محمد خان ماموند ماینه، د فضل محمود مور ډېره فاضله او دینداره ښځه وه په دیني علومو پوهېده، د پارسي ګلستان او بوستان یې په یاد وو.

په زیاتر و منابعوکې راغلي دي چې د باجوړ له ډنډ بابوقري د فضل محمود مخفي پلار قاضي نورمحمد کوچېدلی دی او په ماڼوګي کې دېره شوی دی او بیاله هغه ځایه چارسدې ته په کډه تللی دی. مګر دا موضوع ښاغلي فضل- زمان شلمان په خپله مقاله کې داسې توضیح کړې ده: دهغه (مخفي) نیکه له با جوړه ما ڼوګي ته راغلی په ماڼوګي کې یې خپله یوه لورقاضي ګل سید الیاس ته ورکړه. دې مېرمنې خپله وروڼه د زده کړې لپاره نورو سیمو ته ولېږل او د دې یو ورور نورمحمد هشنغر ته ورغی. له دې توضیح دا راوزي چې له باجوړه د مخفي پلار نه، بلکې نیکه له خپلې کورنۍ سره ماڼوګي ته راغلي چې د مخفي پلارهم ور سره و او د مخفي پلار بیا یوازې له هغه ځایه هشنغر ته تللی دی.

کله چې فضل محمود لوی شو، تر زده کړو وروسته د ادب او سیاست په ډګر کې په فضل محمود مخفي مشهور شو، مانا دا چې تخلص یې مخفي و.

## زده کړه:

فضل محمود مخفي په یوه عالمه کورنۍ کې زوکړی و. پلار او مور یې دواړه د دانش او پوهې خاوندان وو. له دیني علومو خبر وو او په ادبي آثارو کې یې مطالعه درلوده. مخفي خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل کور کې پیل کړې، اروانباد ماستر عبدالکریم په دې بابت لیکلي دي: "مخفي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب چرته په سکول لا مکتب کې سبق نه و ویلی، نو بیا هم مخفي صاحب لسم په کور پاس کړی و، نور علم هم مخفي صاحب د بنګلې قاضي نه په کاله دلته زده کړی و"[7] د اروابناد ماسټر عبدالکریم له لیکنو خو ښکاري، چې مخفي ګرده تعلیم په خپل کور کې سرته رسولی و؟ اما نورې منابع د کور د تعلیم تر ځنګه نورې خبرې هم لري، لکه استاد رښتین چې لیکلي دي:

"مخفي صاحب د پېښور په اسلامیه سکول کې تر لسم جماعت پورې تعلیم حاصل کړی و، په انګرېزي ښه پوهېده؛ د عربي تعلیم یې هم کړی و. په عربي علومو کې یې لوی لاس درلود په همدې وجه یې مولوي هم باله" [8]

د پښتو لومړنۍ تذکره چې د مخفي احوال یې خوندي کړي دي، هغه د ښاغلي همېش خلیل پښتانه لیکوال نومې تذکره ده. ددې تذکرې په څلورو واړو چاپونو کې د اروابناد مخفي د منظم تعلیم خبرې راغلې دي. ښاغلي همېش صاحب کښلي دي: "مخفي صاحب په کال ۱۹۱۰ د چارسدې نه د مډل پاس کولو نه پس د اسلامیه هایي سکول پېښور نه میټرک وکړو بیا ایډ ورډ کالج پېښور کې داخل شو؛ په ایف۰اې کې یې تعلیم حاصلولو چې د خپل تره شېر محمدخان چې هغه وخت د دارالعلوم اکره صدر مدرس وه. په ترغیب یې د دیني تعلیم لپاره کالج پرېښود او دارالعلوم اسلامیه اکره کې داخل شو. له هغه ځای نه چې فارغ التحصیل

---

۷ د ماسټر یاده شوې مقاله.

۸ د رښتین یاده شوې مقاله، ۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، نو دیوبند مدرسه کې د مولانا محمودالحسن صاحب (اسیر مالټا) سره شاګرد شو..." [۹]

لوړ بیان د پښتانه لیکوال په دوهم چاپ [۱۰] کې هم راغلی دی او د پښتانه لیکوال له لومړي چاپه همدا خبرې سرمحقق عبدالله بختانی په پښتانه شعراء څلورم ټوک [۱۱] کې هم اخیستی دی.

"د هشنغر ادب" نومې تذکره کې یې په ډېر نیمګړي ډول د مخفي د تعلیم په خصوص کې صرف دومره لیکلي دي: "مخفي د پېښور اسلامیه کالج نه ایف، اې تعلیم کړی و" [۱۲] دلته ښاغلي لیکوال د اسلامیه های سکول او اسلامیه کالج فرق نه دی کړی، حال دا چې د اسلامیه کالج اساس په ۱۹۱۳ کال کې ایښودل شوی دی.

ښاغلي سلیم الرحمن بیا په خپله مقاله کې ویلي دي، چې مخفي په ۱۹۰۸ ع کال له چارسدې نه مډل سکول پاس کړی و چې ښاغلي همیش دا سنه ۱۹۱۰ ع کال راوړې ده [۱۳] ځینو مآخذو کې راغلي دي چې په ۱۹۱۰ ع کال کې دی په ایډورډ کالج کې شامل شوی و او ورپسې اګرې او بیا د دیوبند په دارالعلوم کې داخل شوی دی. په دغو دوو دیني او اسلامي مدارسو کې یې تر دیني زده کړو وروسته د خپل تره په ترغیب انټرنس هم پاس کړ. د لوړو منابعو یادونې زیاتره ګډوډې، د سنوغلطۍ

---

۹ پښتانه لیکوال، لومړی چاپ، ۱۱۱ مخ.
۱۰ خلیل، همیش: پښتانه لیکوال، دوهم چاپ، پبلك آرټ پريس، پېښور، ۱۹۶۱، ۲۲مخ.
۱۱ بختانی، عبدالله: پښتانه شعراء، څلورم ټوك، پښتو ټولنه .کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۵۷ ه ش.، ۱۱۵۳ – ۱۱۵۴ مخونه.
۱۲ غمګین. محمد اشرف:د هشنغر ادب، هشنغر پښتو ادبی ټولنه. پېښور، ۱۹۸۰ ع، ۱۴۱ مخ.
۱۳ د سلیم یاده شوي مقاله، ۹۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د معلوماتو ضعف لري. د مخفي د رسمي زده کړو په باب ډېره منظمه یادونه د ښاغلي شلمان ده او دده د یادونوله مخې لوړې زیاترې یادونې نا سمې ښېږي. د ده د خبرو ترجمه داده: " فضل محمود مخفي په ۱۸۹۸ م کال د سیمې د ښوونځي له اتم ټولګي فارغ شو. په ۱۹۰۰ م کال کې يې د پېښور له اسلامیه های سکول څخه میټرك وکړ؛ بیا يې د پېښور په ایډورډز کالج کې داخله واخیسته. په ۱۹۰۲ع کال کې چې مخفي د کالج د دویم کال متعلم و، دده تره مولانا شبېر محمد چې دا وخت د هندوستان د اګرې د اسلامیه دارالعلوم مهتمم و او مخفي يې هند ته وغوښت.

مخفي هند ته ولاړ پنځه کاله يې په اګره کې دیني علوم ولوستل او بیا يې تره دی د لوړو زده کړو لپاره دیوبند ته واستوه ... " تر ۱۹۱۰م کال پورې ده په هند کې عالي دیني زده کړې وکړې او سیاسي شعور يې وده ومونده. حال داچې د مخفي په باب زیا تره پښتو منابع وایي چې ده په ۱۹۱۰م کال له چارسدې منځنی ښوونځی پاس کړ.

د منبع پوهنې د اساساتو له مخې د مخفي د زده کړو په باب د ښاغلي شلمان خبرې ځکه ماته باوري ایسي چې ده دا خبرې د مخفي د کورنۍ له غړي فتح الرحمن سره د مرکې او د مولانا سید محمد میان د (تحریك شیخ الهند) د کتاب د ۱۹۹۱م کال د لاهور چاپ په حواله کښلي دي.

مخفي چې هر څومره رسمي زده کړې وې هغه يې کړې دي، اما دده د علمي شخصیت په رشد کې دده کورنۍ تعلیم او هم کلیوال نصابي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلیم، له عربي او د فارسي ژبو او اسلامي معارفو سره اشنايي لوی پدل لرلی و.

## زبان دان مخفي:

فضل محمود مخفي د خپل سر شار استعداد له امله له خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره، په مسلم ډول په څو نورو ژبو پوهېده.

ارواښاد باچا خان (۱۹۸۸ع مړ) د خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد یو ځای د مخفي د زبان دانۍ په خصوص کې کښلی دي: " څه وخت چې انګرېزانو د فارس په خلیج کې آزاده بندرګاه جوړه کړه چې هلته به یې عربو باندې د ترکو په مقابله کې توپك، تمانچې، کارتوس او نورې وسلې په ډېره ارزانه راوړلې او د پښتنو قبایلو کې به یې خرڅولې. انګرېزانو چې د پښتنو قبایلو سره دا وسلې ولیدې حیران شول چې دوی دا وسلې د کومه راوړې؟ چې تجسس یې ورپسې وکړ ورته معلومه شوه چې دا د خلیج فارس نه د ایران او بلوخو له لارو افغانستان او د پښتنو قبایلو ته راوړل کېږي.

نو انګرېز دې خواته د وسلو مخنیوي لپاره په خلیج فارس او د هغه په غاړو کې د ګرکسن په مشرۍ یوه څوکۍ مقرره کړه. ددې څوکۍ یو داسې سړی په کار و چې هغه په انګرېزي، پښتو، عربي او فارسي پوهېږي. د مخفي صاحب څلور واړه ژبې زده وې، دی یې هلته د ځان سره انټر پریټر( ترجمان) لګولی و" [۱۴]

---

[۱۴] عبدالغفار: زما ژوند او جدوجهد، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۶۲ ه ش ۶۴-۶۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما ښاغلی سلیم په خپله مقاله کې پدې باب څه زیات لیکلي دي: " د هغـه خـواهش و، چـې د دنیـا هـر علـم زده کـړي او دې خـواهش هغـه تـه وروسـتو پـه جرمني، انګرېزي، عربي، پارسی او ازبکي ژبـو عبـور عطـا کړو. اردو او پښتو خو یې هسې هم زده کړې وه. د مولانـا ابـوالکلام آزاد سره د مینې لـه کبلـه یې لـږ ډېـر بـری پـه بنګـالۍ هـم مونـدی وو..." [15] او استاد رښتین بیا ښلی دی چې مخفي په عربي، اردو او پارسي ژبـو کې د قلم خاوند و (نومیالي پوهان ۹۳ مخ).

دده د ژبـان دانـۍ پـه خصـوص کـې لـوړ نظریـات تـر زیاتـه حده صـادق ایسـي او دا ځکـه چـې کـه دده خـو ژبـې نـه وای زده، نـو نـه بـه انګرېزانـو ترجمان لګولای وای، او نـه بـه پـه کابـل کـې د انـیس د اخبـار پـه اداره کـې ترجمان مقرر شوی و.

سملاسي موږ ته دده پښتو او پارسي آثار معلوم دي؛ پـه انګرېزي ژبـه دده د شـاعرۍ خبـرې هـم شـوې دي. ښـاغلي شـلمان یـې یـو اردو اثـر هـم ښوولی دی. مخفي پر یادو شویو ژبو د پوهېدو تر څنګه پر ځینـو دغـو ژبـو کې شعر ویلای او قلم چلولای شوای.

---

[15] د سلیم یاده شوې مقاله، ۹۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سفرونه، ملا زمتونه او مبارزه

**(۱) سفرونه:**

پښتو تذکرو او د مخفي په باب د ځینو څېړنو له مطالعې دا راوزي چې مخفي افغانستان د پښتونخوا ډېرو سیمو، عربو او هندوستان ته سفرونه کړي دي. هندوستان ته یې لومړی سفر د زده کړې او تعلیم په نیامت و. تر تحصیل وروسته چې د پښتونخوا سیمو، قبایلي زمکو، افغانستان، عربو او هندوستان ته یې کوم سفرونه کړي دي یا د ملازمت په غرض وو یا د سیاسي مبارزې او یا هم د روزګار د موندلو لپاره.

کابل ته د مخفي لومړی سفر له هغه وفد سره یوځای و چې د ترنګزو حاجي صاحب د امیرحبیب الله خان (۱۳۸۱ - ۱۳۳۷ هـ ق) په وخت کې افغانستان ته لېږلي و. خو کابل ته د مخفي د لومړني سفر د وخت په باب د ښاغلي همېش په لیکنو کې راغلي دي: " کال ۱۹۱۹کې مولانا عبیدالله سندهي سره د ذاتي تعلقاتو په بنا یې اعلیحضرت غازي امان الله خان مرحوم ته رسایي وشوه (پښتانه لیکوال ۲۳ مخ) ده بیا ویلي دي چې د افغانستان د استقلال په لومړني جشن کې یې د اعلیحضرت غازی په اصرار د غلامۍ خلاف فی البدیهه تقریر وکړ او ورسره یې دا هم زیاته کړې ده چې مخفي مرحوم دغه وخت د افغانستان د روښانفکرانو په اعتدال پسنده ډله کې شامل شو. د ښاغلي همېش له لیکنو ښکاري چې مخفي لومړی ځل د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې کابل ته تللی دی. اما د مخني سند د همېش خبرې ردوي. د اعلیحضرت غازي امان

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله د اقتدار په لومړیو کلونو کې ده په ۱۹۲۰م کال کابل پرېښود او د باجوړ له لارې هشنغر ته لاړ. په ۱۳۰۳ هـ ش کال په پغمان کې جوړه شوې لویه جرګه کې مخفي د باجوړ د قبایلو په نماینده ګۍ ګډون کړی و[16].

د امان الله خان د باچهۍ وروستیو کلونو کې چې د ده پر ضد توطیې شروع وې مخفي بیا کابل ته ولاړ (د شلمان مقاله ۴۲مخ).

کابل ته د اروابناد مخفي د سفرونو په ارتباط استاد رښتین کښلي دي چې مخفي پنځه کاله د خالونو په مدرسه کې و. مګر د دیر د نواب شاه جهان او مخفي تر منځ څه خوابدي پیښه شوه. نواب دغه مدرسه بنده کړه او مخفي د دیر له علاقې څخه وایستل شو . نو د پښتنو او خپل قوم د خدمت په نیت کابل ته راغی، دلته څه موده پاته شو په دې کې د ۱۳۰۷هـ ش کال اړودوړ پیښ شو. په دې وخت کې له خپلې کډې سره لوګر ته ولاړ او هلته د مولوي فضل ربي صاحب په ځای کې د یره شو.....
بیا د باجوړ سالارزو ته لاړ.

د امان الله خان د پاچهۍ په وروستیو وختو نوکې په کابل کې د مخفي د استوګنې په باب د استاد رښتین او شلمان خبرې سره نږدې دي. او له دغو بیا نو او اسناد وښکاري چې دا علیحضرت امان الله خان د اقتدار په دوران کې به مخفي ځو ځله کابل ته تللي وي.

د اعلیحضرت غازي محمد نادر شاه شهید (رح) (۱۳۰۸- ۱۳۱۲ هـ ش) په دوران کې په ۱۳۰۹ هـ ش کال مخفي بیا کابل ته راغی او د انیس په اداره کې ترجمان مقرر شو؛ کوم مطالب چې دده په امضا د هغه وخت

[16]. کشککي،برهان الدین:رویداد لوی جرګهٔ دارالسلطنهٔ کابل،مطبع سنګی وزارت حربیه، ۱۳۰۳هـ ش، ۴۴۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انیس کې چاپ شوي دي. په هغو مضامینو کې دده له نامه سره په څنګ کې د (ترجمان اداره) کلمات لګېدلي دي.

مسقط ته دسفر په باب خو يې موږ دمخه د اروانښاد باچا خان بیان ولوست؛ هندوستان ته دویم سفر یې د کورنۍ د غړیو د لیدو او هم له ځینو سیاسي مشرانو سره د خبرو او لیدنو کتنو لپاره و. دغه راز ښاغلي بریالي باجوړي په خپله مقاله کې د خان عبدالغني خان په حواله کښلي دي: "پر ۱۹۴۵م کال زه د اسمبلۍ ممبر وم او په ډهلي کې وم چې دی (مخفي) ماته راغی او ما ته يې وویل چې زه اوه بال بچ لرم او د سکول په معاش مو ګوزاره نه کېږي، غواړم چې اسام ته لاړ شم او هلته پیش امام شم؛ دومره عاید به کېږي چې ګوزاره مو پرې وشي ما ورسره اسام ته په تلو کې مرسته وکړه او دی خپلې کورنۍ سره اسام ته لاړ...."[۱۷] اسام ته دمخفي دتګ او سفر همدا یو روایت موږ ته رسېدلی دی. بله منبع کې پدې باب څه نه مومو.

## (۲) وظایف:

د مخفي لومړنۍ رسمي وظیفه په مسقط کې وه. چې د ژبان دانۍ په وجه انګرېزانو دی د ترجمان په توګه په خپل سفارتي مشن کې واخیست (زما ژوند او جدوجهد، ۶۵مخ).

---

[۱۷] باجوړی، بریالی: د پښتونخوا نامتو شاعر او مبارز فضل محمود مخفي،کابل مجله، د ۱۳۶۶ هـ ش، کال ۳- ۴ ګڼه، ۹۲ مخ.

www.melltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انګرېزي اداره کې د ارواښاد مخفي لومړنۍ او وروستنۍ وظيفه همدا وه. په دې باب د ارواښاد عبدالاکبر خان اکبر (۱۸۹۹- ۱۹۷۷ع) بيان هم دکتو دی، ده ويلي دي:

"مسقط ته فرنګيانو د افريدو د ټوپکو راوړو په سلسله کې ليږلی و، په ۱۹۱۴ کې ده هم نوکري پرېښوده او د حاجي صاحب سره په هجرت لاړ... "[18]

وايي کله چې د اعليحضرت امان الله خان غازي په دوران کې (۱۳۳۷- ۱۳۴۷ ه ق) دی په کابل کې اوسېده، نو د استقلال په لېسه کې ښوونکی و. دا خبره ښاغلي حافظ په خپله يوه مقاله کې کړې ده، بل چا په دې باب څه نه دي ويلي.

دده بله رسمي وظيفه په کابل کې د انيس د ورځپاڼې ترجماني وه، خو ښاغلی نصرالله حافظ په خپله مقاله کې دا هم ليکلي دي: "کله چې په نادر شاهي عصر کې دی بېرته له کابله خپلې سيمې ته روان و" جلال آباد ته ورسېد، د اتحاد مشرقي مدير ترې خبر شو او وريې ورغی، د اتحاد مشرقي په اداره کې کاپي نويس او د مياشتې په ۲۵ روپو نوکر شو" [19]

دا خبره هم له ښاغلي حافظ پرته په بل سند کې زما تر سترګو نه ده تېره شوې. ښاغلي سليم په خپله مقاله کې ليکلي دي چې مخفي په خپله سيمه کې دالهلال د خبريال په توګه کار کاوه، د جهاد او د ملي مبارزو خبرونه به يې الهلال ته استول. دا خبره ښاغلي شلمان هم اخيستې ده. د فتح الرحمن د

---

[18] اکبر، عبد الاکبرخان: د روسی ترکستان او افغانستان سفرنامه، پېښور، حميديه پريس، ۹ مخ.

[19] حافظ، نصرالله: ارواښاد مولانا فضل محمود مخفي، د آزادۍ د بلې ډيوې پتنګ، آواز (مجله ۱۳۵۷ ه ش، ۱ ګڼه ۳۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصاحبې پر بنسټ مولوي مخفي يو وخت د book bourd Indian Text غړی و. يو ورځ د بورډ د نورو غړو مخ ته ده د درسي کتابونو په باب په انګرېزي ژبه خپل نظر بيان کړ. د بورډ ډايريکتر مولوي حافظ عبدالمجيد او معاون يې شاه- عالم خان حيران شول. دوی مخفي سره له مشورې پرته د هند حکومت ته پېشنهاد وکړ چې مولوي مخفي ته دې د دهلي يونيورستي له خوا د M.A افتخاري ډګري ورکړل شي. مګر مولوي مخفي دا افتخاري ډګري ونه منله..."

(د شلمان مقاله۴۴ مخ)

له دغو ملازمتونو پرته ده د خپل ژوند زياته برخه د خپلو خلکو بچو ته په تعليم او د دوی په روزنه تېره کړې ده. د مدرسو په جوړولو کې يې برخه اخيستې د مدرسو د سر پرستۍ او په ډېرو مدرسو کې يې د تدريس چارې سرته رسولي دي.

## د مدرسو له نهضت سره مرسته:

د شلمې پېړۍ په دوهمه لسيزه کې چې د پښتونخوا په سيمو کې له استعماري طاقتونو سره مبارزه پيل شوه. ددې مهال د مبارزې سرلارو دا محسوسه کړې وه چې تر ټولو دمخه بايد په خلکو کې ملي او سياسي شعور را ويښ کړي او نوی نسل بايد په استعمار ضد روحيه وروزي او د آينده مبارزې لپاره، په ملي او سياسي شعور سمبال يو لښکر را برابر کړي چې د خلکو په ويښولو، خپلو حقوقو ته د دوی د متوجه کولو او له ناوړه رسومو او دودونو سره د مبارزې په هڅو او کوښښونو کې د دوی مرستندوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې هدف د تحقق یوازینۍ لار دا وه چې ځوان نسل با سواده شي او زده کړه وکړي او د وخت له شرایطو سره سم باید مدرسې ورته جوړې کړي.

که څه هم د پښتونخوا په سیمو کې د مدرسو جوړولو نهضت د انجمن اصلاح الافاغنه تر تأسیس دمخه پیل شوی و، خو کله چې دا انجمن جوړ شو، نو اساسي توجه یې د پښتنو د باسوادولو او له دوی سره د تعلیم د شوق پیدا کولو ته مبذول کړه. د انجمن اصلاح الافاغنه د وظایفو په لومړۍ ماده کې راغلي وو: " په قوم کې د آزاد اسلامي تعلیم شوق پیدا کول... [20]

کله چې باچا خان د حج او منځني ختیځ له سفره بېرته را وګرځېد، نو یې تعلیمي مسایلو ته زیاته توجه وکړه. د ښوونځیو شمېر یې زیات کړ او د اتمانزو آزاد سکول کې د وطن بچو د روزنې کار په ښه زور شور کې شروع شو او د دیني علومو تر څنګه به شاګردانو ته عصري علوم هم ښوول کېدل او د پښتونخوا له لیرې سیمو په زیاته له قبایلي سیمو نه به هلکان د زده کړې لپاره دې ښوونځي ته را تلل[21]. اما مخفي د استاد رښتین د بیان مطابق لومړی ځل د ګُدر په مشهور دارالعلوم (تأسیس ۱۹۱۰ م) کې له مولوي تاج محمد خان (۱۳۴۴هـ ش مړ) سره مدرس مقرر شو.

(نومیالي پوهان ۹۳ مخ).

---

[20] رفیع، حبیب الله: ژبپالنه- پښتو ټولنه- کابل، آریانا مطبعه، ۱۳۶۱ هـ ش، ۱۲۵ مخ.

[21] خان عبدالولی خان: باچا خان او خدایي خدمتګاري، چاپ ځی، پېښور، ۱۹۹۳ع، ۶۷- ۶۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترنګزو د حاجي صاحب زوی فضل شاه باچا هم د ګدر په دارالعلوم د مخفي د تدريس خبره تاييد کړې ده.[22] ده د خپل جدوجهد او ژوند په دوران کې په ډېرو نورو مدرسو کې هم د تدريس چارې پر مخ بيولې دي؛ په لکړو نومي ځای کې چې د مجاهدو ډلو له خوا کومه مدرسه قايمه شوې وه، په دې مدرسه کې هم ده له تاج محمد خان او مولوي شنکر ګل صاحب سره يوځای شاګردانو ته سبقونه ښودل.

کله چې دی په دير کې اوسېده، نو په خالونو نومي سيمه کې يې مدرسه جوړه کړه او د استاد رښتين د وينا مطابق پنځه کاله ده دا مدرسه و چلوله.

وايي: په ډېره لږه موده کې د دير د خالونو د مدرسې د شاګردانو شمېر (۶۰۰) ته ورسېد.(د شلمان په مقاله کې دا شمېر ۴۰۰ ښوول شوی دی) د ملکنډ پوليټکل ايجنټ چې د پښتنو د بيدارۍ ضد و، نو يې د دير نواب ته ولیکل چې له تعليم سره ډېر مشکلات تړلي دي او هر وخت د انګرېز حکومت ته مشکلات پيدا کولی شي او ښايي تا ته هم مشکل ايجاد کا، نو پکار دي چې دا ښوونځی بند کړې. له پوليټکل ايجنټ سره له دې ملاقاته وروسته د دير نواب دا مدرسه بنده کړه. کله چې د اعليحضرت امان الله خان له سقوط سره سم دی له کابله ووت او له لوګره باجوړ ته لاړ، نو په ډنډ نومي ځای کې يې هلته يوه مدرسه جوړه کړه او کابل ته تر دوهم ځلي راتګه پورې هورې و. (نوميالي پوهان ۹۵ مخ).

---

[22] رښتين، پوهاند صديق الله: د مهتمم ژوند، يونيورستي بك ايجنسي، پيښور، ۱۹۸۸ع ۱۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوځای راغلي دي چې په ۱۹۳۴ ع کال مخفي د اتمانزو په های سکول کې ښوونکی و. ښاغلی شلمان دا کال ۱۹۳۵م ښوولی دی. استاد رښتین بیا ویلي دي چې دی د رځړو په اسلامي سکول کې د عربي او انګرېزي ژبو معلم و تاکل شو او دیارلس - څوارلس کاله عمر یې په معلمۍ کې تېر شو. د ماسترعبدالکریم د وینا مطابق په ۱۹۴۶ع کال کې د دیر نواب بیا دی وغوښت او د دیر سکول یې ورته حواله کړ.

ښاغلي سلیم په خپله مقاله کې دا خبره ښه پسې روښانه کړې او لیکلي یې دي: " د مخفي صیب وراره چې د هغه زوم هم دی ماسټر فتح الرحمن په دغو ورځو کې د دیر د نواب زوی (خان جندول شهاب الدین) استاد و. هغه نواب ته سفارش وکړ او مخفي صیب له یې پرې دیر کې ځای ورکړو. دلته یې په یو سکول کې هیډ ماسټر مقرر کړو... " دا خبرې د مخفي د هغه لیك له مخې هم ثابتېږي چې د ښاغلي فضل زمان شلمان په کتابخانه کې ساتل کېږي. ښاغلي شلمان د مخفي په باب د خپلې انګریزي مقالې یو ځای لیکلي دي: د(۱۳۶۶هـ ق د ربیع الاخر ۴ مه/ د ۱۹۴۶ م کال د مارچ ۸ مه) د دیر دنواب په ستاینه کې د مخفي ویلی شعر- کله چې نواب دیر ښارته راغی- د ښوونځي د اداري هیئت له خوا هغه ته وړاندې شو. مخفي د همد غه ښوونځي هیډ ماسټر و. همدا ډول خبرې د ښاغلي ننګرهاري په مقاله، د همېش خلیل په پښتانه لیکوال او پښتانه شعراء کې هم راغلي دي. چا لیکلي چې دیر ته د ببرته تګ په وخت کې د دیر سکول ور حواله شو، چا ویلي هیډ ماسټر شو او چا ویلي اول مدرس شو. کله چې د ۱۳۶۶ هـ ش کال په قوس کې په کابل کې د مخفي سیمینار جوړ شو، نو دغه خبرې په هغه سیمینار کې هم وشوې. د پښتو ژبې منلی لیکوال او انقلابي شاعر ښاغلي اجمل خټك وویل چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره سمه نه ده څکه دير نواب ګرد سره له علم سره آشنا نه و، نو په دير کې سکول له کومه شو؟ ما هلته د دغه مشر اديب پر وړاندې څه ونه ويل، خو په دی ارتباط اسناد مې بيا په جرګه مجله کې خپاره کړل [۲۳]

له لوړو منابعو سربېره د ښاغلي شلمان په مقاله کې د مخفي د تدريسي چارو په باب منظمې خبرې راغلې دي چې ځينې يې نوې دي او ځينې يې پخوانۍ زما تراستفادې لاندې منابعو کې هم راغلي دي. خوښنګه چې يو تسلسل لري په لنډيز يې دلته را اخلم:

شلمان راوړي دي:"کله چې مولوي مخفي له هنده بېرته را وګرځېد، نو دی د مردان د ګُدر په دارالعلوم کې مدرس و. بيا يې د مومندو په غازي آباد کې ښوونځی جوړ کړ او هلته يې د ښوونکي په حيث وظيفه اجرا کوله. کله چې (۱۹۳۵م) دی د اتمانزو په آزاد سکول کې ښوونکی و، نو د هغو ښوونځيو د ليدلو، سرپرستۍ او تدريس لپاره هم ورته، چې يې په باجوړ او مومندو کې جوړ کړي وو. دغو سيمو ته يې تګ راتګ درلود.

له لوړو ټولو بيانونوڅخه موږ دا نتيجه را اخلو چې تر زده کړو وروسته چې مولوي مخفي کوم وظايف اجرا کړي، ځينې يې د ترجمانۍ کارونه وو او نور زيا تره تدريسي وو. څکه ده د وطن د بچو له روزلو سره د زړه مينه درلوده، د علم او پوهې ترويج يې د سياسي او ملي اهدافو د تحقق لپاره يوازينۍ لاره بلله او د ژوند تر پايه د تدريس په چارو مشغول پاتې شو.

---

[۲۳] هيوادمل، زلمی: د ارواښاد مخفي په باب د پښتو تذکرو د ليکنو کره کتنه، جرګه (مجله ۱۳۶۸ هـ ش، ۱ ګڼه، ۷۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۳) سیاسي مبارزه او مخفي:

د مخفي او دده د اصلاح طلبو او مبارزو ملګرو: له ده د مشرانو او کشرانو، د ژوند او مبارزې یو هدف دا و، چې د ملك د آزادۍ لپاره د مبارزې (جدوجهد) تر څنګه د پښتنو د اصلاح، روزنې او په پوهه د دوی د سمبالتیا لپاره هم کار وکړي. د همدغو مفکورو په رڼا کې چې به چېرې مخفي او دده د جدوجهد د لارې ملګری تلل، نو به یې هورې د مدرسو د جوړولو او د خلکو د تنویر کار هم کاوه. په مخنیو برخو کې تاسې د مدرسو په جوړو لو او د تدریس په چارو کې د مخفي دسهم بحثونه ولوستل. دغو مدرسو جوړلو موخه سیاسي هم وه او فرهنګي هم. په مدرسو کې د تدریس له کارونو سربېره، مخفي د خپل ژوند زیاتره برخه په سیاسي هلو ځلو او د ملك د آزادۍ په لاره کې په مبارزه تېره کړې ده.

هغه وخت چې مخفي نړۍ ته سترګې پرانیستې، د هند په نیمه وچه او د پښتونخوا پر سیمو انګرېزي استعمار خپلې منګولې ښخې کړې وې او هغه د ښاغلي سلیم خبره: " مخفي صیب د غلامۍ په زنځیرونو تړلي ماحول کې سترګې پرانستې، دا هغه ورځې وې چې د هندوستان هواګانې به د انګرېزانو په حکم چلېدې". په دغسې شرایطو کې مخفي وزوکېد، لوی شوی او مدرسې ته لاړ او د سر په سترګو یې د پردو واکمنې ولیدله، نو د پردو د حکومت پر وړاندې له ده سره نفرت د تعلیم په زمانه کې پیدا شوی و او کله چې دیوبند ته لاړ او هلته له مولانا محمود الحسن او نورو سره آشنا شو او د عملي مبارزې لپاره یې له حزب الله سره تړون ومونډ نو د مبارزې روحیه یې نوره هم پیاوړې شوه. (پښتانه لیکوال ۲۳ مخ)

www.meiltanrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي شلمان هم په خپله مقاله کې (د تحریك شیخ الهند) په حواله لیکلي دي چې مولانا مخفي د شیخ الهند (مولانا محمود الحسن) له ډېرو ښو او ده ته نژدې شاګردانو څخه و او د ده په مشوره حزب الله تـل ته ولاړ. دبریتانوي هندو د حکومت په یوه سند کې هم دی د محمود الحسن له پیروانو څخه ګڼل شوی دی.

په پښتونخوا کې هم د ترنګزو د حاجي صاحب په مشرۍ ځینو علماوو او مشرانو د انګرېزانو خلاف څه حرکتونه شروع کړي وو.

شیخ الهند په ۱۹۱۰م کال د مخفي په شمول یو هیئت له هنده دې سیمې ته را ولېږه او دا یې غوښتل چې د پښتنو مشرانو سره روابطه قایم شي، په دې حساب د انګرېزي استعمار پرضد د مخفي عملي مبارزه له همدغه کاله پیل شوې ده.

د حزب الله په باب د استاد عبدالحی حبیبي توضیح زموږ د لوړ تیسس له ثبوت سره مرسته کوي. (ترجمه): " دا د بریتانیا تر واکمنۍ لاندې په پښتنو کې لومړنی سیاسي او اصلاحي حرکت او د سیاسي بیدارۍ پیل و.

دا حرکت د ترنګزو حاجي صاحب (فضل واحد) او دده ملګري مولوي عبدالعزیز اتمانزی (۱۹۳۴ م مړ) شروع کړ. دغه جمیعت اصلاحي او سیاسي مرام درلود، مولانا سیف الرحمن الکوزي (۱۲۵۹- ۱۳۶۹ هـ ق) مولوي فضل ربي (۱۳۲۵هـ ش مړ. لوګر) د پښتو شاعر فضل محمود- مخفي (۱۹۴۷ م مړ) ددې حزب سرلاري وو. حزب الله دوه مرامه درلودل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول د خلکو اجتماعي اصلاح... او دوهم د آزادۍ د حاصلولو کوښښ او د جهاد تعمیم... "[۲۴]

اما ارواښاد باچاخان په دې باور دی چې په مسقط کې د انګرېز په سفارتي مشن کې ترجماني دده د سیاسي شعور په را ویښولو او په ده کې د قامي جذبې په پیداکولو کې خاص اغېز درلودلی دی. د باچا خان نظر په خپل ځای سم دی، ځکه کېدای شي، هغه ملي سیاسي شعور چې د مخفي په مغزو کې د تحصیل په زمانه کې را ویښ شوی و، د دې نوکرۍ پر مهال به یې نوې غزونې کړې وي او په عملي سیاسي جدوجهد کې به یې لاشور او زور پیدا شوي وي او لکه څنګه چې دمخه د ارواښاد اکبر په یادونو کې راغلل چې ده په مسقط کې د انګرېزانو نوکري پرېښوه او د قوم خدمت ته یې ملا وتړله.

کله چې ده د انګرېز نوکري پرېښوده، نو د خپلې سیمې له مبارزانو او قومي مشرانو سره یې روابط زیات شول چې په دې ډله کې مونږ د ترنګزو حاجي صاحب فضل واحد (۱۸۳۲ - ۱۹۳۷ع) مولوي عبدالعزیز، مولوي تاج محمد او فخر افغان باچا خان نومونه یادولای شو.

دا د ۱۹۱۴ ع کال شاوخوا زمانه وه چې مخفي په ممتد ډول عملي جدوجهد پیل کړی و. د قوم د ویښولو او پوهولو په لاره کې یې له نورو قوم پرستو سره اوږه په اوږه مبارزه کوله.

---

[۲۴] حبیبی، عبداالحی: جنبش مشروطیت در افغانستان، سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان، پشاور، ۱۳۷۷.ص ۱۰۳.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروابناد ماستر عبدالکریم د مخفي له خولې لیکلي دي: " مخفي صاحب به ماته کیسې کولې چې مونږ به چرته د خبرو اترو لپاره یوځای کېدو، نو د باچا خان د کور لارې اړخ ته یوه وړه کوټه فخر افغان زمونږ لپاره بیتهك کړې وه، ددې کوټې ورونه به مونږ دننه نه پورې کړه، باچا خان به غني په غېږ کې د کوره را ووست، دی به په قالین ستوني ستغ پروت و، لتې به یې وهلې، غنټه ګوته به یې رودله او مونږ به د قام ویر کاوه او چې چرته به ما نوی نظم اوروو، نو غني به راته شنې سترګې اړولې او خندل به یې.... "

د ترنګزو حاجي صاحب د انګریز خلاف د جهاد لپاره د قبایلو د ویښولو په منظور آزادو سرحدونو ته هجرت وکړ، نو د مهاجرانو په دې ډله کې له حاجي صاحب سره، مخفي صاحب، مهتمم صاحب (مولوی تاج محمد) مولوي عبدالعزیز صاحب هم ملګری وو (زما ژوند او جدوجهد، ۱۰۹ مخ) د استاد رښتین په مقاله کې د نورو نومونو تر څنګه د مولوي سیف الرحمن (۱۳۲۸ هـ ش مړ) نوم هم شامل دی (د رښتین مقاله، ۹ مخ).

د افغانستان نومیالی مؤرخ اروابناد میر غلام محمد غبار (۱۳۵۶هـ ش مړ) په خپل مشهور اثر افغانستان در مسیر تاریخ کې د افغانستان په سرحدي سیمو کې د مخفي او نورو ملي مبارزانو مثبت کردار ته ځینې ښې اشارې لري. ده لیکلي دي چې کله په ۱۹۱۴ ع کال نړیوال جنګ پیل شو، د افغانستان په سرحدي او آزادو ولایاتو کې د انګرېزانو پرضد سیاسي، نظامي فعالیتونه شروع وو. ملي مشران، لکه اخونزاده فضل محمود او د ترنګزو حاجی صاحب او نور په عملي جدوجهد مشغول وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دوی تـه بـه مـالي امـداد او هدايتونـه د اميـر حبيـب الله ورور نايـب السلطنه سردار نصرالله خان او د ده مامورينو ورکول[۲۵]

ښاغلي شلمان پـه خپلـه مقالـه کـې راوړي دي چـې د ترنګـزو حـاجي صاحب د ۱۹۱۹ م کال د جون ۳۰ مه د مولوي مخفـي پـه ګډون يوهيئـت کابل تـه ولېږه چې لـه سردار نصرالله خان سـره د انګرېز ضد سـتراتيژي هماهنګه کړي او خپل ورور اميرحبيب الله خان وهڅوي، څو د انګرېـز پـر ضد د جنګ جبهه پرانيزي. سردار نصرالله خان د حاجي صاحب لـه نهضت او جدو جهد سره دلچسي درلوده، د وسلو او پيسـو مرسته يې هم کولـه. هيئت کابل تـه ولاړ ملاقاتونـه يې و کړل خو لـه مولانا عبيـد الله سندهي سره اوسېده.

(۴۱ مخ).

مولوي مخفي لـه کابلـه د سردار نصرالله خان لـه يـو پيغـام سره بېرتـه راستون شو او د۱۹۱۶ م کال د جولای مياشت کې يې د ترنګزو لـه حـاجي صاحب سره وليدل.

ويل کېږي چې مولـوي مخفي بېرتـه بيـا کابـل تـه ولاړ او پـه کابـل کـې پاتې شو او ددې ځای په سياسي سرګرميو کې محشـور و او د يـو روايـت لـه مخـې د اعتـدال پسـندو پـه ډ لـه کـې شـامل شو او د مولانـا عبيـدالله سـندهي پـه وسـيله يـې امـان الله خـان تـه رسـايي وشـوه (پښتـانه ليکوال ۲۳مخ).

---

[۲۵] غبار، مير غلام محمد: افغانستان در مسير تاريخ، چاپ دوم، رياست نشرات وزارت اطلاعات و کلتور، مطبعه طبع کتب، کابل ۱۳۷۰ هـ ش، ص ۴۶۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي شلمان په شمول د پښتونخوا ځیني مشران او کشران لیکوال د افغانستان د هغه وخت په سیاسي نهضتونو او د امیر حبیب الله خان د قتل په پېښه کې مولوي مخفي هم شامل ګڼي او وایي چې مخفي د افغانستان پاچهۍ ته د امان الله خان د رسېدو او عروج پلوی او د ده حامي و. (د شلمان مقاله ۴۱مخ) مګر په افغانستان کې چې د سیاسي نهضتونو په باب کوم کتابونه لیکل شوي په هغو کې زه د مخفي په نوم نه یم پېښ شوی او یا هم چې د امیر د قتل د ماجرا په باب لیکلي آثار زما له نظره تېر شوي. پدې ماجرا کې د مخفي ذکر چانه دی کړی. پدې باب له متاخرو تاریخي کتابونو څخه د میر محمد صدیق فرهنګ افغانستان در پنج قرن اخیر د ۲جلد صص ۴۷۷-۴۸۰ د امیر قتل ماجرا راغلې خو د مخفي نوم پکې نشته. شلمان په خپله مقاله کې زیاته کړې ده چې امان الله خان په کابل کې د او سېدونکیو هندي انقلابیونو له ډلې ځو تنه، د خپلو مشاورینو په توګه غوره کړل چې مولوي مخفي هم پکې و.

مخفي په ۱۹۲۰ م کال له کابله د باجوړ له لارې هشنغر ته راغی او دلته یې له باچا خان سره د خپلې سیمې د سیاسي، اجتماعي او تعلیمي وضعې په باب اوږده بحثونه وکړل. ځیني څېړونکي په دې عقیده دي چې د همدغو بحثونو په نیتجه کې باچاخان او ملګرو انجمن اصلاح الافاغنه تاسیس کړ چې عمده اهداف یې د تعلیم عامول، له بې ځایه رسومو او عنعنوسره مقابله او د خلکو ویښول وو.

(دشلمان مقاله، ۴۱ مخ)

مګر اروا ښاد باچاخان په خپل اثر (زما ژوند او جدو- جهد) کې د ټولو هغو کسانو نومونه راوړي دي چې انجمن اصلاح الافاغنه د جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او آزاد سکول په تاسیس کې د ده ملګري وو. د دواړو موسسو په موسسینو کې د مولوي مخفي نوم نشته (زما ژوند او جدوجهد دویم چاپ ۱۷۰مخ) خو د محمد اکبر خادم له یوه نظمه- چې وروستیو بحثونو کې به یې بیان را شي ښکاري، چې مولوي مخفي د انجمن په اعضاوو کې شامل و.

مولوي مخفي ښورانده او ګرځنده سړی و. د خپلو ملي او سیاسي مبارزې په دوران کې یې پر یوځای تیکاو نه کاوه، کله به یو ځای او کله بل ځای ګرځېده او هر ځای به یې د خپلو ملي اهدافو د تحقق لپاره کار کاوه او زیار یې ایست.

د دیر، سوات او چترال ایجنسي د انګرېزي انتظامیې او د صوبې د نورو امنیتي ادارو له ځینو اسنادو- چې د ۱۹۲۴م کال په بېلا بېلو میاشتو کې لیکل شوي- ښکاره شوي چې مخفي په دیر او باجوړ کې ثه سرګرمۍ درلودې، خلک یې د انګرېزي تسلط پرضد هڅول. ډېرو دیني علماوو او خلکو یې ملاتړ کاوه. دده دا ډول فعالیتونه او د مدرسو پالنه د دوی خوښ نه وو.

د همدې ۱۹۲۴ م کال د مارچ پر۲۲ مه چېف کمشنر H.N.Bolton د دیر نواب ته د مولوي مخفي د تحریکاتو او هلوځلو په باب یو لیك وراستوی او د دیر نواب په ځواب کې ورته کاږي چې ما مولوي مخفي او ملګري یې دیر ته له ورننوتو منع کړی دي او بیا حکم ورکوم چې مخفي دې خاورې ته داخل نه شي. په نتیجه کې د دیر نواب مخفي ونیو او انګرېز ته یې په لاس ورکړ. مخفي تر خلاصېدو وروسته باجوړ ته ورغی او د اعلیحضرت امان الله خان پر ضد له روانو توطیو خبر شو او دی هم کابل ته ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۲۴ م کال کې یې د پغمان په لویه جرګه کې ګډون وکړ. د ځینو اسنادو له مخې له کابله د امان الله خان تر وتلو او د امیر حبیب الله کلکانی د پاچا کېدو پر مهال هم دی په کابل کې و. له کابله لوګر ته ولاړ او له هغه ځایه بېرته د آزاد سرحد سیمو ته ولاړ. خپل کلي ډند او باجوړ کې اوسېده. د تعلیم د خورولو هڅه او د انګرېزي استعمار ضد پرو پاګنډه یې جاري ساتل.

د مولوي مخفي د سیاسي مبارزې پدې شپو ورځو کې اعلیحضرت محمد نادرشاه د افغانستان پاچا و. اعلیحضرت څو ځله مخفي ته د افغانستان د راتګ بلنه ورکړې وه. بالاخره مخفي په ۱۹۳۱ م کال کابل ته ورغی. له اعلیحضرت سره یې ولیدل. د شلمان د لیکنې مطابق، ده له اعلیحضرت محمد نادر شاه غازي سره د افغانستان، هندوستان او اسلامی نړی پراحوالواو او ضاعو بحثونه وکړل او ځینې پیشنهادونه یې هم ور وړاندې کړل. د شلمان د لیکنو مطابق پاچا پیشنهادونه په اهانت سره رد کړل. مولانا کابل پر ښود او له ننګرهاره کامې ته راغی د روحاني شخصیت محمد صاحبزاده سره یې ولیدل.

ښایي داخبره سمه وي چې مولوي مخفي دې له اعلیحضرت سره لیدلي وي. مګر په اهانت دده پیشنهادونه ردول او بیا سملاسي د مخفي له خوا د کابل د پرېښودلو موضوع ما ته سمه نه ښکاري. که به داسې وای نو مولوي مخفي بیا ځنګه همدغه مهال په انیس ورځپاڼه کې کار کاوه، په ۱۳۱۱/ ۱۹۳۲م کال دی د انیس ترجمان و.

ښاغلی شلمان د ښاغلي محمد شفیع صابر د شخصیات سرحد په حواله لیکلي دي چې مولانا مخفي د۱۹۳۳ م کال د نومبر په ۸ مه پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورسېد او له سياسي مشرانو او شخصيتونو سره د رابطې لپاره دى هلته پاته و. له شخصيات سرحد څخه چې ما کوم يادښتونه اخيستي دي. د دغه کتاب د **۵۷۲** مخ د بيان له مخې: په **۱۹۳۴**م کال مخفي چارسدې ته راغی، فرنګي ونيو او يو کال بندي شو.

د فتح الرحمن د يوې مصاحبې په بنا د ښاغلي شلمان په مقاله کې راغلي دي چې مخفي د ۱۹۳۶ م کال د مارچ په ۲۳مه هندوستان ته ولاړ. د روړکې د دارالعلوم له مهتمم مولانا عذير ګل او هم مولانا حسين احمد مدني او له مولانا کفايت الله سره يې اوږده ملاقاتونه وشول. په کلکته کې يې د مولانا ابوالکلام آزاد سره وليدل او په ډاکه کې يې حبيب الرحمن وليد او په حبيب ګنج کې يې له ډاکتر عبدالکريم سره وليدل. له دغو ټولو لويو شخصيتونو سره دده د خبرو او مباحثو اساسي موضوع آزادي وه. په پای کې يې درې هفتې په اګره کې د خپلې کورنۍ له غړي صديق سره تېرې کړې او تر ستنېدو وروسته په خپل کلي ماڼوګي کې مېشت شو. د تعيلم د عاملو او سياسي بيدارۍ په لاره کې يې خپلو هڅو ته دوام ورکاوه.

ښاغلي شلمان په خپله ليکنه د مولوي مخفي د سياسي فعاليتونو په وروستيو برخوکې دا خبره هم کړې ده چې: مولوي مخفي پدې پوه شوي وچې All India Congress د پښتنو په وينه سودا کوي. پدې باب هغه له پاچا خان او نورو مشرانو سره اوږده ملاقاتونه وکړل او په نتيجه کې د زلمي پښتون په نامه يو وسله وال تنظيم جوړ شو او د آزادۍ په لاس ته راوړو کې منظم قوت هم استعمال شو" (مقاله **۴۳** مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه د ښـاغلي شـلمان مقصـد هغـه زلمـی پښـتون وي چـې د اروانښـاد عبـدالغني (۱۹۱۴-۱۹۹۶ م) پـه مشـری جـوړ شـوی و او د دې تنظـيم د جوړېدو پـه بـاب بـاوري خبـرې د اروانښـاد بـاچا خـان دي. دی ليکـي: «هغـه وخت چې زموږ خلك دميجر خورشيد د دې ارادې او سكيم نه خبر شـول. هغوی د خدايي خدمتگارو د حفاظت لپاره نوی جماعت د غني په مشری کې جوړ کړو چې نوم يې (زلمی پښتون) و او پدې کـې هغـه ځوانـان شريك شـول چـې د چـا عقيـده پـه عـدم تشـد دبانـدې نـه وه او دا يـې ويـل: چـې دا جماعـت صـرف د خـدايي خدمتگارو د حفاظت دپـاره دی " (زمـا ژونـد او جـد و جهـد (دويـم چـاپ۷۲۶-۷۲۷ مخونـه) د دې تنظـيم د جوړولـو او اهدافو په باره کې چې باچا خان کومې خبرې کړې دي، له هغو څخه دا نـه ښکاري چې مولوي مخفي دې د دې تنظيم د جوړولو مشـوره ورکـړې وي او پدې باب چې باچا خان مرحوم کوم بيان کړی دی هلته د مولوي مخفـي هېڅ ذکر نشته.

فضل محمود مخفي د سياسـی مبارزې، د تعيلم د عـامولو او د خلكـو د بيـــداری د هڅـــو پـــه لـــړ کـــې ډېـــرې در بـــه دری، هجرتونـــه او سفرونه،کړاوونه، قيد و بند او نور ډېر مشـكلات پـر ځـان ومنـل. شـاوخوا ۳۶ کالـه ده پـه افغانسـتان او آزادو سـرحدي علاقـو او هندوسـتان کـې د علم او پوهې په خورولو، بچو ته په تدريس، د قام پـه بيـداری او د انگرېز خلاف په عملي مبـارزو کـې تيـر کـړل. پـه آزادو سـرحدي سيمو کـې يـې لـه انگرېز سره په شوو ځينو غزاوو کې برخه هم درلوده.

استـاد رښـتين پـه خپلـه مقالـه کـې ويلـي دي، چـې مخفـي د بـاجوړ او مومندو په غزاگانو کې برخه واخيسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګرېز خلاف په همدغو غزاګانو کې د شرکت په نتیجه کې دی غازي هم بلل شوی دی. همدا وجه ده چې ښاغلی محمد ولي ځلمی په خپل کتاب زموږ غازیان [26] کې د اروابښاد مخفي لنډ شرح حال راوړی دی او دی یې د غازیانو په ډله کې حساب کړی دی.

د ملي مبارزې په کلونو کې د مخفي ژوند له ډېرو ستونزو او تکالیفو سره مل تېرشو. دی بې وسه و. شته یې نه درلودل، خو عالي همت ورسره و، د خپل ایمان او لوړ همت په زور یې له مصایبو او آلامو سره مبارزه کوله او خپل ملي، وطني او اسلامي مقدس اهداف یې د توري او قلم دواړو له لیارې پر مخ بیول او د ژوند تر پایه یې: د دوکتور یا رمحمد مغموم خټک په وینا: " د انګرېز دښمنه سیاست د فعال رکن" [27] په توګه خپل هدف پرې نښود. د وطن د آزادۍ لپاره له خپله سره تېر و، نه یې د انګرېز د پروپاګنډو خیال ساته اونه یې د چا خبرو ته کتل. ښاغلي شلمان په خپله مقاله کې د (who is who in Dir, swat and chtral agency) د ۱۹۳۷ م کال د دهلي چاپ د ۱۵ مخ په حواله لیکلي دي چې انګریزانو دی د بولشویکانو اجنټ باله. (۳۹ مخ). ملي مبارزین او وطني خلك تل د استعمار او د استعمار د ګوډاګیانو له خوا د نورو د اجنټانو په نامه بدنامېږي. ځنګه چې مخفي د انګرېز ضد شخص و او ددوی په وړاندې یې مبارزه کوله، نو ځکه یې دی د هغه خلکو اجنټ بللی چې انګرېزان یې

---

[26] ځلمی، محمد ولي: زموږ غازیان، دافغانستان دعلومو اکادمي، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۸ هـ ش. ۲۷۲ – ۲۱۳ مخونه.

[27] مغموم خټک. دوکتور یارمحمد: دآزادۍ تحریك او پښتو شاعري، پېښور.۲۰۰۷، ۱۸۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هند د نیمې وچې خواته له پیشروی بیریدل؛ خپل مخالفان او ملي مبارزران یې د دوی اجنټان بلل.

د ارواښاد ماسټر عبدالکریم لیکنه هم د لوړو خبرو ملاتړ کوي. دی لیکلي دي: " د دیر ریاست په میدان نومي علاقه کې مخفي صاحب دوکړې خان ته د قرآن ترجمه ښووله، دوکړې کې یو مکتب و، د دغه مکتب استاذ په دې خیال چې د دوکړې خان د مکتب استاذي چرته مخفي صاحب ته نه کړي ور، نو یې د دیر نواب ته چغلي وکړې چې مخفي صاحب ځای ځای د قوم قوم خبرې کوي او دی ستا خلاف د بغاوت بندوبستونه تړي. په دغه ورځو کې په قام مین او د قام رښتیني خادم به باغي ګڼلی شو. نواب صاحب ولګیدو مخفي صاحب یې د ملکنډ پولتیکل ته حواله کړو او هغه هشنغر ته ولیږه، دلته ما په آزاد سکول کې د ځان سره استاذ واغشت، دا ورځې د مخفي صاحب د استاذۍ نه وې، نه هغه ته د لیك لوست څه طاقت پاتې و. ما به تش د باچا خان او حاجي صاحب ترنګزو د یو ملګري په صفت مرسته ورسره کوله... " (د ماسټر مقاله ص۸).

که د مرحوم ماسټر لوړې خبرې په (۱۹۳۵ م) کال پورې تړلې وي نو مخفي خو په دې کال دومره مانده نه و چې د لیك لوست طاقت دې ونه لري. کله چې دی په ۱۹۳۶ م کالي کې هند ته ولاړ له ډېرو سیاسي مشرانو سره یې ولیدل او بیا د بېرته ستنېدو سره سم یې په ماڼوګي کې سیاسي او تعلیمي سرګرمۍ درلودې او په خلکو کې د ماڼوګي ملا په نامه مشهور شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومې خبرې چې مرحوم ماسټر کړي دي، دا بیان کېدای شي د شلمې پېړۍ د څلوېښتمو کلونو په لومړیو څلورو کلونو پورې اړه لري ځکه دا وخت دده ژوند وروستي کلونه هم وو، د فضل معبود مرګ هم ډېر کړولی و د زماني ناخوالو هم. نو د ماسټر په قول په دغسې احوالو او اوضاعو کې بیا طبیعي ایسي چې دا وخت به نو د د استاذۍ نه وو.

## د مخفي وروستی ژوند:

د مخفي د وروستي ژوند په باب معلومات شته خو ګډوډ او سره مروړلي چې پرځینو سل په سلو کې اعتبار نشي کېدای. ځینې پېښې او خبرې داسې له نورو واقعاتو سره مخلوط شوي دي چې څېړونکي او لوستونکي دواړه مشکوک کړي.

اما یوه خبره چې کابو په زیاتو باوري اسنادو کې راغلي هغه دا ده چې مخفي د ژوند په وروستیو کې (۱۹۴۶م- ۱۹۴۷م) په ډیرکې و.

خو د ده ژوند د وروستیو کلونو په باب یو روایت د مرحوم عبدالغني خان دی. د هغه له خولې روایت شوی دی: چې په **۱۹۴۵**م کال زه په دهلي کې د اسامبلۍ ممبر وم. مخفي ما په دهلي کې ولیدو له ما یې وغوښتل چې اسام ته په ورتګ کې ورسره مرسته وکړم. د دې روایت مطابق، چې وروسته به یې تفصیل راشي، د ژوند تر پایه په هند کې پاته شو.

د دې روایت لومړۍ برخه یعنې په **۱۹۴۵** م کال کې هند ته د مخفي بیاتګ له احتماله لیرې خبره نه ده، ځکه غني خان وایي چې زه داسمبلۍ ممبر وم دی مې په دهلي کې ولید، خو د روایت د دویمې برخې د منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره هیڅ دلیل نشته. کیدای شي پدې **۱۹۴۵**م کال هند ته تللی وي او اسام ته هم، خو بیا بېرته راغلی دی او د ژوند وروستي کلونه یا کال یې په دیر کې و.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

« ۲ »

# د مخفي مړینه او مزار

د پښتو د دغه نومیالي شاعر او مجاهد شخصیت فضل محمود مخفي د مړینې د ځای او مدفن په باب ټول ماخذ یوه خوله نه دي او موږ په دې ارتباط درې ډوله نظریات لیدلای شو.

(۱) د ارواښاد فضل محمود مخفي تر مړینې ۱۹ ورځې وروسته دده د مړینې خبر په پښتون مطبوعاتو کې خپور شوی دی. په پښتون مجله کښې راغلي دي: "د پښتو په لوستونکو به دا خبره ډېره دردناکه ولګي، چې د مئ په ۲۸ تاریخ باندې زمونږ قدردان د پښتو منلی شوی ادیب فضل محمود صاحب مخفي، ددې دنیا نه بلې دنیا ته هجرت وکړو، انا لِلهِ و انا الیه راجعون، خدای دې مخفي صاحب وبخښي! مخفي صاحب په یوه ساده لباس کښې منلی قدردان شاعر و، مخفي صاحب چې په کوم عمل سره د پښتون او پښتو ژبې خدمت کړی دی، د هغې مثال د اټك نه په را ایسته زمکه کښې نه شي موندلی. مخفي صاحب چې په پښتنو باندې د پښتو د خدمت کوم احسانات کړي دي، د هغې بیان ګران دی، مخفي صاحب زما په خیال چې د پښتنو بچی بچی یې ډېر ښه پېژني، چې مخفي صاحب د حقیقت په معنی کښې د کومې بلندې پایې هستۍ وه، زما په خیال په پښتنو کښې داسې ډېر کم خلق به پیدا شي چې هغوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه د مخفي صاحب په شان د پښتو ژبې خدمت وکړي او مخفي صاحب چې خالص د پښتون اخبار دپاره کوم خدمات کړي دي، مونږ د هغې زرينو ادبياتو، خيالاتو او اوچتې پايې جذباتو ډېر احسان مند يو، ځکه چې مونږ د هغې هيڅ قيمت نشو ادا کولای.

د مخفي صاحب د مصيبت ناك مرګ د پښتنو دپاره ډېره لويه صدمه ده، ولې پښتانه به هيچېرې مخفي صاحب هير نه کړي او د پښتنو واړه بچي به تر قيامته پورې د مخفي صاحب د ياد ساتلو دپاره "خاونده ته ودانه کړې" ترانه هر سهار د اتمانزو په آزاد سکول کې لولي.

په آخر کښې مونږ د پښتون د ادارې د طرف نه د هغه د پسمانده ګانو سره دلي همدردي کوو او دعا ورته کوو، چې يا الله تعالی ته مخفي صاحب و بخښې !" [۲۸].

په پښتون کښې د مخفي د مړينې په ارتباط ددې يادونې تر څنګه د مخفي پر مړينه د پښتو ژبې د شاعر کرامت شاه پولاد ويلې مرثيه راغلې ده، چې زه يې دلته اخلم:

---

[۲۸] اداره: های مخفي خدای دې وبښخه!پښتون (مجله) د ۱۹۴۷ ع کال د جون د ۱۷ مې ګڼه،۹ مخ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرون زه وم قبرستان ته هسې تللی
دغه قبر تازه نوی ښکاریدلو
د تپوس په خیال پښتو ته ورنزدې شوم
دې وې های بدبخته ته لاخبر نه یې
های خدایه دا ناموس خو د پښتو وه
دهر درېکي قیمت خود ده نشته
د پښتو پر مخ څه کرښې کرښې وشو
د سرحد وه سمندر پښتو سیپۍ وه
دا مخفي خو د پښتو د سر و سوری
سر نه پښو پورې عمل عمل عمل وه
دا چې څومره وه اوچت ساده لباس وه
پښتانه یې تر قیامته احسان مند دي
دده ژوند کښې د پښتو ژوند څرګند وه
های اې فاني دنیا چارې دې وکړې
په سرحد کښې چې اصلي د پښتو شال وه
دا مخفي چې د پښتو پښتون پیوند وه
د ادیب مرګ خو د ژبې مرګ شماره شي

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرون زه وم قبرستان ته هسې تللی | په يو قبر سترګې ومې لګيدلی
دغه قبر تازه نوی ښکاريدلو | پښتو ناسته ورته وه ګريوان شليدلی
د تپوس په خيال پښتو ته ورنزدې شوم | ما وې ای پښتويې ولې شوريدلې
دې وې های بدبخته ته لا خبر نه يې | دا مزار دی د مخفي زيارت دی ښکلی
های خدايه دا ناموس خو د پښتو وه | ددې دهر نه بې وخته لاړو ولی
دهر درتګي قيمت خود ده نشته | قدردان خلق شی کم واپس موندلی
د پښتو پر مخ څه کرښې کرښې وشو | دا خو زړه وه د پښتون کښې ګنډلی
د سرحد وه سمندر پښتو سيپۍ وه | ملغلره يې دا مخفي وه خنديدلی
دا مخفي خو د پښتو د سر و سوری | بې مثال اديب د ژبې وه منلی
سر نه پښو پورې عمل عمل عمل وه | د تس نس پښتو دي ده تکي پيبلی
دا چې څومره وه اوچت ساده لباس وه | په اخلاقو وه کمال ته رسيدلی
پښتانه يې تر قيامته احسان مند دي | پښتنو فخر پښتو دی دی ګڼلی
دده ژوند کښې د پښتو ژوند څرګند وه | څه به خوند وه که بې وخته نه وه تللی
های اې فانی دنيا چارې دې وکړې | مونږه يو ژاړو او تا وې راوړلی
په سرحد کښې چې اصلی د پښتو شال وه | را نه يو دې وړ پرې وران شوکور کلی
دا مخفي چې د پښتو پښتون پيوند وه | پښتو فخر به په چا کړي زړه څيرلی
د اديب مرګ خو د ژبې مرګ شماره شي | زهر سترګو ښکاری اوښکې څڅيدلی

www.melitahrik.com 0777 400 116

خدايه !دغه اديب وبخښې عامل وه
دی فولاد په دعا لاس درته نيولی [29]

دا لوړه يادونه او مرثيه ما بشپړ راوړل ځکه چې نه په يادونه او نه په مرثيه کښې د ده د مړينې د ځای او مزار په باب څه يادونې شته.

دده تر مړينې وروسته پر مخفي لومړنۍ مقاله استاد رښتين کښلې ده. په دې مقاله کې د مخفي د مړينې په باب راغلي دي: "…. په آخر کې مريض هم شو او د ژوند سختې پرې راغلې، نو د ۱۹۴۷ ع کال د مې ۲۸ او د ۱۳۶۶ هـ بزرګه مياشت په خپل کلي چارسده کې وفات او همدغلته

[29] فولاد: د مرحوم مخفي مرثيه، پښتون ياده شوې ګڼه، ۱۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمکي په غېږ کې د همېشه دپاره په خواږه خوب ویده شو.... " په نومیالي پوهان او غازیان نومي اثر کښې هم استاد رښتین دغه خبرې راوړې دي (۹۶ مخ).

دا قدیم وریا نټ دی چې د مخفي د مړینې د ځای ځایګي او مدفن خبرې یې کړې دي او دده مړینه او مدفن یې په چارسده کې ښوولې دي. د مخفي د مړینې په باب د پښتون مجلې نشر کړی یادښت استاد رښتین هم کتلي دی، ځکه په کابل مجله کښې چې دوی پر مخفي کومه مقاله کښلې ده، هورې یې د پښتون مجلې د یادښت یادونه کړې ده. په هغه یادښت کې په دې ارتباط کوم صراحت نشته چې مخفي ومړ او چېرې ښخ شو؟

د استاد رښتین تر مقالې درې دېرش څلور دېرش کاله وروسته ښاغلي اشرف غمګین په خپله لیکلې تذکره د هشنغر ادب کې لیکلي دي: " آخر په چارسده په ۲۸ می کال ۱۹۴۷ ع کې وفات شو، چارسدې په مقبره کې دفن دی.... "(هشنغر ادب ۱۴۰ مخ) همدا راز ښاغلي شهریار قتاش خېل (د اشنغرګلونه) نومي اثر کې د مخفي د مړینې تاریخ او مدفن په باب همدغه د غمګین روایت اخیستی دی (د اشنغر ګلونه، ۹۷ مخ) په دی لوړو آثارو کې د مخفي د مړینې او مدفن ځای چارسده ښوولی شوي دي. په چارسده کې دده مړینه او د چارسدې په هدیره کې د ده د ښخېدو دا داستان ښایي له چارسدې سره د مخفي د اوسېدو د نسبت پر اساس وي، که نه بل کوم اساسي لاسوند لري.

(۲) د مخفي تر مرګ لس کال وروسته چې اروابناد ماستر عبدالکریم د مخفي په باب مقاله لیکلې ده، په دې مقاله کې یې د مخفي د مرګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصوص کې راوړی دی:"د اوه څلویښتم کال د مې په اته ویشتم ورځ د پښتونخوا دا باغي شاعر وفات شو. دیر ریاست کې د تیلګري (تیمرګرې) کلي ته مخامخ د بلامیټ د پله نه پورې یوه غونډۍ کې ماڼوګی نومې کلی پروت دی، دغه ماڼوګي کې مخفي صاحب ښخ دی"

د اروابناد ماستر د همدې مقالې په استناد اروابناد محمد ګلاب ننګرهاری (۱۳۶۹ هـ ش مړ) په خپله کنبلې مقاله کې د مخفي د مړینې د ځای په باب همدا د ماستر لوړې خبرې اخیستې دي او دی یې په دیر کې مړ او په ماڼوګی کې ښخ بللی دی. (هیواد ورځپانه، ۱۳۳۶ هـ ش، د دلو ۲۳ مې، ګڼه).

ښاغلي همیش د پښتانه لیکوال په لومړی چاپ ۱۱۳ مخ کې د مخفي د مړینی کال هماغه ښوولی، لکه چې نورو لوړو مقالو کې راغلي دي اما د مړینې ځای او مدفن یې په مشخص ډول نه دی ښوولی، خو دومره یې ویلي چې په ۱۹۴۶ع کال دی دیرته تللی و او د دیر په یوه سکول کې هیډ ماستر و. ددې اثر له دې چاپ نه چې چا استفاده کړې په ټولو منابعو کې د مخفي د مړینې په باب همدا خبرې راغلی دي.

(۳) د همدې کتاب په دوهم چاپ (۲۵مخ) کې یې په ۱۹۴۶ ع کال دیر ته دده د بیا ورتګ او په یوه سکول کې د اول مدرس د وظیفې د ورسپارلو خبرې هغې کړې دي، مګر دا ځل یې دده د مرګ کال د ۱۹۴۷ ع کال پر ځای ۱۹۴۲ع کال او د مې د ۲۸ مې نېټې پر ځای د مۍ اوه ویشتمه نېټه راوړلی دی. دلته له ورایه ښکاري چې د ۱۹۴۲ع کال د سنې راوړل طباعتي غلطي ده، ځکه د همدغه کتاب د همدې مخ په اول

www.meliTahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

سطر کې يې ليکلي دي چې په ۱۹۴۶ع کال دير ته ولاړ، نو بيا ځنګه په ۱۹۴۲ع کال وفات شو.

د پښتانه ليکوال له دې چاپ نه چې چا استفاده کړې ده، پرته له دې چې د دغې سنې غلطۍ ته متوجه شي د مخفي د مړينې سنه يې ۱۹۴۲ع کال کښلې ده، لکه نصرالله حافظ په خپله مقاله کې (آواز، ۴۸ مخ).

ښاغلي محمد ولي ځلمي په (زموږ غازيان) نومي کتاب (۲۶۳ مخ) په غلطه د مخفي د مړينې کال ۱۹۴۲ع کال ښوولی دی. د پښتانه ليکوال په دريم چاپ (د ۱۹۸۳ع نصرت پرنټنګ پريس لاهور) کې هم دا طباعتي تېروتنه نه ده سمه شوې (۲۵ مخ).

ښاغلي هميش خليل په خپل يو وروستي اثر (د قلم خاوندان) کې متاسفانه بيا هم د پښتانه ليکوال اشتباه تکرار کړې ده او د مخفي د مړينې کال يې د ۱۹۴۲م کال د مئ ۲۷ ښوولی دی (۴۱۵ مخ، ۱۹۹۹م کال چاپ) اما د پښتانه ليکوال په نوي وريانټ (ج ۱ ص ۵۱) کې د کال غلطي سمه شوې ده، خو د مياشتې تاريخ يې غلط د مئ د ۲۸ مې پر ځای ۲۷ م راوړی دی. د ښاغلي شلمان په مقاله (۷۵مخ) کې د همېش خليل د پخواني ضبط (۱۹۴۲م کال) پر ځای د مخفي د مړينې کال ۱۹۴۳م ښوول شوی دی.

د محمد شفيع صابر له شخصيات سرحد نومي اثر څخه چې ما د مخفي په باب کوم يادښتونه اخيستي، زما د يادښتونو له مخې په شخصيات سرحد کې د مخفي د مړينې کال ۲۸ مئی ۱۹۷۷ م ښوول شوی دی. که به دغسې وي؟ نو ښايي دا هم طباعتي تېروتنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محترمې پروفیسور داکتر سلمی شاهین د خپلې ډاکترۍ په تېزس: (جدید نظم په پښتو کې) په ۳۸ مخ کې د مخفي د وفات کال ۱۹۴۴م ښوولی چې دا بېخي یو نوی نا سم وریانټ دی، خو د همدې کتاب په ۷۰ مخ کې یې بیا دا کال سم ۱۹۴۷م ښوولی دی. (۲۰۰۳ م کال چاپ).

له دغو لوړو یادو شویو منابعو سربېره ښاغلي سلیم الرحمن سلیم پر مخفي خپله کښلې مقاله کې، پرته له دې چې د مخفي په باب د ارواښاد ماسټر مقاله دې یې کتلې وي، د مخفي د مدفن په باب لیکلي دي: "…. پاس مې وکتل لږ لرې مخامخ د یوې غونډۍ پر سر یو وړوکی شان کلی مې په نظر شو، دا مانوګی و، چې ضلع دیر تیمرګرې په خوا کې پروت دی... په وړه شان هدیره کې ځان له بې غمه او د خلقو نه پناه مولانا فضل محمود مخفي صاحب د همېشه په خوب اوده پروت و...".

ښاغلي سلیم د مانوګي کلي په هدیره کې خپله د مخفي صاحب قبر لیدلی دی او فاتحه یې هم ورته کړې ده (پښتو، ۹۱ مخ).

د دغو لوړو نظریو تر څنګه ښاغلي باجوړي، د خان عبدالغني خان په حواله کښلي دي: "په ۱۹۴۷ع کال کې چې پاکستان جوړ شو، نو دی (مخفي) د خپلې کورنۍ سره د دهلي په لار روان شو، د دهلي او لاهور تر منځ چې کوم ریل ګاډي کې ده سفر کاوه، په دغه ریل ګاډي باندې د سکهانو له خوا حمله وشوه او په سوونو مسلمانان پکې مړه شول. دی او دده کورنۍ غړي هم پکې قتل شول یوازې یو ماشوم زوی یې چې د مړو لاندې شوی و، ژوندی پاتې و".

د مخفي د مړینې په باب لوړه نظریه په هېڅ بل تحریري سند کې نه ده راغلې. په دې لوړه نظریه کې یوه خبره د غور وړ ده، چې غلطي یې ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ورایه معلومېږي او هغه دا چې اروابناد د مخفي د ۱۹۴۷ع د مې په ۲۸ مه نېټه وفات شوی دی او د پښتون مجلې د ۱۹۴۷ع کال د جون د ۱۷ مې نېټې په ۱۰ ګڼه کې يې د مړينې خبر چاپ شوی. حال دا چې د هند د تقسیم اعلان د ۱۹۴۷ ع کال د جون په ۳ مه نېټه شوی (زما ژوند او جدوجهد) او د دوی رسمي آزادي په اګست کې اعلان شوې ده او له یوه هېواد نه بل ته د هندوانو، سکهانو او مسلمانانو کډې تر دې وروسته تللې راغلې دي او دا فسادات هم د وېش او آزادۍ تر اعلانونو وروسته واقع شوي دي.

خان عبدالغني خان ښايي دا خبره په دې اساس کړې وي، چې نومړی خان په ۱۹۴۵ ع کال کې مخفي په دهلي کې ليدلی و او اسم ته يې دده په تللو کې مرسته ورسره کړې وه او بيا نو ترې نه دی خبر شوی چې مخفي څه شو؟ ده به فکر کړی وي چې تر وېشه پورې به هورې و.

يوه خبره د ښاغلي سليم په مقاله کې هم راغلې ده چې د هند د نيمې وچې د وېش او آزادۍ په وخت کې د مخفي ماشومان په هند کې وو او په همدې کال د غني الرحمن او فتح الرحمن په وسيله راوستل شول. په لاره کې سکهانو بريد هم پرې کړی و او دده بچي روغ رمټ پاتې شوي وو (پښتو مجله، ۱۰۰ مخ) څنګه چې مو د اروابناد غني خان په حواله دمخه ولوستل چې مخفي په ۱۹۴۵ م کال هند کې و، دده د ژوند وروستي واقعات چې د ژوند وروستۍ مياشتې کلونه يې په خپل کلي کې تېر کړي دي، نو داسې ښکاري چې مخفي د ۱۹۴۶ ع کال شاوخوا له هندوستانه بېرته پښتونخوا ته راغلی دی او له چارسدې بيا د دير د نواب په اجازه دير ته تللی دی او هورې په ۱۹۴۷ ع کال د مې ۲۸ مه وفات شوی او د ماېوګي د کلي په هديره کې ښخ شوی دی. اروابناد ماستر ليکلي دي: "

(c) ketabton.com: The Digital Library

نواب صاحب مخفي صاحب په مړينې هم وپاله په خپله لاړى کې سرکاري عزت سره ماښوګي ته واستوو.... ".

د ارواښاد مخفي د مړيني او مدفن د محل په باب د ارواښاد ماسټر عبدالکريم او ښاغلی سليم ليکنې صايبي دي، ځکه يو يې ملګرى او معاصر او بل يې د مزار زيارت کړى دى، نو ځکه موږ په يقين سره ويلاى شو چې دى په دير کې مړ او په ماښوګي کې ښخ دى. دا خبرې په **۲۰۰۵** م کال د ښاغلي شلمان په مقاله کې هم چاپ شوي دي. ښاغلي شلمان ليکلي د مخفي د مزار د کتيبې د تصوير هم ورسره محفوظ دى.

## د مخفي ازدواج او اولاد:

د ښاغلي سليم د مقالې له لوسته ښکاري چې کله مخفي له زده کړو فارغ او له هنده بېرته پښتونخوا ته راغی او له حاجي صاحب او نورو مجاهدينو سره يې روابط پيدا شول، نو دغه وخت مخفي په چارسده کښې لومړنى واده وکړ. له دې واده نه د مخفي ځلور اولاده پيدا شوي وو. يو عبدالاکبر، دوې لوڼې او بل فضل معبود.

فضل معبود د مخفي ډېر هوښيار او ځيرك زوى و او مخفي خپله روزلی و؛ تعليم يې ورته ورکړى و او د استاد رښتين په قول خلکو به وړوکی مخفي باله. دغه فضل معبود د اوه لسو کالو په عمر د دير په کوټو کې وفات شو. دده د مرګ پر مخفي ډېر ژور اثر پرېووت او دى يې تردې حده غمجن کړ چې حواس يې بايللي وو او د لېونتوب سرحد ته رسېدلی و.

مخفي د فضل معبود په رثا کې ويلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه عجبه وخت و، چې قبوله دې دعا کړله
وادې خشتو فضل معبود ورکه دې بلا کړله
اوس که درتــه ژاړمــه هزار ځله دعـــا کوم
نـه قبلیږی خدایــه بی تاثیره دې دعا کړلــه

د فضـل معبـود تـر مړینـې دمخـه لا مخفـي پـه بـاجوړ کښـې دوهـم واده کړی و. له دې دوهم واده نه هم مخفي څلور اولاده درلـودل. دوې لـوڼې او دوه زامن. په زامنو کې يې پر يوه بيا هم عبدالاکبر او پر بـل د فضـل اکبـر نـوم ايښـي و. دا دواړه، لکـه چـې دمخـه يـې بيـان تېـر شـوی دی، د هنـد د نيمې وچې تر وېش دمخه په دهلي کې وو او دوی له دهلي نه فتح الـرحمن اوغني الرحمن را وستی وو.

دا دواړه د ۱۹۸۱ع کـال د مـی تـر مياشـتې پـورې ژونـدی وو، عبـدالاکبر د ديـر د ضـلعې د کـومبر پـه سيمه کـې پـه يـوه دواخانـه کـې کمپوډر و او فضل اکبر په بټ خېله کې د دوا خرڅولو دکان درلود[۳۰].

[۳۰] پښتو (مجله)، پښتو اکيډيمی، پيښور، د می، جون ګنه، ۱۹۸۱م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«۳»

# فرهنګ، تاریخ او خلکو ته د مخفي بخښنې

# او

# دده د آثارو ارزښتونه

ددې رسالې په د مخنیو بحثونو کې د مخفي له ژوند لیك سره مربوط په کرونو لوژیك ډول د مخفي پر سیاسي مبارزه او په ضمني توګه د ده پر سیاسي افکارو خبرې وشوې. اوس چې په دې برخه کې موږ دده پر آثارو او ددې آثارو پر ارزښتونو خبرې کوو، نو بیا هم اړ کېږو چې پر هغه سیاسي او فرهنګي چاپېریال او په دې چاپېریال کې د روان سیاسي او فرهنګي بهیر لنډ جاج هم واخلو چې یې تر اغېز لاندې د مخفي سیاسي شعور را ویښ شوی او فکر یې وده پکې موندلې او د همدغو حالاتو او شرایطو په رڼا کې ده خپل آثار ایجاد کړي دي.

## سیاسي او فرهنګي محیط:

مخفي داسې وخت دنیا ته سترګې پرانیستې چې دده پر پلرنې ټاټوبي (پښتونخوا) او ټول هندوستان انګرېزي تسلط خپل نهایي مدارج طی کول. د نوي ژوند او غربي تمدن اثرات لا پخوا د ټول هند سیمو ته رسېدلي وو او پر پښتونخوا یې هم خپل اثرات ټینګول او یا یې ټینګ کړي وو. عصري ښوونځی، شفاخانې، سرکونه جوړ شوي او د اورګاډو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټلۍ غځېدلي وې. اخبارونه جاري وو. مطبعې وې او موقوتې خپرونې کتابونه چاپېدل او د غربي فرهنګ او ادبیاتو اغېزې هم دسیمې پر ادبي جریانونو ښکاره وې. خو د دې مسلط استعماري جریان تر څنګه د نیمې وچې سیاسي مشرانو او دیني پېشوایانو د استعمار پر ضد مبارزه لا دمخه پیل کړې وه او د هند د نیمې وچې د ولسونو د بیدارۍ او د هند د آزادۍ لپاره میدان ته را وتلي وو او سیاسي، ملي حرکتونه روان وو. د پښتونخوا (د مخفي په تاړوبي) پر ښاري سیمو هم د انګرېزي استعمار جرړې ټینګې شوې وې او د آزادو قبايلي سیمو ته یې هم خپل ښکیلا ګکر لاسونه غځولي وو. په آزادو قبايلي سیمو کې له استعماري پوځونو سره د پښتنو غزاوې او جګړې لا ان د نولسمې پېړۍ په جریان کې پیل شوې وې، پښتنو هغه وخت د خپلو ځینو دیني او روحاني پیشوایانو اوسیمه ییزو ملي مشرانو په مشرۍ له انګرېز سره ډغره وهلې وه.

که څه هم پښتنو له سکهانو او بیا انګرېزانو سره د خپلو قبیله یي او دیني مشرانو تر لارښوونې لاندې د ډغرو ډېرې تجربې تر شا کړې وې او سوابق یې مشهود وو، خو دا وخت یې د مبارزې په شکل اوشیوه کې څه بدلونونه راغلي وو. د هند د نیمې وچې د ملي مبارزانو او د استعمار د مخالفانو فکري پلوشې او د استعمار ضد روحیې ازانګې د پښتونخوا سیمو ته را رسېدلې وې او دلته په پښتونخوا کې یې هم د استعمار پر ضد احساسات را پارول.

د تعلیمیافته روښانفکرانو، دیني پېشوایانو او قبیله یي متنفذینو د اتحاد لپاره زمینې مساعد شوې وې او د دغو اجتماعي اقشارو د نماینده شخصیتونو د یو ځای کېدو له لارې د مبارزې د نویو حرکتونو د پیلېدو لارې هوارېدونکې وې.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اجتماعي او اقتصادي لحاظ د عامو خلکو وضع چندان ښه نه وه، له کسب و کار او پېشو سره د پښتنو مينه نه وه. د اروانښاد ولي خان په وينا هغه وخت پښتنو تجارت پرېوتی شي ګاڼه، تربګني او نور په لسګونو ناوړه عادات پر جامعه مسلط وو.[1] له تعليم او سواد سره شوق نه و موجود او عامو خلکو زياتره د غربت او بېسوادۍ په تيارو کې شپې سبا کولې.

په فرهنګي لحاظ دغه وخت د پښتنو په کليو او بانډو کې ولسي شاعرانو د خلکو هنري تنده ماتوله. د بزمي، اخلاقي او عشقي موضوعونو د بيان تر څنګه به يې له انګرېز سره د پښتنو غازيانو د جګړو او غزاوو پېښې هم په خپلو سندرو او چاربيتو کې رانغښتلې خو په مرکزي او ښاري سيمو کې چې له يوې خوا پښتو ادبياتو د قصه خوانۍ د تاجرانو له خوا د چاپېدونکو قصصي آثارو له لارې وده موندې نو له بلې خوا همدا وخت له نيمې وچې نه د ځينو ادبي آثارو او نويو ادبي ژانرونو، بېلګې پښتونخوا ته را رسيدې او ځينو پښتنو هغه په خپله ژبه را اړولې او ځينو ددغو نويو آثارو په تقليد پښتو آثار ايجادول. انګرېزانو هم د خپلې استعماري سلطې د ټينګېدو لپاره دا اړتيا حس کړې وه چې يې ځينې مهم فوجي او ملکي افسران پښتو زده کړي. د دې هدف د تحقق لپاره د دوی ترحمايت لاندې د پښتو منشيانو د استخدام او د دغو منشيانو له خوا د ځينو آثارو د ليکلو او ترجمې نهضت- چې لا د نولسمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کې را ټوکېدلی و- دا وخت په زور کې و.

---

[1] خان عبدالولي خان: باچاخان او خدايي خدمتګاري، لومړی ټوك، چاپ ځای پېښور، ۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخفي په دغسې سياسي، اجتماعي او فرهنګي محيط کې سترګې غړولې دي. تر هر څه دمخه يې د علم په ګانه ځان سمبال کړ. رواجي ديني علوم او ورسره يې عصري علوم هم ولوستل او د ديني زده کړو د تکميل لپاره يې د نيمې وچې د لويو مدارسو نصابونه بشپړ ولوستل. څو ژبې يې زده کړې. د حساسو مغزو خاوند مخفي پر جامعې له مسلطو شرايطو ډېر څه زده کړل او له دغې وضعې او شرايطو سره د مبارزې لپاره د ولس د پوهولو او د پردو له منګولو د خپل هېواد حتی د هند د نيمې وچې د خلاصون په خاطر يې د هند نيمې وچې د آزادۍ غوښتنې له لوی بهير سره د ځان ملګري کول يې د دې لوی مرام د بري اساسي چاره بلله او ددې هدف د عملي کولو لپاره يې د پښتونخوا د ملي مفکرينو او مبارزانو، لکه د ترنګزو حاجي صاحب، خان عبدالغفارخان، مولوي تاج محمد، مولوي عبدالعزيز، مولوي سيف الرحمن او مولوي فضل ربي (۱۲۵۰- ۱۳۳۵ هـ ش) او نورو سره ټينګ روابط پيدا کړل او د نوي راټوکېدلي ملي فکر د روزلو هسته يې ايجاد کړه او له دغو مشرانو سره په ملګرتيا کې يې عملي او قلمي مبارزه پيل کړه. په دغو يادو شويو مشرانو کې ځينو پر ده اثر درلود او پر ځينو دده اثر ثابت دی، لکه چې ارواښاد باچاخان خپله ليکلي دي: " خصوصاً د مخفي صاحب د مجلس په ما ډېر اثر و... مخفي صاحب به هم چېرته ښه کتاب پيدا کړ، هغه به د مطالعې دپاره ما ته راووړ.... مخفي صاحب به چې په خپله نوي شعرونه جوړ کړل، هغه به يې ما ته راوړل، او راته به يې اورول، ما ته به د مخفي صاحب شعرونو ډېر خوند را کولو، خوند څه چې په ما به يې ډېر اثر کولو، د هغه ډېر شعرونه ما ته اوس هم ياد دي ما او مخفي صاحب به الهلال يوځای لوسته او په مضمونونو به يې مونږ ډېر بحث کاوه..."(زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند او جدوجهد ۷۵- ۷۶ مخونه لومړی چاپ). د باچاخان خپل بیانونه دا خبره په ډاګه کوي چې ده د باچاخان په روزنه کې لوی لاس درلود او کله چې پر باچاخان او دده د لومړني سیاسي ژوند اود جدوجهد په ابتدا خبرې کېږي، نو مخفي ورسره ضرور یادېږي. همدا علت دی چې زموږ په ادبي څېړنو کې دغو ټکو او دغو روابطو ته اشارې شته[2]

ده چې لا د ښوونځي په اتم ټولګي کې په شعر ویلو پیل کړی و، له ملي مبارزانو، روښانفکرانو او منورینو سره د ناستې - ولاړې او عملي مبارزې د پیل په درشل کې یې هنر ښې غځونې وکړې او هغه د ماسټر عبدالکریم خبره چې مخفي صاحب د ۱۹۱۰- ۱۹۲۰ ع کالونو تر منځ ډېر شعرونه وویل.

ده د خپل سحر آمیزه قلم او ویښوونکیو ترانو او اشعارو په مرسته د قوم د ویښولو مبارزه جاري وساتله، دده موجود لاس ته راغلی آثار او اشعار موږ ته راښیي چې:

(۱) مخفي یو آزادي دوست شاعر و، دی پر خپل وطن مین و او دا یې هیله وه چې د وطن واکداران باید خپله د هماغه وطن خلك وي، نه پردي. د خپلو خلکو د له لاسه وتلی واك د بیا لاس ته راوړو لپاره کار او زیار او نور ملي مسایل - د خپلو ویښوونکو اشعارو له لارې خلکو ته د آزادۍ او خپلواکۍ تلقینول- دده د مبارزې اهداف وو.

(۲) دی د خپلو آثارو او افکارو په آئینه کې داسې ایسې چې د خپل قام د بیدارۍ او ویښتیا رسالت یې پر غاړه و.

---

[2] ټکور، ګل افضل: باچاخان او فضل محمود مخفي... جرګه (مجله) د ۱۳۶۶ هـ ش کال میزان- عقرب ګڼه ۴۰- ۴۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) دی یو اصلاح طلب شخص و. ده د اجتماعي اصلاحاتو طرفداري کوله او غوښتل يې چې قوم يې پوه شي؛ هوښيار شي، د علم په ګاڼه ځان سمبال کړي او له ناوړه دودونو ځان وژغوري او تربګنۍ پرېږدي.

(۴) مخفي د خلکو او ملك د ترقۍ سخت علاقمند و. دغه غوښتل چې ملك يې پرمختګ وکړي او خلك يې د نړۍ له متمدنو ولسونو سره برابر شي. ښاغلی افراسياب خټك د ده په آثارو کې ځينو اشارو ته په پاملرنه - زما په پوهه- يوه ابتکاري نظريه وړاندې کړې ده او ويل يې دي: د مولانا فضل محمود مخفي د ټولونه اول د يو آزاد جديد قومي رياست د قيام خيال په واضح طور پيش کړو" [۳] غالباً د دې نظريې په قايمولو کې د ښاغلي خټك نظر د مخفي دغه نظم: (خدايه داسې وخت به راشي) او د ځينو نورو نظمونو اشارو ته دی چې همدا مفهوم - لکه چې خټك صاحب ترې اخيستی- لوستونکي ته تداعي کوي.

په Pakhtunkhwa نومي اثر کې هم د مخفي له لوړ يادشوي نظمه همدا د افراسياب خټك له برداشت سره سم مقصد اخيستل شوی دی. (۹ – ۱۰ مخونه)

خو زما په فکر اروانباد مخفي. له افغانستان نه بېل د يوځانته رياست د جوړولو طرفدار سړی نه و. د اعليحضرت امان الله خان غازي په وصف کې ليکلی نظم که سړی وګوري نو دا ورته په صفا ټکو کې ښکاري چې افغانستان هغه خپل لوی وطن ګاڼه او له تاريخي هېواده

---

[۳] خټك،: افراسياب: سرحد تاريخي خا كه ، ... پاكستان، ۲۰۰۰ م ( پښتو مجله، ۲۰۰۵ اپريل، مۍ، جون ، ۱۷۵ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببلې شوې ټولې سيمې بېرته سره يوځای کول غوښتل. (خدايه ته ودانه کړې) ددې مدعا ښکاره ثبوت دی.

(**۵**) دی د پښتون قوم د اتحاد طرفدار و. د پښتون انتشار او ټوټې ټوټې وجود خورا ځورا وه او دا يې هڅه وه چې دغه توکړې شوی وجود بېرته سره پتليس شي.

خان لالا محمد افضل خان چې په ۱۹۹۶ م کال (پښتون قامي وحدت) په نامه خپله رساله چاپ کړې ده. د دې رسالې په وروستيو مخونو کې- دوی هم د مخفي ددی نظم: "خاونده ته و دانه کړې" محتوی ته په پاملرنه له دې نظمه دا نتيجه اخيستې ده چې مخفي د پښتون قامي وحدت غوښتنه او د لوی مکر ټوټه وطن بېرته رغون يې د زړه آرزو وه (۲۷ مخ).

(۶) مخفي له افغانستان سره مينه درلوده. د افغانستان آزادۍ ته خوشحال و او په افغانستان کې يې عمرونه تېر کړل. ده په افغانستان کې خوشحالۍ او غمونه دواړه ليدلي وو. د استقلال د لومړي جشن په خوشحالو کې يې ګډون کړی و او اماني عصر په لويه جرګه کې يې غړيتوب حاصل کړی و. دغسې يې د اميرحبيب الله کلکاني په اغتشاش کې د کابل او ګرده افغانستان تباهۍ او بربادۍ او لوټ- تالان هم په خپلو سترګو ليدلي وو او هغه مصيبتونه يې هم برداشت کړي وو. د غازي اعليحضرت امان الله خان په مدح کې ويل شوی پارکی يې له افغانستان او افغانانو د مينې ډېره ښه ځرګندويي کوي.

(۷) مخفي يو مسلمان و، يو سوچه مسلمان او ورسره په ديني او اسلامي علومو پوه او د اسلام له ټولو معنوي ارزښتونو يې بشپړه آګاهي درلوده، خو د دې تر څنګه دی د ساينس او تخنيك له پرمختيا او د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرمختللو ولسونو له پرمختګونو هم خبر و او غوښتل يې چې خپل خلك له دغو نويو علمي پرمختيا وو څخه خبر کړي او د خپلې ټولنې او خلکو له ذهني شرايطو سره سم، دده هغه پښتو منثور مضمون چې په لاس کې دی، ددې مدعا يو ښکاره ثبوت دی.

(۸) کله چې موږ د مخفي په فکري ارزښتونو خبرې کوو، ناچاره يوه دا خبره هم هيره نه کړو، چې ده تصوف ته هم مخه کړې وه.

ښاغلي سليم په خپله مقاله کې ليکلي دي: "په دارالعلوم اسلاميه (اګره) کې د تعليم حاصلولو په وخت د مخفي صيب (پر) غزل د تصوف رنګونه خواره شو. څه خو يې هسې هم خوی د قلندرانو و او څه د ماحول اثر و. د هغه شاعري څه داسې اړخ ونيولو کوم چې تر اوسه د لويو لويو شاعرانو په شاعرۍ کې دا رنګ نه و پيدا شوی او سره د خوارۍ چا په عارفانه کلام کې داسې اثر نه و پيدا کړی. يو ځای د خدای په مينه مخفي صيب وايي:

څـه لويـــه دنيا دې پيدا کـړې ده چې څه له ده؟
دا دې نـا پـايـانه بنـا کـړې ده چې څه لـه ده؟
مـــينه که موجود نه وي موجود به يو وجوده نه وي
مـــينه دې وجــود لـــره چې سا کړې ده، چې څه له ده؟"

د ښاغلي سليم دا خبره چې په دارالعلوم اسلاميه (اګره) کې د طالب العلمۍ پر مهال دده پر شعر د عرفاني فکر اغېزې څرګندې شوې وې يو ښه انکشاف دی، اما دا خبره چې دده (مخفي) شاعرۍ دا وخت داسې اړخ ونيولو، چې د لويو لويو شاعرانو په کلام کې يې هم دا رنك نه و پيدا کړی، يوه مبالغه آميزه او ډېره خوشبينانه خبره ده چې ادبي نقادان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي مورخین ښایي ورسره موافقه ونه کړي. ځکه په شرقي فرهنګ کې عرفان یو مسلط فکري جریان و او دی. د پښتو، پارسي، اردو، عربي، ترکي او نورو شرقي ژبو په سلهاوو شاعرانو د دغه فکري نظام تر اغېزو لاندې ډېره اوچته شاعري کړې ده.

د پښتو ادبي څېړنو له مطالعې ښکاري چې ارواښاد مخفي یو وخت د ځینو تصوفي لارو (طریقو) له ما زونانو لاس نیوی هم کړی و. د استاد رښتین د یو بیان مطابق کله چې مخفي له کابل نه مخ په آزاد سرحد روان و، په کامه کې یې له محمد صاحبزاده نه لاس نیوی وکړ. او د تصوف مسلك یې غوره کړ او د روحانیت او تصوف خواته یې توجه را وګرځوله.
همدغه استاد رښتین د خپل مقالې یو بل ځای لیکلي دي: "کله چې مخفي صاحب د ترنګزو حاجي صاحب په ژوند په غازي آباد کې استوګنه غوره کړه، په دې وخت کې دی د دنیا تودو سړو ځپلی و، د تصوف خوا ته مایل شو..."

دا بیانونه زیاتوي چې مخفي لا په دارالعلوم کې طالب العلم و چې له سلوك او معرفت سره یې اشنایي پیدا کړه، خو کله چې د ژوند ناخوالې پر ډېرې شوې، نو یې ښایي تصوف ته میلان څه زیات شوی وي، خو د مخفي غوندې یوانقلابي روښانفکر، مبارز او د خپل ولس له پرمختیا سره علاقمند شخص څنګه کولای شول چې په خانقاه کې کښیني او له جدوجهد څخه دې لاس واخلي؟ دده ژوند پرعملي جدوجهد ولاړ و.

## په معاصره پښتو شاعرۍ کې د نوښتګرو سرلارو د ډلې په سر کې ولاړ مخفي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د معاصر ادبي تاریخ مورخان او محققان په دې عقیده دي چې په پښتو ادبیاتو کې د معاصرت نخښې د شلمې پېړۍ په اوایلو کې څرګندې شوې دي [۴]

د همدې پېړۍ په اوایلو کې په افغانستان کې د سراج الاخبار په نشرولو سره (۱۹۱۰ ع) د پښتو ادبیاتو د رشد لپاره څه زمینې مساعدې شوې، مولوي غلام محی الدین افغان (۱۳۰۰ هـ ش مړ) مولوي صالح محمد هوتک (۱۳۳۹هـ ش مړ) ملا محمد افغان نویس (۱۳۰۵هـ ش مړ) عبدالسلام کاموي، میر محسن کندهاری (۱۳۴۱هـ ق مړ) عبدالعلي مستغني (۱۲۹۳- ۱۳۱۲ هـ ش) استاد عبدالهادي داوی (۱۳۶۱هـ ش مړ) ملا عبدالباقي کاکړ (۱۳۴۴هـ ق مړ) او ځینې نور ددې معاصرې دورې په سرلارو کې ولاړ خلك دي.

دغسی په پښتونخوا کې هم معاصره دوره د اروانباد راحت زاخیلی (۱۹۶۳ م مړ) او نورو ډېرو خدایي خدمتګارو شاعرانو له ادبي فعالیتونو او آثارو را پیل کېږي چې اروانباد مخفي هم ددې دورې د سر لارو په سرکې کې ولاړ سړی دی.

د پښتو د معاصرو ادبیاتو سر لاري که هغه په افغانستان کې دي او یا په پښتونخوا کې زیاترو د شعر په عنعنه یې قالبونو کې د عصر له غوښتنو سره سم نوي مفاهیم او مطالب ورځای کړي دي، مګر مخفي مرحوم بیا ورسره دا ابتکار هم کړی دی چې د مضمون د نویوالي ترڅنګ یې د شعر د فورم نویوالي ته هم هڅه کړې ده.

---

[۴] روهی، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: پښتو معاصر ادبیات، پښتو څېړنې، د پښتو څېړنو بین المللی مرکز، کابل ګوندي مطبعه، ۱۳۶۷ هـ ش ، ۴۴- ۷۶ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم استاد حبيبي چې په تاريخچه شعر پښتو، کې د مرحوم مخفي په باب کوم يادښت خپور کړی دی، هوري يې کښلي دي:"... مخفي پيرو سبك کلاسيك و شاعرشيواست، که فکرش بلند و کلامش پخته و سنجيده است"[۳۳]. ارواښاد اجمل ختټك په خپله اردو رساله (پشتو ادب) چې اټك کې اس پارخپره کړې ده، د مخفي د کلام په باب، استاد حبيبی ته ورته نظر لري او ليکي چې: د فضل محمود مخفي سنجيده او له معنی ډك نظم ته ډير اهميت حاصل دی (۱۰۶مخ)

خو ښاغلي رفيع، بيا په خپل اثر د پښتو ننني ادب [۳۴] کې په ښکاره او په حقه ويلي دي چې مخفي په پښتو شاعرۍ کې د نوي فکر او تازه مضمون دننه ايستو تر څنګه په پښتو معاصره شاعرۍ کې د نوو قالبونو په رواجولو کې هم موثر پدل لرلی دی. ښاغلي رفيع په دې خصوص کې مثال د مخفي د وطن ترانه راوړې ده.

ګيورګ فيودو رو ويچ ګيرس(۱۹۲۸- ۱۹۹۴ ع) هم په همدې عقيده دی چې: " مخفي لومړنی زوړ شاعر دی، چې د اشعارو زوړ قانون او پخوانۍ حاکمه عنعنه يې ماته کړې ده" [۳۵].

پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار دغې نظريې ته انکشاف ورکړی دی او په خپله هغه مقاله کې چې يې د مخفي او فدا د سيمينار په ويار

---

۳۳ حبيبي، پوهاند عبدالحی: تاريخچهء شعر پښتو، طلوع افغان، سال سيزدهم، شماره، ۴۶، ۲۰ سنبله ۱۳۱۵ هـ ش .

۳۴ بربښ: د پښتو ننني ادب، د افغان ياد ، د زلمي هېواد مل په زيار، کابل پوهنتون، دولتي مطبعه، ۱۳۶۰ هـ ش، ۶۷ مخ.

۳۵ ګيرس: د ميرني ولس ادبيات، د سرمحقق محمد اکبر شينواري ترجمه، د قبايلو نشرات، کابل، دولتی مطبعه ۱۳۶۴ هـ ش، ۷۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(مخفي د نوی او آزاد پښتو شعر د پیلامه ګر په توګه) تر سرلیك لاندې کښلې ده، د ارواښاد مخفي مشهور شعر: "خاوندہ ته ودا ته کړې... " په شکلي لحاظ تحلیل کړی دی او د خپلی شننې (تحلیل) په یوه برخه کې یې لیکلی دي: " په هره توګه د ارواښاد فضل محمود مخفي دغه شعری بېلګه د کلاسیکې کېنډې، قالب ماتونې لومړۍ بېلګه ګڼل کېدای شي او د پښتو وګړنې (فولکلوریك) شعر تر اغېزې لاندې یې د نوي او آزاد شعر دودونې لپاره لومړۍ هڅه" [36].

له لوړو اشارو او نظریو موږ دا نتیجه اخلو، چې ارواښاد فضل محمود مخفي د پښتو د معاصرو ادبیاتو په هغو لومړنیو شاعرانو کې ولاړ سړی دی چې د پښتو شعر د زړو عنعني قالبونو تر څنګه یې په داسې کالبونو کې هم شاعري کړې ده چې ادیپوهان یې آزاد شعر او سپین شعر بولي. مخفي د نویو قالبونو د عاملو په لاره کې زیار ایستلی دی.

دده د وطن ترانه او هغه بل مشهور پارکي (خاوندہ ته ودانه کړې زموږ د یووالي حجره) همدا ډول خصوصیات لري. د دواړو شعرونو شکلي مطالعه ښیي چې شاعر غوښتي په یو نوي ډول شعر ووایي. دده د زمان په مسلط فرهنګي بهیر کې دوې شعرې عنعنې موجودې وې: یوه د شرقي شاعرۍ عنعنه او بله هم د پښتو د ولسي شاعرۍ عنعنه. مخفي له دغو دواړو شعري عنعنو څخه په استفاده یو بل دریم شکل را ایستلی دی، چې زموږ محققانوله خپلو برداشتونو سره سم آزاد او نوی شعر تعبیر کړی دی.

---

[36] زیار، پوهاند دوکتور مجاور احمد: مخفي د نوي او آزاد پښتو شعر دیپلامه ګر په توګه، جرګه (مجله)، کابل، ۱۳۷۰ هـ ش ۴مه ګڼه، ۱۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې چې مخفي د پښتو په معاصره شاعرۍ کې د نوی او آزاد شعر پيلامه ګر ګڼل کېدای شي، دغه ډول په فکري لحاظ هم ده پښتو شعر ته نوي مضامين ور بخښلي دي. ارواښاد باچاخان ويلي دي: "د پښتو په شاعرۍ کې انقلاب ده راوستی و، د زلفو او د کاکل او خط و خال، ګل و بلبل په عوض يې قام، وطن، غريب او بېچاره ته د شاعرۍ مخه وګرځوله، زه ورته د پښتو شکسپير وايم، دده په پښتنو ډېر حق دی، خو افسوس چې پښتنو دده قدر، لکه څنګه چې په کار و، ونه کړ... "(زما ژوند او جد وجهد ۶۵مخ).

د باچاخان د نهضت اکثر ملګري د مخفي د شاعرۍ په باب ورته نظر لري. عبدالاکبر خان اکبر په خپلو آثارو: د افغانستان او روسي ترکستان سفرنامه او تراخه خواږه کې د مخفي د شاعرۍ په باب ډېرې د کار خبرې لري. د تراخه خواږه په مقدمه کې يې پدې باب ليکلي دي: " په ۱۹۲۰ ع کې چې زه د خلافت د تحريك په سلسله کې کابل ته په هجرت تلم. نو په غازي آباد مومندو کې د حاجي صاحب ترنګزوځای کې ما فضل محمود مخفي صاحب وليد او د هغه کلام مې واورېدو. د شاعرۍ متعلق زما خيال بدل شه، کوم ذهني انقلاب چې د مخفي صاحب شاعري په پښتونخوا کې پيدا کړې وه. د هغې نه ما ته دا معلومه شوه چې شاعري ښه شی دی...."[۳۷]

په معاصرو ځېړونکيو کې ښاغلي نور محمد سهيم په خپله اثر (په اوسني پښتو شعر کې د نوښت مسأله) کې چې د مخفي د کلام کومې

---

[۳۷] اکبر، عبدالاکبر. خواږه تراخه، (مقدمه)، يونيورسټي بك ايجنسی، پېښور، ۱۹۵۸ ع، ی مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نموني اخیستي دي (د وطن د ترانې په شمول) دی یې زیاتره د محتوا نویوالي ته متوجه شوی دی او د اوسنیو پښتو شعرونو د محتوا د نوښت تر عنوان یې د مخفي د کلام پر نمونو خبرې کړې دي. (۵۰، ۶۸-۶۹ مخونه)

ماسترعبدالکریم په خپل مضمون (شاعر په قوم کې څه حیثیت لري؟) کې چې پښتون مجلې خپور کړی دی، د مخفي د شاعرۍ په باب کښلي دي:"په نن زمانه کې فضل محمود صاحب مخفي ما ته په بزمي شاعرانو کې د ټولو نه لوی شاعر ښکاري. دده په شعرونو باندې د سرې د رزمي شعرونو مینه هم ماتېږي ولې کومه طریقه،کوم طرز بیان او ساده ګي چې هغوی اختیار کړې ده، دغه په حقیقت کې د بزمي شاعرۍ اصل اصول دي. مخفي صاحب چې د پښتون دې منتشر او پراګنده حالت ته ګوري، نو په واز کومې ژاړي. نن پرون مخفي صاحب د زمانې د ګردش په پیرۍ کې راغلی دی. په خپل کلي کې لکه د اسد الله خان غالب د ډېر نامرادۍ عمر تېروي. زمان وېره کېږي چې مخفي صاحب به، لکه د غالب په یو ګوټ کې مړ شي او خلق به پرې یو موټی خاورې واچوي. په وطن کې د شعر قدر دان نشته. کاشکې مخفي صاحب ته د چا فکر شوی او پښتون قوم د دې ګوهر یکدانه نه څه فایده واخیستلی ... "

د اروابناد ماسټر په بیان کې دې خبرې چې: " مخفي یې په بزمي شاعرانو کې یاد کړی دی، ماته یې د فقید ګیرس نظریه را یاده کړه. ده هم مخفي په بزمي شاعرانو کې یاد کړی دی. زما په فکر ده ته هم دا مفکوره د مرحوم ماسټرد مقالې له لوستنه پیدا شوې ده. ځکه د ماسټر مقاله (شاعر په قوم کې څه حیثیت لري؟) پروفیسور ما تیروس ګریګوریچ اسلانف ۱۹۷۷ مړ) خپل اثر (د پښتو دننني لیکوالو کیسې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نکلونه، دویم ټوك، مسکو، ۱۹۴۹) په ۱۰۰-۹۹ مخونو کې چاپ کړې ده او ګیرس به هلته لوستې وي؟ ښاغلي باجوړي او ما په خپلو ځینو مقالو کې د ګیرس دغو خبرو ته اشارې کړې دي او مخفي مو له دې قطاره ایستلی دی او ویلي مو دي چې مخفي هېڅکله هم بزمي شاعر نه شي کېدای. اوس چې مې د ماستر په لیکنه کې هم دا خبره تر سترګو شوه، بیا هم ما ته د مخفي د شاعرۍ په باب خپل پخواني نظر- د ګیرس په ردکې- په ذهن کې را وګرځېد، خو د ماستر په نظریه کې چې دده د شاعرۍ د بزمي تابه په باب کوم تاویل راوړل شوی دی هغه د منلو وړ دی. ځکه دده له بیانه سړی پوهېدلای شي چې د محتوی په لحاظ خود مخفي شاعري ملي او وطني رنګ لري، اما د شعر ژبه یې د خپل خوږ لت او ساده والي له نظره د بزمي شاعرۍ ژبې ته ورته ده.

همدا راز اروابناد سعادت خان جلبل (۱۹۱۴- ۱۹۷۹ع) د عبدالاکبر خان اکبر د تراخه خواږه نومي مجموعې په مقدمه کې د مخفي د شاعرۍ په باب ویلي دي: " که دا حقیقت څرګند نه کړم نو بې انصافي به وي چې پښتو کې د انقلابي - سیاسي او نوي رنګ شاعرۍ موجدان فضل محمود مخفي او عبدالاکبرخان دی.... "

د مرحوم جلبل نظر د مخفي او اکبر د شاعرۍ د خصوصیاتو په باب دقیق دی، خو پر کومې خبرې چې یې زه تبصره کول غواړم داده چې دوی په مطلق ډول دغه دوه تنه په پښتو کې د انقلابي، سیاسي او نوي رنګ شاعرۍ موجدان بللي دي، حال دا چې دا خبره په مطلق ډول ښایي سمه نه وي دغه مهال په افغانستان کې هم ځینو شاعرانو د وخت له حالاتو څخه د خپلو برداشتونو سره سم ځینې نوې خبرې کړې دي او په پښتونخوا کې هم له مخفي او اکبر سره معاصر شاعران، لکه حبیب الله کاکا (۱۹۳۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړ) محمد- اکبر خادم (۱۳۷۳هـ ق مړ) میا احمد شاه (۱۸۹۴- ۱۹۶۲ ع) او نور په لسګونو شاعران لرو چې د نوي فکر د بیان خوا ته یې هڅه کړې ده.

موږ په لنډ ډول ویلای شو، چې اروانښاد فضل محمود مخفي د پښتو د معاصرو ادبیاتو د روزونکو د سرلارو په ډله کې ولاړ سړی دی.

دی نه یوازې د معاصرې دورې استازی دی، بلکې ددې دورې د سرلارو او آغازګرانو روزونکې دی؛ ډېرو شاعرانو دده له کلامه فیض موندلی دی او دده د فکر او نظر اثرات یې منلي دي. اروانښاد اکبر په دې ارتباط یو بیان لري. ده کښلي دي: " ده (مخفي) ما له د قامي شاعرۍ درس راکړی و او په حقیقت کښې دا یو سړی زما استاد دی"[38]

خان عبدالغني خان، له ښاغلي حنیف خلیل سره په یوه مصاحبه کې ویلي دي:" کله چې وړوکی وم، نو د مخفي صیب او خادم صیب شاعري به مې خوښوله" (مخ په مخ،۶۹ مخ) له دې اشارې ښکاري چې غني له کوچنیوالي د مخفي د شعر تراغیز لاندې و. ډاکټرې سلمی شاهین لیکلي دي چې:" خان عبدالغني لیوني فلسفي هم په خپله وینا کې دا اقرار کړی دی چې دا د مخفي صیب د شعرونو اثر و چې په ما کې یې دقاموسولۍ د جذبې یو تحریك ایجاد کړو" (جدید نظم په پښتو کې. ۷۵ مخ)

---

[38] د افغانستان او روسی ترکستان سفرنامه، ۱۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخفي په پښتو شاعرۍ کې هم د شکل له پلوه او هم د فکر له پلوه د بدلون خواته جدي او بريالۍ هڅه کړې ده. په خپلو هڅو کې کامياب دې روان شعرونه يې ويلي دي، ژبه يې خوږه او پسته ده، د شعر لپاره د کلماتو په انتخاب کې مهارت لري، ډېر جذاب او خواږه کلمات استعمالوي.

د شعرونو د جذب قوه يې زياته ده. پر لوستونکو او اورېدونکو اوس هم ښه اغېز لرلای شي، اما هنري خوا يې درنه او د اعتنا وړ نه ده، بلکې د مبلغ او همدفمند مبارز په توګه په رڼه او رسا ژبه خپل پيغام نوروته رسول غواړي. خو سليس او فصيح.

زموږ په معاصر فرهنګي بهير کې د مخفي د موقف او په پښتو معاصرې شاعرۍ د ده د اثر دا بحث به د ډاکترې سلمی شاهين په دې لاندې خبرو پای ته ورسوو. ځکه دا خبرې د ده د فکري بهيرونو او دآثارو د ارزښتونو يوو نچوړ دی:

"مخفي صاحب په پښتو کې د جديد نظم هم د ستايل او هم د مضمون له لحاظه وړومبی نظم ګو شاعر دی. د ده په عصرکې که هر څو نور شاعران هم د ده ملګري ليدی شي، خو که مشري په مشري وي نو د پښتو د نظم ابتدا يقيناً چې د مخفي د ذات نه کېږي. دا نه يوازې په دې چې د فورم يا ستايل له لحاظه نوی دی. بلکې د حريت او آزادۍ د جذبې کړنګارهم پکې ډېر په زور اورېدی شي. د مخفي صيب د نظم خاصيت يوازې دا نه چې نوی او جديد دی، بلکې په يو شعوري تحريکي انداز کې يې د پښتو د شعر اصليت ترمخه نيولی دی. روايت يې ښخي ملي دی او د ملي بحرونو او اوزانو شاعري پدې مقصد کړی ده چې د پښتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزاج مطابق وي. دا د نظم ومقصديت يو اعلی امتيازي انداز دی چې کوم يو ولس ته د آزادۍ سبق ورکولی کېږي، نو په هغه نظم کې دې ورکړی شي کوم چې ددوی د فطرت سره سم وي" (جديد نظم په پښتوکې، ۳۹ مخ)

## د اجتماعي او اصلاحي چارو عاشق مخفي:

مخفي د انجمن اصلاح الافاغنه د تاسيس له وخته بيا د خدايي خدمتګارو د ډلې تر جوړېدو پورې له دغې مبارزې ډلې سره د زړه له کومې روابط ساتلي دي. دانجمن د فکري بنسټونو په غښتلتيا کښې يې خپله ملي فريضه سرته رسولې ده. د انجمن اصلاح لافاغنه په باب په کښل شويو زياترو ليکنو کښې دا خبره زما تر سترګو نه ده تېره شوې، چې چا دې مخفي هم ددې انجمن په کارکنانو کښې ياد کړی وي، مګر يوازې ارواښاد محمد اکبر خادم په خپل يو نظم کښې چې عنوان يې دی "انجمن اصلاح الافاغنه اتمانزی" په دې نظم کښې يې د مخفي ياد ددې انجمن د يو کارکن په توګه په دې ډول کړی:

ملا محمود مخفي صاحب　　　محمد يوسف صوفي صاحب
عبدالغفور اخی صاحب　　　هم شيدا د ګل په شان
څوک عا لمان څوک شاعران　　　څوک زاړه او څوک ځوانان
څوک مياګان او څوک خانان　　　ايماندار او صادقان
دوی دی ډير خدمت　　　هم په لاس هم په دولت
خدای دې ورکاندي عزت　　　دوی ژوندی کړو قوم افغان[۳۹]

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

[۳۹] خادم، محمد اکبر: ګلدسته خادم، ايمپاير الکټريك پريس، اګست ۱۹۳۷ ع ، ۱۶۱ – ۱۶۰ مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې که مخفي ددې انجمن تر اشراف لاندې د اتمانزو د آزاد سکول د کارکنانو او د بچو په ملي روزنه او احساس را پارونه کښې برخه درلودلې ده، بالمقابل د دې انجمن خلکو او د سکول شاګردانو هم د مخفي د شعر په خورولو او عامولو کښې خپله ونډه سرته رسولې ده.

د مخفي ترانې او وطني اشعار ډېر جذاب وو، د خلکو له روحياتو او د هغه وخت له ملي غوښتنو سره برابر وو. نو ځکه په غونډو کښې به ځوانانو او شوقيانو په شور او جذبه اورول او ناست خلك به يې په احساساتو راوستل.

مرحوم احمد کاکا د مخفي د يوې ترانې د اغېزمنې بابت داسې ليکلي دي: " ددې نه پس بيا ماسټر کريم، فضل کريم- چې په تور مشهور و- حمدالله او حنيف الله په شريکه باندې د مخفي صاحب هغه ترانه چې په ۱۹۲۱ کې هغه جوړه کړې ده او د سکول هلکانو به ويله، د کورس په شکل کې شريکه باندې واوروله. د ماسټر آواز سره د ملګرو چې، لکه ښامار ته بيم غړاوه او هغه ورته تاو را تاو کېږي، خلقو باندې دومره اثر وکړو، ولې چې يو د آواز خوږوالی، بل الفاظ چې د موقع سره برابر وو، نو ځکه يې خلق د تاثير لاندې راوستل... ددې نظم په هره کړۍ به دا دور کېدلو جلسه دې حد ته ورسېدله، چې بلکل په خلقو کې د نوي ژوندون روح پوك وهلی شو، يو خوا آوازونه ، بل خوا هر يو د بل دپاسه او بل خوا د پښتو ژبې خوږ وزن دغې يوې ترانې د نشتر کار ورکه... ".[۴۰]

---

[۴۰] احمد کاکا : خدايي خدمتګار تحريك، د قبايلو نشرات، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۶۹ هـ ش ، ۱۸۵ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانجمن اصلاح الافاغنه په جلسو او مشا عرو کې چې به د مخفي نظمونه اورېدل کېدل ځينو دغو نظمونو به انعامونه ګټل. د انجمن اصلاح الافاغنه په هغه کاليزه جلسه کې چې د ۱۹۲۷ م کال پسرلی په اتمانزوکي جوړه شوې وه ددې کاليزې په ترخ کې مشاعره هم شوې وه. ددې مشاعرې درې نظمونو انعامونه ګټلي وو چې دوهم انعام پکې د مولانا فضل محمود مخفي و[۴۱].

په يادې شوې جلسې کښې د دريو اورول شوو انعامي نظمونو د فکري قوت او ملي شور او زور په باب اروانښاد عبدالخالق خليق (۱۸۹۵- ۱۹۷۸ع) په خپل يو بل اثر کې ليکلي دي: " سرعبدالقيوم خواهش ظاهر کړو چې ما ته هغه انعامي نظمونه واوروه، باچاخان هغه نظمونه را وغوښتل او چا ورته واورول. سر عبدالقيوم ګهبراو غوندې شو، وې چې يره باچاخان تاسو ډېر زړور خلق يئ، تاسو وېرېږئ نه، چې د داسې خيالاتو اظهار کوئ. باچاخان وخندل، وې زمونږ د زړه نه د انګرېز وېره وتې ده، صرف د يوه خدای وېره پاتې ده... "[۴۲].

د مرحوم خليق له وينا ښکاري چې دغه درې نظمونه (چې يو پکې د مخفي و) دومره پاروونکې او د انګرېزي استعمار ضد وو چې په اورېدو يې ځينې خلك وار خطا کېدل.

لنډه دا چې فضل محمود مخفي په پښتونخوا کښې د اجتماعي او اصلاح کارونو يو رښتينې مبلغ، خدمتګار او عاشق و چې اصلاحي او

[۴۱] خليق، عبدالخالق: زه او زما زمانه، ادارۀ اشاعت سرحد، پېښور، منظور عام پريس، ۱۹۶۸ ع ، ۴۰ مخ .
[۴۲] خليق، عبدالخالق: دآزادۍ جنګ، ادارۀ اشاعت سرحد، پېښور، حميديه پريس، ۱۹۶۱ ع، ۸۶-۸۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي افکار يې پر عمل او وينا څرګند وو او ورسره د خلکو سرمشق وو. له دې سربېره مخفي د پښتو د معاصرو ادبياتو يو رسالتمند سرلارى دى چې آثار يې د نويوالي بشپړې ځانګړنې را خپلې کړې او په خپل وخت کښې يې د خلکو د ويښولو، د وطن د بچو د فکري روزنې او شاعرانو، ليکوالو ته د سر مشق کېدلو له لياري خپل ملي او وطني رسالت ښه تراتر سره کړى دى. که څه هم اوس مونږ دده لږ آثار په واك لرو، خو دغه لږ آثار يې هم د خپلو کيفي ارزښتونو له پلوه د ډېرو له سترو ديوانونو نه هم زيات ارزښتمن دي.

## د مخفي تاليفات:

ماخپله تر اوسه د مولوي فضل محمود مخفي کوم مستقل چاپ شوى اثر نه دى ليدلى.

له ما سره دده متفرق چاپ شوى اشعار او ځينې مضامين شته دى. خو په ځنيو مقالو کې دده د ځنيو آثارو يادونه شوې ده.

## د مخفي ديوان:

استاد رښتين په خپله مقاله کې ويلي دي: مخفي د شعر ديوان درلود. د ترنګزو د حاجي صاحب د منځوي زوى فضل شاه باچا سره دده د اشعارو قلمي نسخه موجوده وه. وايي چې د کاږه پانړ له مولوي صاحب سره هم دده د قلمي ديوان يوه نسخه ليدل شوې وه. مخفي صاحب د تصوفي اشعارو يو ديوان هم درلود.

ارواښاد ننګرهارى دده د اشعارو د ديوان په باب په خپله مقاله کې کاږي: " جناب فضل معبود کشر باچاګل صاحب وايي، چې مولانا مخفي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو سوزنده او د قاموليې له مينې ډکو اشعارو ديوان ما ته راکړی و.... ".

د دغو دوو ليکوالو له ليکنو معلومېږي چې مخفي د شعر ديوان درلود، چې له بده مرغه اوس ورك دی.

## موږك نامه:

ښاغلي سليم په خپله مقاله کې ددې کتاب بابت ليکلي دي: " دغو ورځو کې مخفي صاحب د چارسدې په سکول کې و او په اتم جماعت کې يې سبق ويلو، د هغه د ژوند د ټولو نه لويه وسله هغه د فيرنګي استعمار او د هغه د تالي څټو خلاف اولنۍ غزا شروع کړه او د قوم د بيدارۍ دپاره يې يو کتاب ليکل شروع کړل. د دغه ورځو د مخفي صيب شاعرۍ ته مونږ د پښتو اولنۍ طنزي شاعري ويلی شو. ځکه چې ټول شعرونه يې په انګرېزانو او اوده قوم د طنز نه ډك دي. ددې کتاب نوم مخفي صيب منږك نامه ايښوولې وه... " ددغه کتاب پته اوس نشته، څه بيتونه يې ښاغلي سليم په خپله مقاله کې اخيستي دي.

دغه رنګه نوموړی سليم په خپله ياده شوې مقاله کې راوړي دي، چې مخفي په انګرېزي ژبه هم ډېر اشعار ويلي وو. کوم انګرېز چې دا شعرونه ليدلي وو، نو يې ډېر خوښ کړي وو. دا چې دده شعرونه انګرېزانو خوښ کړل، نو ده له انګرېز سره د مخالفت له امله هغه شعرونه څيرې کړل. ويل کېږي چې مخفي يو مسدس هم ليکلی و. له دې سربېره استاد رښتين کښلي دي چې: " دغسې يې د اسلامي فلسفې په خواوشا کې هم په پښتو نثر يو کتاب ليکلی و".

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درې نور کتابونه:

کله چې د افغانستان د وروستیو ناوړه حالاتو له امله زه پېښور ته لاړم، نو خبر شوم چې د دې سیمې له یوه حساس پښتانه ځوان ښاغلي شلمان سره د مخفي صاحب درې اثره موجود دي. ما په ښاغلي شلمان پسې تلاښ وکړ، تلاښ نتیجه ورکړه. ښاغلي شلمان په پښتني او فرهنګي مینه دغه درې کتابونه ماته راوړل. څه موده له ماسره وو او بیا مې په مننه بېرته ورکړل. دغه درې کتابونه یو په درې دوهم په پښتو او دریم په اردو و. مګر ما پکښې د مخفي صاحب نوم نه کړ پیدا. له ښاغلي شلمان نه مې پوښتنه وکړه چې په دې کتابونو کښې خو کومه داسې نخښه زما تر سترګو نه شوه چې مخفي صاحب ته په نسبت کښې دې سرې پرې شکمن نه شي، ځکه نه يې مورږ ته خط معلوم دی او نه د مخفي صاحب په خط او امضا له مورږ سره کوم اثر شته چې ددې کتابونو له خط سره یې مقایسه کړو او ځان پرې ډاډه کړو چې دا درې کتابونه هم د مرحوم مخفي صاحب دي؟

ښاغلي شلمان را ته په ځواب کښې وویل چې دا کتابونه ما د مخفي صاحب له اولادې تر لاسه کړي دي، نو ځکه د هغه دي. د درې واړو کتابونو موضوعات فکري، فلسفي او عرفاني دي او سره نزدیکتونه هم لري، سرې دا اټکل کولای شي چې یو سړي دې لیکلې وي.

زه د ښاغلي شلمان وینا ته د درناوي په خاطر د مخفي صاحب د تألیفاتو په لړ کښې دغه درې سره کتابونه هم لړ لړ ښیم:

(۱) **درې اثر**: ټول **۸۵** مخه دی. اثر په نثر لیکل شوی دی، په منځ منځ کښې یې پارسي نظمونه او عربی عبارات هم راغلي دي. په دوهم مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې يې تر بسم الله الرحمن الرحيم وروسته ليکلي دي ماخوذ از اکسير القلوب.

کوم بحثونه چې په دې کتاب کښې راغلي دي: بحث تنزلات، بحث صفت علم، بحث عالم کبير، بحث عالم صغير، بحث کشف، بحث مراقبه، در بيان مقامات سلوك، بيان حواس عشرهٔ ظاهرى و باطنى، قبض وبسط، طريق استخاره او په پای کې يو بل بحث دی، چې په نظم راغلی دی خو عنوان يې دی: در بيان اذکار و محلهای آن و اعداد آن و افکار آن.

**(۲) پښتو اثر:** اصل او ويخ د کارونو د بنی آدم، دا کتاب په پښتو نثر دی. ټول مخونه يې **۹۳** دي. او په دې عباراتو شروع شوی دی: هر کار يا حرکت چې د بنی آدم نه ظاهر ته راوځي، اول د هغې کار يا حرکت اراده د هغه په زړه کښې را پيدا شي، پس له هغی هغه کار يا حرکت صادر شی. ددې نه معلومه شوه چې اصل او ويخ د کار د بنيادم د زړه له ارادې وي.

په دې خبره د پخوانو او اوسنو فلسفيانو او زمونږ د اهل اسلام د حکيمانو اختلاف دی چې آيا د بنی آدم د ارادې ځای زړه دی که دماغ. اهل سلوك د اهل اسلام په پوره طور سره ثابته کړې ده چې په بنی آدم کښې د هغه د ارادو درې ځايه وي: (۱) دماغ دی، چې ددې ټول قوتونه د دماغ سره اړه لري. (۲) قلب دی، چې ددې ټول قوتونه د زړه سره تعلق لري. (۳) روح دی، چې د ټولو قوتونو سرچشمې روح اعظم دی.

**(۳) اردو اثر:** دا کتاب چې ټول ۷۰ مخه دی په نثر کښل شوی او پيل يې دا دی: اما بعد دنيا اور مافيها کا علم ظاهرمیں تو حواس خمسه کې ذريعی سی حاصل هو، ليکن حقيقت يه هی که اسی حواس خمسه

www.meliTahrik.com 0771 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

کا اصل ذهن کې وه پانچ قوتیں هین جیسی کو: (۱) وهم یا قوت وهم. (۲) خیال یا تخلیه. (۳) تصور. (۴) حافظه. (۵) فکر کها جاتا هی.

ما ددې درې واړو کتابونو ځانګړي نومونه پیدا نه کړل، نو ځکه مې د دري اثر، پښتو اثر او اردو اثر په نامه معرفي کړل.

«۴»

## د مخفي ويناوې او ليکنې:

د مخفـي د پېژنـدنې د دې وړې رسـالې پـه پـای کښـې غـواړم دده هغـه آثار لوستونکيو ته وړاندې کړم چې د شلمې پېړۍ لـه دريېمـې لسـيزې نـه تـر اوسـه پـه متفـرق ډول د افغانسـتان او پښـتونخوا پـه مطبوعـاتو کښـې چاپ شوي دي.

دا را ټـول شـوي مـواد د مخفـي خپـل آثـار دي. لـه هـرې ټـوټې او هـرې مقالې سره يې نوم چاپ شوی دی. لـه بلې خوا د وينا سبك او شيوه او فکريې هم د مخفي دی، نو ځکه د شك مجال پر نشته.

بايـد زه دلتـه دا خبره هم يـاده کـړم چـې پـه دې کـابو پنځوسو شپيتو کلونو کې ښايي په ځينو نورو آثارو او موقوتو خپرونو کښـې هم د مخفي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور شعرونه او مقالې چاپ وې چې متاسفانه زه نه يم پر پېښ شوی. پر هغو چې پېښ يم هغه مې را نقل کړي دي چې ددې رسالې په وروستۍ برخه کې يې تاسو ته وړاندې کوم. اما يوه يادونه بله هم ضروري ګڼم چې ما يوازې پرپېښېدو اکتفا نه ده کړې، يعنې دا چې کله ما د مخفي په باب ددې رسالې د ليکلو پرېکړه وکړه، نومې د مخفي په متفرقو دغسې اثارو پسې هغه منابع و لټول چې د مخفي د آثارو د نشر امکان پکښې موجود و، لکه: په کابل کښې خپرېدونکې انيس اخبار او پښتون مجله. ما د انيس د ۱۳۰۹-۱۳۱۱ هـ ش کلونو کلکسيونونه ګرده وپلټل، هلته مې دده يوه دري مقاله او د هماغې مقالې په پای کښې دده يو پښتو نظم وموندل چې د دې مجموعې په پای کښې راوړل شوی دي.

د انيس اخبار د همدې مهال په ځينو ګڼو کښې ما ځينې داسې ترجمې وليدې، چې په پای کښې يې د ترجمان اداره امضا وه، څنګه چې د انيس د اداري ترجمان هغه وخت مخفي صاحب و، نو کېدای شي دا ترجمې هم د مخفي صاحب وي؟ خو دا چې نوم يې ښکاره نه و ورسره راغلی او بله دا چې اکثر خبري مطالب وو، نو ځکه مې را نقل نه کړل.

د پښتون مجلې کوم کلکسيونونه چې د کابل په کتابخانو کښې ميسر وو، هغه مې ګرده پسې وکتل او کله چې پېښور ته ورغلم د پښتو ديپارتمنت په کتابخانه کې د پښتون د بېلابېلو نشراتی مرحلو ښايسته ډېرې ګڼې موجودې دي. ما دا ګڼې په همدې نيامت ټولې له نظره تيرې کړې چې که د مخفي څه شی پکې و مومم. څه چې لاس ته راغلي دي، هغه د لوستونکيو مخې ته ايښوول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا آثار که څه هم په کمې لحاظ لږ دي خو په کېفي لحاظ دا څو محدود پاڼکې او ټوټې يې هم ډېر قيمتی آثار دي.

د مخفي د آثارو دا حاضره مجموعه په دوو برخو ويشل شوې ده: لومړۍ يې د منظومو آثارو ده او په دوهمه برخه کښې يې منثورې ليکنې راغلې دي.

په د مخنيو بحثونو کښې مې د مخفي پرشعر لږ خبرې وکړې، خو په نثر مې يې څه نه دي ويلي، دا چې په دې مجموعه کښې دده پښتو او دري منثورې ليکنې هم شته، نو ځکه بې ځايه به نه وي، چې دده په منثورو لکېنو هم څو خبرې وکړم.

(۱) دده کومه پښتو منثوره ليکنه چې ما را اخيستې ده، که يې سرې د نثر په ډولونو کښې صنف بندی کړي، نو يې علمي نثر بللی شی، خو ژبه يې د علمی نثر له موازينو سره برابره نه ده اوډل شوې، بلکه ډېرو برخو کښې د ليکوال د پرداخت شاعرانه شيوې پرې خپل اثرات پرېښې دي. زما په عقيده دا نثر په ځينو برخو کښې خاص آهنگ پيدا کوي او کله مطنطن شی. لکه دا ټوټه: " دنيا آباده سرترسر، انسان خوشحاله اکثر، زمکه باغ عدن، عدن هر وطن، ليکن که د سترگی دې پټی کړې او بې ايمانی ته دې متې کړې، په کړليچ دې موټې کړې، نو چا بړی به وران وران شی، ملکونه به بې نشان شی".

د مخفي نثر سره له دې چې په علمی نثرونو کښې حسابيږي، خو ساده والی خوږلت او ځينې ادبي ښيگڼې هم لري.

(۲) دده کومه دری مقاله چې په دې مجموعه کښې خوندي ده. د مقالې عنوان ته په پاملرنه په عادي او ژورنالستيکو نثرونو کښې

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسابیږي، خو د لیکوال علمی معلوماتو هم خپل ځان پکښې ښکاره کړی دی، دده دري نثر فصیح، بلیغ او روان دی.

په لنډه توګه ویلی شو چې مخفي د شاعرۍ تر څنګه ښه نثر لیکونکې هم و، په پښتو او دري یې ښه نثرونه لیکلی دي. هغه درې (پښتو، اردو او دري) منثور کتابونه چې ده ته منسوب دي .د هغو پر موضوعي خصوصیاتو خبرې کړې دي او د نثرونو په ډولونو کې دري واړه په علمي نثرونو کې ځای نیسي.

## لومړۍ برخه وینا وې

«۱»

چــــې د زړهٔ درد دې را کـــوه نـــو اوس دا وا راکــــا
طاقـــت د صبـــر را کـــې نشـــته دی ژړا راکـــا
پـه قـام مـین د نـامرادۍ تیـارو کـې ځـی پـه امیـد
مانـــا امیـــده لـــه دې تیـــرو کـــې یـــو رڼـــا را کـــا
لـــه زړه تـــر ژبـــی پـــورې واړه شـــومه ســـیند دوینـــې
دې ســـیند د وینـــې لـــره تللـــو تـــه یـــو خـــوا را کـــا
پـــه اور د مینـــې د عاشـــق زړه نـــهٔ ســـوزیږې زمـــا
مـــا نـــا قـــلاره تـــه د ســـونې چـــل جـــدا را کـــا
فریـاد دې نـه خیـژي لـه خـولې نـه راتـه وایـې خلـق
مـالـــه دې خلقـــو تـــه طاقـــت د څـــه ویـــنا را کـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلـی د غــم د ســیند پــه مــنځ کــې نــا امــیده ولاړ
مخفــې، مضــطر لــه د "امــن یحــب" دعــا راکــا[۴۳]

« ۲ »

وطن، وطن، وطن یا خوږ وطن زما
په ما له هرڅه ګران
په تاکې دی آرام د روح د سر د تن زما
له تا نه زه قربان
چې څوک په ښاریو کې د بل چا لټوي زر
او نا قلاره وي
یادیږي ورته لاس په تندي باندې پاس په سر
او بې آرامه وي
د داسې ورږو سترګو خلقو حال وی تل بتر
او خوارو زاره وي
دداسې ژونده ښه دی خدایږو ځنکدن زما
د قام په ننګ روان
وطن، وطن، وطن یا خوږ وطن زما

www.melitahrik.com 0777 400 116

[۴۳] آزاد افغانستان، ۱۳۳۳ هـ ش د جوزا د ۷۱ می نیټی ګڼه، ص ۴. دا پاڕکې ما له آزاد افغانستان نه نقل کړی و، کله چې د پښتون په ۴ مه ګڼه اکتوبر ۱۹۲۸ع، ۲۹ مخ کې دا پاړکې وکتل شو، نو ښکاره شوه ، چې د آزاد افغانستان د ضبط ښه سمه نه وه، تر مقطع د مخنی بیت هم پکې نه و. ددې پاړکې اوسنۍ ښه د پښتون له مخی سمه کړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ما له هرخه ګران

****

شړی د داسې کس له شاله ښه ده د بل چا
چې نه لري غیرت
شوده دده د بزو، دده په لوری هر سبا
اوبه يې دي شربت
جونګړه دده غوره له ماڼۍ ده د بل چا
او فقر يې دولت

له تاجه د بل چا ښه دی پټکې خیرن زما
د قام په غم روان
وطن، وطن، وطن یا خوږ وطن زما
په ما له هرخه ګران
په تا کې دی آرام د روح د سر د تن زما
په تا کې دی آرام
وطن، وطن، وطن یا خوږ وطن زما
په ما له هرخه ګران [۴۴]

«۳»

خاونده ته ودانه کړې

[۴۴] پښتانه لیکوال، دوهم چاپ، ۲۶- ۲۷ مخونه ؛ خلیل: همیش، د اباسین چپی، پیښور ۱۹۵۷ع، ۳۷-۳۸ مخونه. د پښتانه لیکوال ځلورم چاپ، ۵۳ – ۵۴ مخونه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د یو والی حجره
یو ځای پکښې د ځانه کړې
د پښتون ډلـــه خوره
یو زړه، یو سا ، یو شان کړې
دې بیل او بیل پښتون لـره

****

کشمیر نـه تر هـرات هورې
بـلوچستان نـــه تـــر دورې
دا ټول پښتون دی هر چـرې
څه رنګ دی پروت ذری ذرې
د یــو وجـود په شانې کـړې
یـــا خـدایــــه دا ذره ذره

****

لـویــو تـــپـو د پښـــتنو
په غره په سم پرتو درنـو
نمسو د لویـــو پلر ګنو
راځئ چې یو شو لیونـو
یا لویه خدایه ورانه کړې

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپیره بیلتون لره دیــره

****

پښتو زمونږ چـرتـه یې
ولی زمونږ نه بیرتـه یې
زمونږ زړه ځیګر تـه یې
زمونږ د قام وزر تـه یې
په مونږه لار ته آسانه کړې
چې مونږ یو شو کل سره

****

د پښتنو اول نیکـــــــه
خواره نمسي دې یو کړه تـه
دا شانې تیت دي دوی په څه
خبر لۀ یـــو لۀ بل نه، نــه
یا لویه خدایه ورانـــه کړې
سپیره بیلتون لـــــره ډیره

***

زمونږ له ملك نــه دښمنان
یا خدایه لر کړې نن زمـان
په مونږه کړې زمونږه خان
زمونږ د قام زمونږ د ځـان

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا زمونږ لــه ځا نه کړي
د پښتون تــوره تیره [45]

«۴»

خادم د شریعت ســاتونکې د ملت
خاوند د لوی عزت زمونږ اعلیحضرت

یو سوری د اولس په سر د ټول افغانستان
امیر امان الله خان

د ملك په ننګ ونام هر ساتې بې آرام
خدمت کې د اسلام کړیږي هر مدام

پر موږ باندې دی زیات له مور او پلاره مهربان
امیر امان الله خان

ستا فکر او ستا خیال بس دی زمونږ په حال
خپل ځان لرې ملال چې مونږه کې خوشحال

څښتن دې لرې تل خوشحاله تا په هر زمان
امیر امان الله خان

ته یې زمونږ مین ته یې زمونږ لدن
ته سا زمونږ د تن ته روح یې د وطن

www.melitahrik.com
0777 400 116

---

۴۵ کابل مجله، د ۱۳۲۶ هـ ش کال، د اسد د ۱۵ می کڼه، ۱۲- ۱۳ مخونه.

د پښتنی ارمان لومړی ټوك، ۱ مخ کې هم د مخفي صاحب دغه شعر چاپ دی، خو وروستی بند یې پکې نشته او پنځه کړۍ پکې راغلې دي (۱۳۴۴هـ ش کال د کابل چاپ) دا ترانه په ډیرو منابعو کې ګډه وډه او ناقصه راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناموس زمونږ د ملك له ستا وجود دی نګهبان
امیر امان الله خان

ته يې د ملك رڼا          تـه يــې ددين پناه
زمونږه تکيه ګاه          مونږ فخر کړو په تا

څرګند دې نوم د قام زمونږه کړې په ټول جهان
امیر امان الله خان

زمونږ نه وه خپل واك          ډيرګران وه داسی ژواك
ته پاڅيدې چالاك          پـه فضل د رب پـــاك

آزاد دې قوم زمونږه کړ له جغ د دښمنان
امیر امان الله خان (*)

زمونږ نه وه دستور          په کار وه دا ضرور
تـــيار که تا صفور          مونږ ټولو تـه منظور

ساتونکې د دستور د دين زمونږه له نقصان
امیر امان الله خان

تا جوړ کړه مکتبونه          پکې لــولي علمونــه
د هــر فــن کتابونه          زامن زمونږ او وروڼه

رسيږي و هر چا ته فيض د علم په هر آن
امیر امان الله خان

زمونږ نــه وه جرګه          تا جوړه را له کړه

---

* هر ساتې= هر ساعتې= ساعت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې کېږي زمونږ ښه　　　پـادشاه له تـا سره
مولا له تا رضا شه تا رضا کړه وطنیان
امیر امان الله خان

پـادشاه زمــونږه سر　　　حاضر دی ستا په در
زمونږ زړه او ځیګر　　　د ی ستا پــه مدح سر
قربان له تانه زمونږه اې زمونږ د ملك امان
امیر امان الله خان [46]

«۵»

زه د قام په غم ژونـدی یــم
دغه غم مې پــه زړه تـــل وي
په ځیګر ســوی له دې یـــم
سر کې اور مــې دینه بل وي
خدایه داسې وخت به راشی
چې زمونږجهاز به هم وي
لکه باز به په هوا شې
په ترخو اوبو به سم وي
ریل به هم زمونږ پیدا شی
تار به هم په هر قدم وي
زه دقام په غم ژوندی یم
دغه غم می په زړه تل وي

---

[46] رویداد لویه جرګهء افغانستان ، ۱۳۰۳ هـ ش ، ۳۷۲ -۳۷۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځيکر سوی له دې يم
سرکې اورمی دينه بل وي
*****

اې زما ننکېالی قامه
وخت د ننك او دسيالۍ دی
د دنيا په ډاګه عامه
نن هر قام په د او ولۍ دی
چې خپل قام نه کړې بد نامه
نن هر قام په ننګولۍ دی
خدا يه مړله دې پخوا وی
چې مې بل ته قام خجل وي
زه د قام به غم ژوندی يم
دغه غم می په زړه تل وي
په ځيکر سوی له دې يم
سرکې اورمې دېنه بل وي

www.melitahrik.com
0777 400 116

***

زما يوټکې د وينې
د وطن په مينه رنګ وي
غوښه پوست می په رښتينې
جوړ دقام په نام وننګ وي
په رښتيا پښتون زلمی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما کار پښتو او ننګ وي
تل دې مړزه هم په دې یم
دا دې تل مې په زړه وي
زه دقام په غم ژوندی یم
دغه غم می په زړه تل وي
په ځیګر سوی له دې یم
سرکې اور مې د ښه بل وي

****

خدایه داسی ژوندون را کړې
چې په زړه کې غم د قام وي
دواړه سترګې مې نمنا کې
په دې غم سبا ما ښام وي
را کې درد داسې پیدا کړې
چې وجود مې بی آرام وي
پدې غم کې لیونی وی
دا سودا می د زړه مل وي
زه د قام په غم ژونده یم
دغه غم می په زړه تل وي
په ځیګر سوی که دې یم
سرکې اور می د ښه بل وي[48]

www.melitabrik.com
0777 400 116

[48] دا پاړکې د پښتو په ځینو تذ کرو او ځینو موقو تو خپرونوکې ټوټې ټوټې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«۶»

ستوریـــو د آسمان اوچت
ښکاری پــه تیرو کې تت
شپه زمـــا د بــد قسمت
وایې پاتې څومــــره ده
حق حیران دریــان مخفي
ګډ په های سوران مخفي
بې هوشه بې ځـان مخفي
او پیالۍ نسکوره ده[۴۹]

www.melitahrik.com 0777 400 116

«۷»

څۀ عجبه وخت و چې قبوله دې دعا کړله
وادې خشتو فضل معبود ورکه دې بـلا کړله
اوس که درتـــــه ژاړم هزار ځله دعا کوم
نـــه قبلیږي خدایه بې تاثیره دې دعا کړله[۵۰]

---

مانا دا چې هربند یې دیو ځانته پاړ کې په توګه چاپ شوی دی. ماهم له بیلا بیلو ځایونو پدې مجموعه کې څو ځایه د جلا جلا پاړکو په توګه خوندي کړي وو. کله چې مې د خان شهید، خان عبدالصمد خان اڅکزي (زما ژوند او ژوندون) وکوت، نو د مخفي د دې پاړکي بشپړ شکل پکې خوندي و، (۳۱۲مخ). ماهم له همدې ځایه په حاضره مجموعه کې بشپړ را واخیست.

[۴۹] پښتو مجله، ۱۹۸۱م، می– جون ګڼه

[۵۰] پښتو مجله ۱۹۸۱، می – جون ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«۸»

دریـــغه دریغه اې عدمه
تا کې پروت وې بې غمه
دلتـــــه چا زه را وستمه
ډك له درده له آزاره [۵۱]

«۹»

ما له د زهرو پیاله را کړئ چې پرې و مرمه زر
ګیله بـــــه هره ورځ په مخکې د طبیب نه وي
پسه چې لـــــه سرمښ خلاصوی حلالوې پخپله
داسی احسان خو دې په ما غریب مخفي نه وي [۵۲]

«۱۰»

د دنیا پـــــه ارت میدان زه
یم غونډسکې د چوګان زه
بغرګې لتـــــې د آسمان زه
خورم په سر باندې هرواره
د آسمان د ژرندې لاتـــدې

---

[۵۱] پښتو مجله ۱۹۸۱، مې – جون ګڼه.
[۵۲] پښتو مجله ۱۹۸۱، مې جون ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د مزکې پـــه سر باندې
تـــل دې لیږمه ارمان دی
زۀ مخفي غریب بیکاره [۵۳]

«۱۱»

څۀ له رګ د بدن می طبیب ګوری نن
نن مې دی څنکدن را لـه راوړئ کفن
را له راوړئ کفن

ددنـــیا دنـــګو غـــــــــرو
آبـــــــادواو میــــــــــرو
سیند او خـــــــوړو او چینو
پاتې ستاسی دیدن، پاتې ستاسې دیدن
را له راوړئ کفن

ښـــو ځوانانو تـــمام
چې کوئ هر مـــدام
ښه لپاره د قـــــام
زمـــا واخلئ سلام
سامې خیژي له تن
را له راوړئ کفن

د دنــــــیا د دیـــــــــــرې

[۵۳] دا توېه، د پښتو مجلې د ۱۹۸۱ ع کال د مې ،جون ګنې څخه اخیستل شوې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي مخفي هـــــــــــر سړی
څوك ړومبی څـــــوك وروستی
ښه دی خدای ته رفتن، ښه دی خدای ته رفتن
را له راوړئ کفن (۵۴)

«۱۲»

ربه مونږ لــه مینه د قام را
په دې اور کې را له آرام را
ته ددې نه روغ هر اندام را
ته د مینی مونږ لــه جام را
***
چې نمرود ته هم حق ویونکې وو
د فـرعون نه نـه ویریدونکې وو
امتی ، امت بــه ویـــونکې وو
مونږ له دغه شان اسلام را
ربه مونږ لــه مینه د قام را

***

چې نــه شور لري نه آواز لري
د میــن زړه راز ونیاز لـــري
لکه بوی د ګل د زړه راز لري

۵۴ پښتو مجله: می ، جون ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ له دغه شان اسلام را
ربه مونږ له مینه د قام را [۵۵]

«۱۳»

یو ځلی یـــــو زړې پیشو کــړه جمع منږکان
وې اې زما بچو ړو تـــــــاسې مه کوئ خفګان
زه حج له ومه تـــــلې حج می کړی یم راغلې
بی ذکره ویم چې بله څه می له خولی نه، نه ایستلی
***

قصه به درتـــــه وکړمه یـــــــوه د امریکې
یو ځلي یو ســــــړی و ددې ملك په هغې کښې
وې اخلمه کوټه چې په قلار اوســـــــم پکښې
خاونـد د کور تـــــه وویل چې څو به یې را کې
اوس ګوره چې خاوند د کور یې څه رنګ شو ګویان
***

وې تــــه یې رعیت د پیرنګیانو د لندن
په ختهه کښې اخښلې غلامی ده ستا د تن
چې تا لــه کوټه درکمه دپاره د مسکن
ګویا د بې ننګۍ بوټې نا لومه پـه وطن
څه، څه ددې ملکه نـه صاحب مهربان

---

[۵۵] پښتو ( مجله)، پښتور اکېډیمی، پیښور، د ۱۹۸۱ ع کال د می، جون ګڼه، ۹۲- ۹۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

دنیا کې دي قومونه چې لــري خپل حکومت
جاپان او امریکې ته فکر وکړه یـــو ساعت
هریو په خپل هنر سره حاصل کړو بادشاهت
بیا دغه بادشاهت یې په دنیا کې کـړو اوچت
په علم په هنر شو د ملکونو خاوندان [۵۶]

«۱۴»

اې جهله روك شې مونږ دې روك کړو
مونږ رو کېږو، ارمـــان ارمان دی
جهل نشه ده سړی پرې مست وي
زمونږ هر یو تن مست په ځان دی [۵۷]

«۱۵»

تـــول عالم بیدار شو
پاڅید پـــه خپل کار شو
پوه شو هم هوښیار شو
زده کړې تـــه تیار شو
مونږ د خوبه ذری ذری [۵۸]

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

[۵۶] دا لوړ څلور بندونه، د مرحوم مخفي د منږك نامه نومی کتاب له بیلابیلو برخو څخه اخیستل شوي دي
[۵۷] اباسین (مجله)، د ۱۹۵۶ ع کال د نومبر گڼه، ۲۴ مخ.
[۵۸] پښتون (مجله) د ۱۹۳۹، د اگست د لومړی نیټې گڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«۱۶»

خــــواوشا رېلۍ باران
واورې او سیلۍ طوفان
پاتې لـــه خپل کاروان
او شپه تکه توره ده [۵۹]

«۱۷»

چې د زړه درد دې را کوه نو اوس دوا راکه
درد را کوې د درد دپاره زغم وما را که
په نا امیده بد نصیبه شپه پیدا شومه زه
د عمره پورې ددې تورې شپې سبا را که
چې پس له مرګه را ولې زما د عمر سبا
سبا له نه په ما ده سخته نن ته دا را که
په لوی رحمت کې د رحمان (مخفي) څه نشته کمی
جفا رقیب کوي آمان له دې جفا را که [۶]

«۱۸»

څه لویه دنیا دې پیدا کړې ده چې څه لــه ده؟
دا دې بې پایانه بنا کړې ده چې څه لـــــه ده؟

---

[۵۹] پښتو (مجله) د ۱۹۸۱ ع کال د مې، جون ګڼه، ۹۱ مخ.
[۶] پښتانه لیکوال، ج ۱ ص ۵۶.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

مينه كه موجود نه وي موجود به يې وجود نه وي
مينه دې وجـود لره سا كړې ده چې څه له ده؟
خدايه يوه آه مې ستا تر عرشه رسيدى نـه شى
ټوله شپه مې ستركو ژړا كړې ده، چې څه له ده؟ [61]

«۱۹»

هغه قام ژوندى دى چې جذبات د شهادت لـري
جمع په خپل ځان كښې استقلال، علم و حكمت لري
بې د استقلاله ، هـــــنر جنګ پڅه تــوره ده
توره دې تيره ساتي هر څوك چې د جنګ نيت لري
علم د انسان د فــوقيت دى يــو محكم نـــشان
دا صفت جهاد سره ډير لوى مناسبت لري [62]

«۲۰»

اې آسمانه ولـــې نـــه شوې را نسكور
اې آفتابه ولـــې نـــه يې د غمه تـور
لويو غرونو! ولې ريز او مريز نه شوئ
ونو! بوټـــو! ولې نـــه سوزئ په اور
مزكې پرق له ډيره غمه ولې نـــه چوې
ستا د پاسه څومره وير دى څومره شور [63]

---

[61] پښتو، مى ، جون ګڼه ۱۹۸۱ ع ، **۹۵** مخ.
[62] پښتانه ليكوال ج ا ص **۵۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library

«۲۱»

هر موج چې را اوچت شۀ د زړۀ د لـوی دریاب زما
تر غاړې د خـولې راغی بیا واپس شۀ دا سیلاب زما
ما بد نصیب هر ځل چې کوم یو خوب ولید یا خیال وکه
هر ځل شه خیال او خوب غلط آرمان په خیال او خوب زما
راځئ کـــه ننداره کوئ بـــې تیغه وژل کېږمه
بیا پس لــه مرګه نشته دی خونــد که پیچ و تاب زما
مخفي که پټ دنــیا کې دی، غم دی د کل جهان په دۀ
باور که دې پری را نه شی دا دی د زړه کتاب زما [64]

«۲۲»

هر ځـــــوك د خپلی ژبې پت لري
ورســـــــره مینه محبت لري
پکښې عـــــلمونه لیاقت لري
پدې کښې خـــط و کتابت لري
په پښتنو بـــــاندې ده خپله ژبه
ګرانه نــــــه یې لیکون دی
زړه مې د غم په تبر غوځ شو ناګهان
ګران مـــــــی ژوندون دی

www.melitahrik.com
0777 400 116

---

[63] پښتانه لیکوال ، دوهم چاپ، ۲۸ مخ.
[64] پښتو (مجله) ، می، جون ، ۱۹۸۱ ع ، ۱۰۰ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه برخه

## لیکنې

«۱»

### توره تیاره مه راوله، تورتم مه جوړوه!

عزتمندو صاحبانو او د حقیقت طالبانو! خبر یئ چې دنیا په څه قایمه ده او ودانه او سمه ده؛ کله اوړی شی، کله ژمی، کله سپرلی شی او کله منی.

په دې ادل بدل او تلل راتلل کې کله سختی وي او تکلیفونه او کله مزې وي او آرامونه، مثلاً په اوړي او په ژمی کې خلق ضرور بې آرامه وي، د ګرمی او د یخ تکلیف عام وی، لیکن په پسرلي کې بارانونه وریږي، میوې، غلې، دانې، غنې، بوټي، شینکي راټوکیږي؛ د بنیادم د ژوندون سببونه او د آرام اسبابونه ډیر شی. قدرتی ذرایع د آرام عام او بې شماره شی.

مثلاً لوړې هوارې شی، ژورې سمې لارې شي، کلي آباد شی، میرې باغات شی، ملکونه د عدن جنات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبريږ ددې حقيقت څه دی؟ په دې کې اصليت څه ميشته دی؟ عالمانو تحقق کړی دی او ساينس دانانو يې تصديق کړی دی چې دنيا په يوه نيغ خط پرته ده، خط استوا ددغه خط نامه ده. نيمه تريو خوا او نيمه تر بل خوا پرته ده. ګويا که خط استوا د تلې يوه ډنډه ده او زمکه د دوو چابړو نمونه ده چې د خط استوا په ډنډه باندې پرته او "ووضع الميزان-لاتطعو فی الميزان" هر کله چې ددې تلی يو چابړی يوخوا کوږ او بل بل خوا را کوږ وي، نو په دواړو چابړو آرام ورك وي؛ دواړه طرفونه يې له تکليفونو ډك وي، خلق له ګرمۍ يا له يخنۍ نه کنجلك وي. او هرکله چې دواړې چابړې برابري وي او په خط استوا باندې نيغ پراته وي، نو دا د پسرلی موسم وي او يو ښکلی منظر وي، هر طرف ته آبادي وي او اختر وي، نه د ژمي سختي نه د اوړي ګرمي.

هر ځای ګلونه، هر خوا چمنونه، هر څوك خوشحال اوهر حال په اعتدال. ليکن يوه شوئ چې ددې موسم د پيدا کېدو حقيقت څه دی؟ او ددې آبادۍ او خوشحالي اصليت څه دی؟ هغه د زمکې د تلې د دواړو چابړو د خط استوا په ډنډه برابريدل دي او هغه د دواړو ډډو نيغ او سم پريوتل دي.

پس معلومه شوه چې کار ټول په خط استوا کې دی او سبب يې ټول په دې خط باندې سمتيا کې دی.

ستاسو به خيال وي چې دا خط به د يوې کرښې په مثال وي. په پنسل به راکښليشوی وي، يا په سياهي به ليکلی شوی وي، يا له سيمو يا له جستو يا له اوسپنې يا له څه بل څه نه به روغ وي، او کوږ به تلی، راغلی وي يا نيغ به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت دا دی چې دا خط ستا خیال، ستا په تصور کې په څهٔ مثال دی. ددې وجود هم د انسان خیال دی او د هغی کمال دی. د انسان په سبب دا موجود دی او د انسان خیال، فکر، عقیده ددې سبب د وجود دی. ددې مثال ستا د خوشحالۍ یا د غم په شان دی چې د دواړو ستا په دماغ کې مقام دی او سبب یې هم ستا خیال او وهم و ګمان دی. دا هغه خط دی چې په نقشه کښې د سیاهی دی، په جغرافیه کې د ریاضی دی او په عقل کې فکری او په دماغ کې نظري. په جغرافیه کښې دې ته خط استوا وایې، په اخلاقیاتو کې د اخلاقو سمتیا (صراط المستقیم) وایې او په معاملاتو کې ورته ګذران صفا او د تلی نیغ تیا (وزنوا بالقسطاس المستقیم) په آخرت کې دا پل صراط شي د ویښته نه نری د اوبو نه نرم او د تورې نه تیره والی کې زیات شی. د هر چا تله به پرې کېږي او ضرور ضرور به پرې تیرېږي (کان علی ربك حتماً مقضیاً).

پس اې صاحبانو! د دنیا تله ستاسو په خیال قایمه ده او د زمکې غونډ ستاسې په فکر دوه نیمه دی، دواړه نیم غونډه یې ستاسی په فکر چلیږي او وړاندې او وروستو کېږي او سبب د آبادۍ یا بربادۍ جوړیږي. څومره چې د یو شي د وجود فکر په دماغ کې زیات مضبوط وي او د زړه سره ډیر، هغی ته عقیده وایي او د ایمان یوه مسأله وایې د ډیرو عقیدو نه ایمان جوړیږي او د ایمان د مضبوطوالي نه جهان او د جهان دوران. د دنیا ښهرونه اود ښهرونو بازارونه په بازارونو کې د تلو روزګار، د کچو نو، د میچونو او د بی شماره پیمانو او اندازو شمار او کاروبار او د دنیا د تلی د دوه چابړو قطار، د هغی حرکت وار په وار. او د هغوی په خپلی ډنډې یعنی خط استوا یا برابری یا لری یا بری.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په هر عمل د دې خط استوا خيال وو، هر کار د دې تلې د ډنډې په مثال و، نه زيات نه کم، بلکه په اعتدال و، نو چاپېر د دنيا برابر.

دنيا آباده سرترسر، انسان خوشحاله اکثر، زمکه باغ عدن، عدن هر وطن، ليکن که سترګې دې پټې کړې او بې ايمانۍ ته دې متې کړې، په کږ ليچ دې موټې کړې، نو چاپېر به وران وران شي، ملکونه بې نشان شي، قومونه به فنا شي، ښهرونه به تباه شي، په بازار د دنيا کې به توره تياره راشي، يقيناً دنيا به ورانه او انسان به عدم ته روان شي. پس اې انسانه! اې د عقل خاونده نکته دا نه! اوس ستا واك دى او ستا اختيار دى او ستا کار دى او ستا روزګار دى، که جهان آبادوې، که دنيا ورانوې، که زمکه باغ عدن کوې، او يا شاړ وطن ته جوړ وې[۶۵].

« ۲ »

---

[۶۵] رهبر، د ۱۹۵۷ع کال د مى د مياشتې د ۸ مى نيټې ګڼه، ۱۸ مخ؛ د ارواښاد مخفي دغه مضمون ما له رهبر څخه اخيستى و، وروسته مې د پښتون ۱۹۴۵ع کال د اګست د ۲۲ مى نيټې ګڼې (۱۴- ۱۵ مخونه) کې هم وکوت او د پښتون له مخې مې سم کړ. دا مضمون د کابل مجلې د ۱۳۲۶ هـ ش کال د اسد د مياشتې د ۱۵ نيټې په ګڼه کې هم چاپ شوى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جشن چهاردهمین استقلال

اهدنا الصراط المستقیم. صراط الذین انعمت علیهم غیرالمغضوب علیهم ولاالضالین آمین.

دعای مندرجهٔ فوق دعایي است که یك مومن و مسلمان شب و روز در هر نماز از خدای خود خواستار و طلب گار آن بوده، از صمیم قلب و خلوص نیت به پیش خدای حی و قیوم خود بران لب و زبان خود را حرکت دا ده و قایل آن میگردد.

معنی آن این است که ای خدای رحیم و مهربان وای رب العالمین و مالك یوم الدین ما را در زنده گانی دنیوی به راه راست و درست هدایت نما! همان راه راست و درست که به رجال بزرگ و ابطال کبیر دنیا مرحمت و ارزانی فرموده و نشان داده بودی، نه راه زندگانی کسانی که راه صحیح نشان دادهٔ ترا ترك نمودند و به قهر و غضب تو گرفتار گردیدند و نه راه کسانی که با آن راه مستقیم پی نبرده براه غلط رفتند و گمراه شدند.

www.mellitahrik.com
0777 400 116

***

حضرت ابراهیم (ع) اب الانبیا که در کفرستان کالدیه شهر آشوب بابل حیران و پریشان تفکرکنان جویای این صراط المستقیم بودحتی راه غلط شرك و کفر ابا و اجداد و قوم و هموطن خود را ترك کرده ، صراط المستقیم دین الهی را برای رفتار وزنده گانی خود منتخب و مقبول

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمود. فی الحقیقت از قبضۀ ظالمانه و مستبدانۀ نمرود و جماعت او آزادی و استقلال حاصل میکرد.

و برای حصول آزادی و استقلال شخصی آن حضرت بیزاری پدر و مادر بغض قوم و ظلم و وجود حکومت و قهر و غضب پادشاه عصر خود را متحمل گردید، حتی سوختن در آتش سوزان، مهجوری از وطن، تحمیل سختیها و محن مسافرت و جلاوطن را بر خود گوارا نموده، اما زنده گانی حرومستقل و تعقیب صراط المستقیم را هرگز از دست ندادند.

پس آزادی و استقلال نعمتی است که از جانب رب العزة به اب الانبیا پس از تحمیل چندین جورو جفا و ظلم و تشدد و عسرت و مصیبت مرحمت و موهبت شده است.

آن که به سرزمین مصر به پیش یك حاکم جابر و متکبر طاغی و باغی از احکام الهی تبلیغ میکرد و قوم خود بنی اسرائیل را از ان سرزمین که به آزادی و استقلال در آنجا تعمیل احکام خداوندی را کرده نمیتوانستند ترغیب خروج میداد، در حقیقت طالب آزادی و استقلال از کفر و طغیان فرعون و حزب او بود و برای حصول این آزادی و استقلال انواع و اقسام مظالم و شداید اهل مصرو فرعون را متحمل گردیده، تا آن که خود و قوم غریب و بی سروسامانش دوچار با مصایب و آلام گردید، اما گوهر مقصود را هرگز از دست نداده بالاخره خود و قوم خود را از بحرعمیق و مهلك غلامی به ساحل عزت، استقلال و آزادی رسانید.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

این یك نعمت بی نهایت و مرحمت بی غایت بود ، که خدای مهربان به حضرت موسی علیه السلام انعام و اکرام فرمود .

***

آن که در کوه و صحرای فلسطین و درا سوق و محلات بیت المقدس با یك عشق مفرط قوم خود را از غلامی ملت غیر تعلیم آزادی میداد و آنها را به صراط المستقیم استقلال از محکومیت کفار سوق مینمود ، و قوم بنی اسرائیل را تعلیم حریت و بشارت استقلال میبخشید حضرت مسیح علیه السلام بود .

اگرچه در این تعلیم حضرت عیسی(ع) مقابل همه گونه آلام و مصایب مبغوضی قوم و مجرم حکومت جابرۀ وقت گردید ، با این هم هیچگاه از تبلیغات حریت و استقلال فراموشی و خاموشی اختیار نکرد .

***

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم که قوم عرب را از حضیض کفرو رسومات قبیحه به شاهراه اسلام آورده ، آنها را از سلاسل کفر و بنده گی و محکومی شیطان آزاد نمودند ، فی الحقیقت اهل اسلام را به صراط المستقیم استقلال رهنمایی نمودند .

در این حصول مقصد عالی آنحضرت را چقدر مصایب و شداید و تکالیف و سداید عاید گردید؟ به ارباب بینش و دانش پوشیده نیست. اما آنحضرت همۀ آنها را به نهایت صبر و ثبات و الوالعزمی تحمل نمودند و یك ملت عظیم دنیا را به راه مستقیم استقلال و آزادی هدایت نمودند .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس نعمت حریت و استقلال همان نعمت و مرحمت عظیم الهی است که به واسطه امام الاحرار صاحب عزوالاستقلال اعنی حضرت محمد (ص) به ملت آزاد و مستقل اسلام عطا شد.

***

حریت و استقلال (نفسی و اجتماعی) همان امانت خداوندی است که تمام موجودات از تحت الثری الی سموات العلی و ما بین هما استعداد تحمل و تحفظ آنرا نداشته اخرالامر انسان ضعیف البنیان ذمه وار حفاظت او گردید.

چناچه فرموده شده است:

انا عرضنا الأمانة علی السموات و الارض والجبال فأبین ان یحملنها واشفقن منها و حملها الانسان.

و حافظ شیرازی میفرمایند:

آسمان بار امانت نتواست کشید
قرعهٔ فال به نام من دیوانه زدند

در حقیقت نعمت حریت و استقلال همان عهدهٔ خلافت ارضی است که عالم ملکوت با وجود غلبهٔ روحانیت و علم و فضلیت از تعمیل و تکمیل آن عاجز و قاصر بوده، آخرالامر این رتبهٔ عالیه به انسان ها مفوض گردید، چنانچه فرموده شده است:

و اذ قال ربك للملایکة انی جاعل فی الارض خلیفه قالو أتجعل فیها من یفسد فیها و یسفك الدماء و نحن نسبح بحمدك و نقدس لك قال انی اعلم مالاتعلمون. این نعمت الهی و مرحمت نامتناهی خداوندی که از

(c) ketabton.com: The Digital Library

يك مدت مديد و عرصهٔ بعيد از دست ملت افغانستان به در شده بود به مثل ديگر اقوام اسلاميه زير حمايت اغيار رفته تحت فشار اجانب آمده بود ، باری به فضل بيحد الهی و توفيق بيچون ايزدی از عرصهٔ ۱۴ سال به اينطرف مجدداً نعمت گم شده را حاصل و عزت متروكه را نايل گرديده، خود را از ذلت حمايت كفار و حقارت استمداد اغيار بر آورده، به راه صحيح حريت و شاهراه مستقيم ابرار از حضرت ابراهيم، موسی، عيسی، محمد صلوات عليهم اجمعين، روان و پويان شدند: فسبحان ذوالملك والملكوت سبحان ذالعزة والعظمت والكبرياء والجلال و الجبروت. سبحان من يحی ولايموت سبوح قدوس ربنا ورب الملايكة والروح. اما هر نعمت الهی را شكری واجب وهر مرحمت ايزدی را مواظبت لازم است، يعنی هر نعمت را بايد شناخته و در تكميل آن ساعی باشند و هميشه از روی احتياط و اهتمام مواظبت آنرا نمايد تا آن مرحمت ضايع نشود.

پس ظاهر است كه ملت حر و آزاد افغانستان به محافظهٔ اين مقصد عالی يعنی حريت اجتماعی و حريت و مصؤنيت شخصی و حريت افكار و اراء و استقلال اقتصادی و جغرافی و بسا منازل صعب المرور و مراحل شديدالعبور ارتقايي متعهد است و نبايد ما خود را قانع ساخته وبی پروا سازيم، زيرا غفلت انسان را از راه صحيح و مستقيم ايزدی دوركرده به گودال كبرو غرور، ريا و فساد پرتاب ميكند ، چنانچه فرموده شده است:

ولاتمش فی الارض مرحا انك لن تخرق الارض. ولن تبلغ الجبال طولا. خاطر نزاكت مائر قارئين كرام را ملتفت به شكر خداوندی و ازدياد اين نعماء موفق خواسته ضمناً اين چند اشعاری را كه نگارنده به زبان افغانی حسب حال خود گفته، ختم سخن مينمايد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاونده خوږو زړو له مرهم د رحم را کــه

ناروغه له شربت د خپل فضل و کرم را که
منزل د محبت چې سختی لــري بی شانه
دی سختو کې منزل ته تګ ما لره سم را که
زړګی مې له غم ډك دی، نا امیده له هر در شوم
نا امیده لره خدایه خپل در ته قـــدم را که
که غواړې چې ناروغ شی ستا په فضل بیا روغ
یا تهول کړې ناروغه یــــا ماله عدم را که
(مخفي) لري زړګوتی ستا غم، لکه عالم دی
دې غم له د عالم شان یو لوښی د غم را که [۶۶]

www.melitahrik.com 0777 400 116

[۶۶] انیس، د ۱۳۱۱ هـ ش کال ۱۵ مه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نتیجه او پېشنهادونه

لهٔ دې څېړنې او د ارواښاد فضل محمود مخفي له دغو خورو ورو منظومو او لیکنو زه دا نتیجه اخلم چې فضل محمود مخفي د پښتو د معاصرو شاعرانو په هغه ډله کې ولاړ سړی دی چې په پښتو شاعرۍ کښې یې د شکل او مضمون له پلوه د بدلون زیار ایستلی دی. د کلام هغه محدودې نمونې چې یې زموږ په واك کښې دي د هغو له مخې موږ دې د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې د رسالتمندو شاعرانو په ډله کښې دورلی شو او د نوښتګرو سرلارو یو نماینده اومخکښ شاعر یې بللی شو.

ده خپل ژوند د افغان اولس خدمت ته وقف کړی و. دی د خپل قوم په غم غمجن او په درد دردمن و. مخفي د خپل قوم – که هغه لرو او که بر – یو شانته خدمت کړی دی. خپل امکانات او هنر یې د وطن او خلکو په اختیار کښې ایښې وو او څېرونکې دی د پښتنوالی لیوال بولی. (افغانستان ۲۸۲ مخ). خوزه ورسره داخبره هم زیا تووم چې مخفي د آزادۍ د شمعې پتنګ، د بیدارۍ او د تعیلم د خوړولو عاشق، د افغانانو د اتفاق او یووالی ټینګ طرفدار او د تاریخي افغانستان د جوړولو صادق مبلغ و.

دده سرګردانه او له رنځونو، کړاوو سره مل ژوند ، سفرونه او لالهاندې ټول هغه عوامل دي، چې دده د آثارو په نه خوندي ساتنه کښې موثریت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه څـه هـم دده درې منثـور پښـتو، پارسـي او اردو کتابونـه ځینـو خواخوږو ساتلي دي، خو دده منظومات او دیوان چې د پښتو معاصر ادب په پیلامه کښې د فرهنګي رشد د شاخصونو د څرګندولو لپاره د روان ادبي بهیر د محاسبې وړ آثار باید وي، هغه زموږ له سترګو نهام دي. سره له دې چې استاد رښتین او نورو دده د دیوان څرك په لاس را کړی، خو تر اوسه میدان ته نه دی را وتلی.

دا محدود څو پاڼکي یې چې زموږ په واک کښې دې، دده ژوند د فکري او هنري ودې پړاوونه نشی ښوولای خو بیا هم دا ټوټې باید غنیمت و بولو او موږ یې د معاصر پښتو ادب په پیلامه کښې د بدلون د نماینده نمونو په توګه ارزیابی کړو.

د مخفي د ژوند او آثارو په باب که څه هم ډېر څه لیکل شوي دي، خو زیاتره یو د بل تکرار دي او ځیني ډېرې ناسمې خبرې هم لري. پۀ دې آثر کښـې زیـار ایسـتل شـوی دی، چـې لـه مختلفـو منـابعو ددۀ د ژونـد او مبارزې یو انځور وکښل شي. دا انځور که په ځینو برخو کښې څۀ تتوالی ولري، امید دی چې پۀ آینده څېړنو کې دا تتوالی هم ځلا او نوې رڼا پیدا کاندي.

د مخفي کومې نمونې چې ما په دې مجموعه خوندي کړې دي که څه هم لږ دي، خو کیفي ارزښت یې د ایجاد د وخت شرایطو ته په پاملرنه د منني وړ دی.

د مخفـي پـه موجـود کـلام کښـې د شـکل لـه پلـوه څـه نوښـتونه لیـدل کېږي، دده په تر لاسه شویو پاڼکو کښې د شرقي شاعرۍ د شکلی عنعنو د پـالنې تـر څنګـه دده ز باتـه توجـه د پښـتو د ولسـي شـاعرۍ خپلـو ملـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوزانو ته ليدل کيږي. له دې محدو دو نمونو لوستونکي اټکل کولای شي چې مخفي په خپله شاعرۍ کې دغه ملي اوزان هم را خپل کړي دي او ددې تر څنګه ده زيار ايستلی چې له دغو و لسی کالبونو نه په استفاده په پښتو شاعرۍ کښې نويو شکلی ډولو نو ته لار وباسي. دده د کلام ځينی نمونې د پښتو ادبياتو په معاصره دوره کې د نوې شاعرۍ او نويو فورمونو د ترويج لومړنۍ ښې نمونی کيدای شي.

دده دا لړې نمونی هم له موږ سره دده د فکري مسيرونو په څرګندونه کښې مرسته کوي او دی موږ ته د يو هيوادپالل، د قومي او ملي اتحاد داعي او د اجتماعي، فرهنګي، اقتصادي او سياسي اصلاحاتو او پرمختياوو غوښتونکی روشنفکر او آزادی دوست شاعر په توګه را پيژني.

دا موجوده رساله که څه هم دده د ژوند او اند د څرګندولو په لاره کښې يو ابتدايي ګام دی، اميد دې چې نور پښتانه ددغه باغي او غازي شاعر د ژوند په نورو اړخونو تر دې زيات کارونه وکړي . د افغانانو او پښتنو علمي او فرهنګي مؤسسې مخفي، لکه څنګه چې دی خلکو ته معرفي کړي. موږ کولای شو چې دده په باب څيړنې په لاندې ډول پر مخ بوزو:

**الف:** که دافغانستان، پښتو نخوا او د پښتو نخواد قبايلي علاقو له ځينو ښاغليو سره د مخفي د کلام زياتی نمونې او يا ديوان وي، تر ټولو د مخه بايد دانمونې يوځوان را ټولې کا او د ديوان لټون يې و کړي او ديوان يې بايد ژر تر ژره چاپ شي، ځکه دا کار به د پښتو د معاصرو ادبياتو له څيړونکيو سره ډيره مرسته وکړي. ځکه که چېرې موږ د ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلام ځومره زیا تې نمونې ولرو هومره ز موږ ځپرونکې دده پر افکارو او ملی،مترقی نظر یاتو زیاتې خبرې او ډیر بحثونه کولای شي.

ب: له ښاغلي فضل زمان شلمان سره د اروانباد مخفی درې کتابونه شته، دغه کتابونه باید ژر تر ژره چاپ شي او زموږ د معاصر فرهنګ د مینه والو په واک کښې ورکړل شي.

ج: د کابل پوهنتون پښتو څانګه باید د مخفی د ژوند او آثارو د لا زیات تحقیق لپاره ځینو کسانوته د لیسانس د دورې د مانوګراف او یاد M.A د کورسونو فارغانو ته د تیزس د لیکلو لپاره دمخفي د آثارودرا ټولولو او څېړلو موضوع وټاکي.

د: د پیښور پوهنتون پښتو څانګه، پاکستان سټډی سنټر او ایریا سټډی سنټر هم کولای شی د مخفی د سیاسی مبارزو د بیلابیلو اړخو د څرګندولو او دده داصلاح طلب اجتماعی او فرهنګی شخصیت د ښوولواو ځلولو لپاره د M.phil تیزسونه پر انګریزی او اردو ژبو پرخپلو شاګردانو تهیه کاندي.

و من الله التوفیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوم لیك

پدې فهرست کې د ځایونو د نوم ځنګ ته ستورى ایښوول شوى دى او د کتاب مخې ته مو (ك) د مجلې (م) د جریدې (ج) مخففات ایښې دي.


**آ، الف**

آزاد، ابوالکلام (مولانا): ۲۲، ۴۱

آزاد افغانستان (ج) : ۸۹

آواز (م): ۶، ۲۶، ۵۲

اباسین (م): ۱۰۳،

ابراهیم(ع): ۱۱۲، ۱۱۶

اتحاد مشرقى (اخبار) ۲۶

*اټك: ۴۷

اټك کى اُسپار (ك): ۶۹

*اتمانزى: ۲۸-۲۹، ۳۱، ۷۳، ۷۵

اجمل خټك: ۳۱، ۶۹

احمد شاه (میا): ۷۴

احمد کاکا: ۷۸


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اڅکزی، عبدالصمد خان ۹۸
اسلانف، ماتیروس ګریګورویچ: ۷۳
اسام: ۲۵، ۴۶، ۵۴
اشنغر ګلونه (ك): ۵۰
اعلیحضرت امان الله خان غازی: ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۳۰، ۳۷، ۳۹-۶۴، ۸۸-۹۰
اعلیحضرت محمد نادرشاه غازی: ۲۴، ۳۸، ۴۱، ۴۴
*اسام: ۲۵، ۴۶، ۵۴
* افغانستان: ۱، ۲، ۳، ۶،۸، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۲۱، ۲۳، ۲۶، ۳۴، ۳۴، ۳۶، ۳۷،۳۸، ۴۰، ۴۲، ۴۳ - ۷۵، ۸۹- ۹۵، ۱۱۵، ۱۱۷، ۱۲۰
افغانستان (ك): ۱۱۶
افغانستان در پنج قرن آخیر (ك): ۳۸
افغانستان درمسیر تاریخ (ك): ۳۶،
افغان، ملا عبدالباقی کاکړ: ۶۸
افغان، غلام محی الدین: ۱، ۲، ۶۸
افغانی نویس، ملامحمد: ۶۸
اکبر، عبدالاکبرخان: ۸،۲۶، ۳۵، ۳۸، ۵۶-۵۷ -۷۱، ۷۴
اکسیرالقلوب(ك): ۸۳
* اکره: ۱۸، ۲۰، ۴۱ - ۶۶
الهلال: ۲۷، ۶۲
*امریکا: ۱۰۳
انجمن اصلاح الافاغنه: ۲۸، ۳۸، ۷۷، ۷۸،
انیس(اخبار): ۲۲، ۲۶، ۴۰، ۸۶، ۱۱۷
اوسني لیکوال (ك): ۱

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

* ایران: ۲۱

## ب

* بابل: ۱۱۳
* بټ خیله: ۵۷
*باجوړ: ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۲۴، ۳۰، ۳۸، ۳۹، ۴۰، ۴۳، ۵۷
باجوړی، بریالی: ۳، ۷، ۹، ۲۵، ۵۴، ۷۳
باچاخان او خدایي خدمتګاري (ك): ۲۹، ۶۸
باچاخان او فضل محمود مخفي (م): ۶۲
بختاني، عبدالله: ۶، ۱۹
بریښ (رفیع): ۶۹
بلا میټ: ۵۱
بوستان (ك): ۱۶

www.melitahrik.com 0777 400 116

## پ

*پاکستان: ۵۴، ۶۴
پښتانه شعراء دریيم ټوك (ك): ۱
پښتانه شعراء څلورم ټوك (ك): ۶، ۱۸، ۱۹
پښتانه لیکوال (ك): ۶، ۷، ۸، ۱۵، ۱۸، ۲۳، ۳۱، ۳۳، ۳۷، ۵۱، ۵۲، ۵۳، ۱۰۵، ۹۰، ۱۰۶
پښتو(م): ۷، ۸، ۱۶، ۵۵، ۵۷، ۶۴، ۹۸، ۹۹ ۱۰۱، ۱۰۲، ۱۰۴، ۱۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

پشتو ادب (ك): ۶۹
پښتو ادب او خدایی خدمتګاري(ك): ۸
پښتو ټولنه (م): ۱۹
پښتو اکیډیمی – پېښور یونیورستی: ۷
پښتو څېړني (ك): ۶۸
پښتون (م): ۴،۵، ۱۲، ۴۷–۴۸، ۵۰، ۵۴، ۷۲، ۸۶،
*پښـــــــتونخوا: ۲،۸، ۱۲، ۱۳، ۲۳، ۲۸، ۲۹، ۳۳، ۳۷،۵۱، ۵۵،
۵۶،۵۸،۵۹،۶۱، ۶۰، ۶۸، ۷۲،۷۴، ۷۹، ۸۵
پښتونخوا (ك): ۶۵
پښتنی ارمان (ك): ۹۳
پښتو معاصر ادبیات(ك):۶۸
* پغمان: ۳۹
پولاد، کرامت شاه: ۴۸
په اوسنی پښتو شعر کې د نوښت مسأله (ك): ۷۲
*پېښور: ۶، ۷، ۸، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۴۰،۵۷، ۶۰، ۸۲، ۱۲۱
*پینده خیل: ۱۴

## ت، ټ

تاج محمد خان(مولوی): ۲۹، ۳۵، ۳۶، ۶۱
تاریخچهٔ شعر پښتو (ك): ۶۹
تحریك شیخ الهند (ك): ۲۰، ۳۳، ۳۴
تراخه، خواږه (ك): ۸، ۷۱،۷۲، ۷۴
تیمرګره: ۵۱
ټکور، ګل افضل: ۳، ۶۲

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج

جدید نظم په پښتو کې (ك): ۵۳، ۷۵، ۷۶
جرګه (م) : ۴، ۳۲، ۵۹، ۶۷
*جلال آباد : ۲۶
جلبل، سعادت خان: ۷۴
جمهوریت (م): ۶۹
* جندول: ۳۰
جنبش مشروطیت در افغانستان (ك): ۳۴

## چ، څ

* چارسده: ۵، ۱۴، ۱۶، ۱۹، ۵۰، ۵۱، ۵۸، ۵۹، ۳۱، ۳۲، ۳۵
*چترال: ۳۹، ۴۸
څلمی، محمد ولی: ۴۳، ۵۲

www.melitahrik.com
0777 400 116

## ح

حاجی صاحب ( د ترنګزو – فضل واحد): ۲۳، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۴۴، ۶۱، ۶۷، ۸۰
حافظ عبدالمجید : ۲۷
حافظ شیرازی: ۱۱۵
حافظ، نصرالله: ۶، ۲۷، ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب الله (امیر): ۲۶، ۲۳، ۳۵
حمدالله: ۷۸
حنیف الله: ۷۸
حبیب الله کاکا: ۷۴
حبیب الرحمن: ۴۱
* حبیب گنج: ۴۱
حبیبی، پوهاند عبدالحی: ۳۴، ۶۹
حضرت محمد (ص): ۸۸
حسین احمد مدني (مولانا): ۴۱

خ
خادم، محمد اکبر: ۳۸، ۷۷
* خالونه: ۲۴و ۲۹
خان شهید ، خان عبدالصمد خان اڅکزی: ۹۸
خان عبدالولی خان: ۲۹، ۶۰
خان لالا افضل خان: ۶۴
خټك، افراسیاب: ۶۴
خټك راج ولیشاه: ۵۵
خټك، مغموم یارمحمد : ۴۳
خدایی خدمتگار تحریك (ك): ۷۸
خلیج فارس: ۲۱
خلیق، عبدالخالق: ۳، ۷۹
خلیل، حنیف: ۷۵
خلیل، همیش: ۶، ، ۱۸، ۳۱، ۵۲، ۵۳، ۹۰
خورشید (میجر): ۴۲

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د**

د آزادۍ تحريك او د پښتو شاعرۍ (ك): **۴۳**

د آزادۍ جنګ (ك):**۸، ۷۹**

د اباسين چپې (ك): **۹۰**

د ادبياتو په لړ کې (ك): **۸**

د اشنغر ګلونه (ك): **۱۵، ۵۰ؤ ۵۱**

د افغان ياد(ك): **۶۹**

د افغانستان د ليکوالو انجمن (م): **۲**

د افغانستان او روسي ترکستان سفرنامه (ك): **۸، ۲۶، ۷۱، ۷۵**

داوي، عبدالهادي: **۶۸**

د پښتو ننني ادب(ك): **۶۹، ۷۳**

د پښتو د ننني ليکوالو کيسې او نکلونه (ك): **۷۳**

د غلام محی الدين افغان افکار او آثار (ك):**۲**

* د فارس خليج: **۲۱**

د قلم خاوندان (ك): **۵۲**

د مخفي ديوان (ك): **۸۰-۸۱**

د مهتمم ژوند (ك): **۲۹**

د ميړني اولس ادبيات (ك): **۷۰**

* دوکړه : **۴۴**

د هشنغر ادب (ك): **۷، ۱۹، ۵۰، ۷۱**

* دهلي: **۲۷، ۴۵، ۴۶، ۵۴،۵۶،۵۵**

* د هند نيمه وچه: **۳۳**

* ديـــــــر: **۵، ۱۶،۲۹، ۳۰،۳۱، ۳۹، ۴۴، ۴۵، ۵۱-۵۶، ۴۴، ۴۹، ۵۰، ۵۱، ۵۲ – ۵۴**

(c) ketabton.com: The Digital Library

* دیوبند: ۱۸، ۱۹ ، ۳۳

## ډ

ډاکه: ۴۱
* ډنډ بابو قره: ۱۴، ۳۰، ۴۰

## ر

رځړ: ۳۰
رښتین، پوهاند صدیق الله: ۵،۷ ، ۱۴ ، ۲۲،۲۴ ، ۲۹ ، ۳۰،۳۶ ، ۴۳، ۵۰، ۵۶، ۶۷، ۸۰، ۸۲، ۱۱۹
رشید ، عبدالخالق: ۳
رفیع، حبیب الله (بریښ): ۲۸، ۶۷
* زوړکي: ۴۲
روهی، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: ۶۸
رهبر (م): ۱۱۱
رویداد لویه جرګه (ك): ۲۴، ۹۵

## ز

زاخیلی، راحت: ۶۸
زما ژوند او جدوجهد (ك): ۳، ۸، ۲۱، ۳۶، ۳۸، ۵۴، ۶۲
زما ژوند ژوندون (ك): ۹۸
زموږ غازیان (ك): ۴۳، ۵۲

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه او زما زمانه (ك): ۷۹
زيار، دوکتور مجاور احمد: ۱، ۷۰

## ژ

ژبپالنه (ك): ۲۸

## س

سراج الاخبار افغانيه (ج): ۱، ۶۸
سرخپوش تحريك او پښتو ادب (ك): ۷
سليم، سليم الرحمن: ۷، ۱۵، ۱۶، ۱۹، ۲۱، ۲۲، ۲۷، ۳۰، ۳۳، ۵۴-۵۶، ۶۶، ۸۱
سندهی، عبيدالله: ۲۳، ۳۷
*سوات: ۳۹، ۴۸
سهيم، نورمحمد: ۳، ۷۲
سيد محمد ميان (مولانا): ۲۰
سيف الرحمن(مولوی): ۳۴، ۳۶، ۶۱

www.melitahrik.com 0777 400 116

## ش

شاعر په قوم کې څه حيثيت لري؟ (م): ۷۲
شاه جهان (نواب): ۲۴
شاه عالم خان: ۲۷
شاهين، سلما: ۵۳، ۷۵، ۷۶
شخصيات سرحد (ك): ۴۰، ۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


شـــلمان، فضـــل زمـــان: ۹، ۱۴، ۱۹، ۲۰، ۲۲، ۲۴، ۲۷، ۲۹، ۳۰، ۳۱- ۳۳، ۳۶- ۳۸، ۴۰، ۴۳، ۵۳، ۵۶، ۸۳ – ۸۳، ۱۲۱

شنکر گل (مولوی) : ۲۹

شهاب الدین (خان جندول): ۳۰

شیر محمد خان: ۱۸، ۲۰

شینواری، سرمحقق محمد اکبر : ۷۰

ص

صابر، محمد شفیع: ۹، ۴۰، ۵۳

صالح محمد (مولوی): ۶۸

صدیق: ۴۱

صوفی، محمد یوسف : ۷۷

ط

طلوع افغان (اخبار): ۶۹

طایر، محمدنواز: ۱۸

ع

عبدالاکبر ۵۶، ۶۷

عبدالعزیز(مولوی): ۳۴-۳۶، ۶۱

عبدالغفور، اخی: ۷۳

عبدالغنی خان: ۸، ۲۵، ۴۲، ۴۵، ۵۴، ۵۵، ۷۵

عبدالقیوم خان: ۷۷


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالکریم (ډاکټر): ۴۳
عبدالوحید : ۸
عذیرګل (مولانا): ۴۰
عرفان (م): ۳، ۳۶
عیسی (ع): ۱۱۲، ۱۱۴

## غ

*غازی آباد: ۳۱، ۶۶، ۷۰
غبار، میر غلام محمد: ۳۵، ۳۹
غمګین، اشرف: ۶، ۱۸، ۴۸
غنی الرحمن: ۵۶،

www.melitahrik.com
0777 400 116

## ف

فتح الرحمن: ۱۹، ۲۶، ۲۹، ۴۰، ۵۴، ۵۶
فخرافغـان، خـان عبـدالغفارخان (باچاخـان): ۳، ۴، ۸، ۲۱، ۲۸، ۳۳، ۳۴، ۳۷، ۴۰، ۴۲، ۵۸- ۶۰، ۶۱، ۷۰، ۷۳، ۷۴،
فرعون: ۹۹، ۱۱۱
فرهنګ زبان و ادبیات پښتو (ك): ۱۴
فرهنګیالی مبارز(ك): ۱۰
فرهنګ میر محمد صدیق: ۳۶
فضل اکبر: ۵۶
فضل ربی (مولانا): ۲۳، ۳۳، ۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


فضل کریم: ۷۶

فضل شاه باچا: ۲۸، ۷۹

فضل معبود: ۴۴، ۵۵، ۵۶، ۹۶

فضل معبود (کشرباچا ګل): ۷۹

*فلسطین: ۱۱۲

**ق**

قاضی ګل، سید الیاس: ۱۶

قتاشخیل، شهریار: ۴۹

**ك**

*کابـــل: ۳، ۵، ۶، ۸، ۱۲، ۲۱-۲۵، ۲۹، ۳۰، ۳۶، ۳۷-۳۹، ۶۴، ۶۵، ۷۰، ۸۴

کابل (م): ۵، ۷، ۱۴، ۲۴، ۴۹، ۹۱، ۱۰۹

کابل پوهنتون: ۱، ۲، ۷، ۶۸

* کوږ پاڼ: ۷۹

* کامه: ۴۱، ۶۵

کاموی، عبدالسلام: ۶۷

کشککی، برهان الدین: ۲۳

کفایت الله (مولوی): ۴۰

کاکړ، عبدالباقی (ملا): ۶۷

کلکانی، حبیب الله: ۳۸، ۶۲

* کلکته: ۴۰

کندهاری، میر محسن: ۶۷

* کومبر: ۵۶


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګ

*ګدر: ۲۸، ۳۱
ګلدستهٔ خادم (ك): ۷۶
ګلستان (ك): ۱۶
ګیرس، ګیورك فیودو روویچ: ۶۸، ۷۱-۷۲

## ل

لار (م): ۵، ۱۴، ۷۷
*لاهور: ۲۰، ۵۳
*لکړو: ۲۸
*لندن: ۱۰۹
*لوګر: ۲۳، ۲۹، ۳۳

## م

ماسټرعبدالکریم: ۵، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۲۹، ۳۴، ۴۰، ۵۰، ۵۴، ۶۱، ۷۱
*مالتها: ۱۸، ۲۲، ۲۵، ۲۷، ۲۸، ۳۰، ۳۲، ۳۵، ۴۱
ماموند (قبیله): ۱۴، ۱۵، ۱۶
*مانهوګی: ۵، ۱۵، ۱۶، ۴۰، ۴۳، ۵۰، ۵۲، ۵۳، ۵۴
محمد صاحبزاده: ۳۹، ۶۵
محمد (ص): ۱۱۲
محمودالحسن: ۱۸، ۳۲

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخفـی، فضـل محمـود: ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰-۲۶، ۲۸-۲۹، ۳۰، ۳۱-۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۸، ۳۹-۴۱، ۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۵، ۴۶-۴۷-۴۹، ۵۰-۵۳-۵۵-۵۶، ۵۸-۵۹، ۶۰-۶۱-۶۹-۷۰، ۷۱-۷۹، ۸۱-۸۹، ۹۳، ۹۶، ۱۰۰، ۱۰۴، ۱۰۶، ۱۰۸، ۱۱۰، ۱۱۶، ۱۲۴-۱۲۷

مخفی د نوي او آزاد شعر د پيلامه ګر په توګه: ۶۷-۶۹

مخ په مخ (ك): ۷۳

* مردان: ۳۱

مستغنی، عبدالعلی: ۶۷

* مسقط: ۲۴، ۲۵، ۳۳، ۳۴

* مصر: ۱۱۱

* ملکنډ: ۲۹

منږك (مورږك) نامه (ك): ۸۰، ۱۰۱

موسی (ع): ۱۱۱، ۱۱۴

مومند (قبيله): ۱۴، ۱۵، ۴۱

* ميدان (دير): ۴۲

## ن

نصرالله خان (نايب السلطنه): ۳۵، ۳۶

نمرود: ۹۹

* ننګرهار: ۳۹

ننګرهاری، محمد ګلاب: ۶، ۷، ۴۹، ۵۳، ۸۷

نور محمد خان: ۱۴، ۱۵، ۱۲

نوميالي پوهان او غازيان (ك): ۵، ۱۶، ۲۱، ۲۸، ۲۹، ۴۹



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هـ

*هشنغر: ۱۶، ۲۳، ۳۷
*هنــد، ۱۳، ۲۲، ۲۶، ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۷، ۳۹، ۴۱، ۴۳، ۴۴، ۵۲، ۵۳، ۵۴-۵۶
هیواد (و): ۶، ۴۹
هیوادمل، زلمی: ۳۰، ۳۶، ۴۶

## ی

یوسفزی(ق): ۵، ۱۲
یونیورستي بك ایجنسی (م): ۶، ۲۱


www.melitahrik.com
0777 400 110

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ماخذو فهرست

(۱) آزاد افغانستان: د جوزا د ۱۷ می ګڼه، پیښور، ۱۳۳۳ هـ ش.

(۲) احمد کاکا: خدایي خدمتګار تحریك، کابل، ۱۳۶۹ هـ ش.

(۳) اکبر، عبدالاکبر خان: د روسي ترکستان او افغانستان سفرنامه، پیښور، (د چاپ کال نه لري).

(۴) اکبر، عبدالاکبرخان: خوارږه تراخه، پیښور، ۱۹۵۸م.

(۵) انیس (اخبار) : ۱۵ ګڼه، کابل، ۱۳۱۱ هـ ش

(۶) باجوړی، بریالی: د پښتونخوا نامتو شاعر او مبارز فضل محمود مخفي، کابل (مجله) ۳، ۴ ګڼه ۱۳۶۶ هـ ش.

(۷) بختاني، سرمحقق عبدالله: پښتانه شعراء څلورم ټوك، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۶ هـ ش.

(۸) پښتني آرمان، لومړی ټوك، کابل، ۱۳۴۴ هـ ش.

(۹) پښتون (مجله)، د جون د ۱۷ مي نیټې ګڼه، پیښور، ۱۹۴۷م.

(۱۰) پښتون (مجله)، د اکتوبر ګڼه، پیښور، ۱۹۲۸م.

(۱۱) پښتون (مجله)، د اګست د لومړۍ نیټې ګڼه، ۱۹۳۹م.

(۱۲) پښتون (مجله)، د اګست د ۲۲ مي نیټې ګڼه، ۱۹۴۵م.

(۱۳) ټکور، ګل افضل: باچاخان او فضل محمود مخفي، جرګه (مجله) د میزان – عقرب ګڼه، ۱۳۶۴ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۴) ځلمی، محمد ولی: زموږ غازیان، د افغانستان د علومو اکادمی، کابل، ۱۳۶۸ هـ ش.

(۱۵) حافظ، نصرالله: ارواښاد مولانا فضل محمود مخفی، د آزادۍ د بلې ډیوې پتنګ، آواز (مجله) ۱ ګڼه، کابل ۱۳۵۷ هـ ش.

(۱۶) حبیبی، عبدالحی: جنبش مشروطیت در افغانستان، پشاور، ۱۳۷۷ هـ ش.

(۱۷) حبیبی، عبدالحی: تاریخچهٔ شعر پښتو، طلوع افغان، ۴۲ ګڼه، ۱۳۱۵ هـ ش.

(۱۸) خادم، محمد اکبر: ګلدستهٔ خادم، پیښور، ۱۹۳۷م.

(۱۹) ختک، افراسیاب: سرحد تاریخی خاکه، پښتو (مجله) د اپریل، می، جون، ګڼه، ۲۰۰۵ م.

(۲۰) خلیق، عبدالخالق: د آزادۍ جنګ، پیښور، ۱۹۶۱م.

(۲۱) خلیق، عبدالخالق: زه او زما زمانه، پیښور، ۱۹۶۸م.

(۲۲) خلیل، حنیف: مخ په مخ، پیښور، ۱۹۹۵م.

(۲۳) خلیل، همیش: پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، بیلابیل چاپونه، پیښور، لومړی چاپ ۱۹۵۸ م، آخر چاپ، ۲۰۱۲م.

(۲۴) خلیل، همیش، د اباسین چپی، پیښور، ۱۹۵۷م

(۲۵) داوی، عبدالهادی: سرحد و افغانستان، کابل، ۱۳۹۱م ش.

(۲۶) رښتین، پوهاند صدیق الله: د یو پښتون ادیب مرګ، کابل (مجله) ۶مه ګڼه، ۱۳۲۶ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۷) رښتین، پوهاند صدیق الله: د مهتمم ژوند ، یونیورستي بک ایجنسی، پیښور، ۱۹۸۸م.

(۲۸) رښتین، پوهاند صدیق الله: نومیالي پوهان، یونیورستي بک ایجنسی، پیښور، ۱۹۸۷م.

(۲۹) رفیع، حبیب الله (بریښ): د پښتو ننني ادب، د افغان یاد ، د زلمي هیوادمل په زیار، کابل پوهنتون، ۱۳۶۰ هـ ش.

(۳۰) رفیع، حبیب الله: ژبپالنه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۶۱ هـ ش.

(۳۱) روهي، کاندید اکادمیسین، محمد صدیق: پښتو معاصر ادبیات، پښتو څېړنې، کابل، ۱۳۶۷ هـ ش.

(۳۲) رهبر (مجله) د مي د ۸ مې ګڼه ۱۹۵۷م.

(۳۳) زیار، پوهاند دوکتور مجاور احمد: مخفي د نوي او آزاد پښتو شعر د پیلامه ګر په توګه، جرګه (مجله)، ۴ ګڼه ۱۳۷۰ هـ ش.

(۳۴) سلیم، سلیم الرحمن: غازي مولانا فضل محمود مخفي، پښتو (مجله) د مي، جون ګڼه پښتو اکیډیمي، پیښور، ۱۹۸۱م.

(۳۵) شاهین، دوکتور سلما: جدید نظم په پښتو کې، پښتو اکیډیمي، پیښور، ۲۰۰۳م.

(۳۶) عبدالصمد: زما ژوند او ژوندون، کرښه، ۲۰۰۴م.

(۳۷) عبدالغفار: زما ژوند او جدوجهد ، کابل ۱۳۶۲ هـ ش.

(۳۸) عبدالولي خان: باچاخان او خدايي خدمتګاري، پیښور، ۱۹۹۳م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳۹) غبار، میرغلام محمد: افغانستان در مسیر تاریخ، چاپ دوم، کابل ۱۳۷۰هـ ش.

(۴۰) غمگین، محمد اشرف: د هشنغر ادب، هشنغر پښتو ادبي ټولنه، پېښور، ۱۹۸۰م کال.

(۴۱) لالا، محمد افضل خان: پښتون قامی وحدت، پېښور، ۱۹۹۶م.

(۴۲) کشککی، برهان الدین: رویداد لویه جرګهٔ دارالسلطنهٔ کابل، ۱۳۰۳ هـ ش کال.

(۴۳) ګیرس: د مېړني ولس ادبیات، د سرمحقق معتمد شینواري ترجمه، کابل، ۱۳۶۴ هـ ش.

(۴۴) ماتیروس، ګریګورووېچ اسلانف: د پښتو د ننني لیکوالو کیسې او نکلونه، مسکو، ۱۹۴۷م.

(۴۵) ماسټر عبدالکریم: فضل محمود صاحب مخفی، لار (مجله) د مارچ ګڼه، پېښور، ۱۹۵۷م.

(۴۶) مغموم خټک، دوکتور یارمحمد، د آزادۍ تحریک او پښتو شاعري، پېښور، ۲۰۰۷م.

(۴۷) هیوادمل زلمی: فرهنګ زبان و ادبیات پښتو جلد اول، وزارت تعلیم و تربیه، کابل، ۱۳۵۶ هـ ش.

(۴۸) هیوادمل زلمی: د غلام محی الدین افغان افکار او اثار، کابل پوهنتون، ۱۳۶۰ هـ ش.

(۴۹) هېوادمل، زلمی: د ارواښاد مخفی په باب د پښتو تذکرو لیکنو کره کتنه، جرګه (مجله) ۱ ګڼه، کابل، ۱۳۶۸ هـ ش.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

٥٠) Shalman, Fazal-e- Zaman: Maulavi Fazal Mahmud Makhfi, Celebrities of NWFP, Pakistan study center University of Peshawar, new Awan printers, ٢٠٠٥(

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کوروداني

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (عبدالرزاق رافت) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**